تعميې او تاريخي مادې

په پښتو ادب کې

ځېړنه:
د محمدمعصوم هوتک

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب ټول حقوق په خپروونکي اړه لري

* **تعمیمي او تاریخي مادې په پښتو ادب کې**
* څېړنه: **د محمد معصوم هوتک**

* خپروونکی: **علامه رشاد خپرندویه ټولنه**
* کندهار – افغانستان
* تلیفون: ۰۷۰۰۳۲۶۰۱۱
* ایمیل: mrohyal@yahoo.com

* کمپوز او ډیزاین: **روهیال کمپیوټر اداره**
* لومړی چاپ: ۱۳۹۱ ش – ۲۰۱۲ ع
* کچه: ۱۳/۵۰ × ۲۱ سانتي متره
* چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
* د مخونو شمېر: ۲۰۸
* د خپرونو لړ: ٦٨

د خپروونکي خبري

معما د ادبي فنونو په کتار کي هغه صنف دئ، چي ویونکی ئې د لوستونکي د سرګرمه کولو له پاره استعمالوي. په معماوو کي د صریحو او واضحو کلماتو پر ځای د پېچلو او داسي مغلقو کلماتو له استعماله کار اخیستل کېږي، چي د پوهېدلو له پاره ئې لوستونکی فکر او دقت ته اړتیا لري.

پښتو ادب چي د شرقي ادبي صنایعو څخه مالامال دئ، یو هغه ئې هم د معما پېچلی او سخت صنعت دئ، چي د دې ادب د سرلارو پخوانیو او اوسنیو له خوا په خورا مهارت کار ځني اخیستل کېږي. د پښتو ادب په پخوانیو دېواني آثارو کي خوشحال خان خټک یو ماهر او په دغه فن پوه استاد دئ، خوشحال د خپل انتقادي روش له مخي د پخوانیو معماویونکو پر معماوو ځکه انتقاد کړی دئ، چي د ده په وینا هغوی د دغه باریک او خورا پېچده علم په راز او رمز پوه نه ول. د ده په دېوان کي د معما خورا ډېري نمونې سته، چي تاسي به ئې په حاضره مجموعه کي مطالعه کړی.

تر خوشحال را وروسته د ده په کورنۍ کي دې صنعت ته خورا ډېر کار سوی دئ، د خټکو تر لویي فرهنګي کورنۍ چي راووزو د پښتو ادب نورو پوهانو او شاعرانو هم په دې برخه کي خپل بخت ازمویلی دئ، او تر خپله وسه ئې د خپل ذهن او استعداد په اندازه د معما جوړولو نیلی ځغلولی دئ.

حاضره مجموعه په پښتو ادب کي د معما ویلو پر فن لیکل سوې ده. دغه اثر دوې خاصي ځانګړتیاوي لري، یوه ئې دا ده چي تر دې دمه په دې عرصه کي د معما یو ځای کولو کوښښ نه دئ سوی، د دې اثر ښاغلي څېړونکي استاد محمدمعصوم هوتک کوښښ کړی دئ، چي د پښتو ادب ټول هغه شاعران

راوپېژني چي د معما په اړخ کي ئې پښتو ادب ته لږ و ډېر څه ورکړي دي. خو تر دې بله ښه ځانګړتیا ئې دغه ده، چي د کتاب لومړی څپرکی د معما پوهني او معما څېړني تیوریکي بحث ته ځانګړی سوی دئ. نو ویلای سو، چي په پښتو ژبه کي په دغه کمیت او کیفیت د معما په باب کار نه وو سوی، او دا لومړی اثر دئ، چي دغي موضوع ته ځانګړی سوی دئ.

موږ د دې اثر ښاغلي څېړونکي او د پښتو ژبي محتاط محقق استاد محمد معصوم هوتک ته د دغه اثر د لیکلو له امله مبارکي وایو او د لویه خدایه غواړو چي د پښتو ژبي او ادب په عرصه کي دي د استاد قلم همداسي روان او جاري وي، پښتو دي خدای د دغسي خدمتګارو او مستحقو استادانو له قلمه نه بې برخي کوي.

مطیع الله روهیال
د علامه رشاد خپرندویه ټولني مشر
۱۸/ زمری/ ۱۳۹۱ش

د کتاب د پيل تاريخي قطعه

مـا چــي نيــت د دې کتــاب د کــښلو وکــړ
"قلـم" وويــل "خــدمت" تــه يــم تيــار
"اراده"سوه وارخطا"هل" ځني وخوت
ول: توکـل کــړه، پــه ژوندنــسته اعتبــار

حل:

د تکملي عمل: (قلم = ۱۷۰) + (خدمت = ۱۰۴۴) = ۱۲۱۴

د تخرجي عمل: (اراده = ۲۱۱) - (هل = ۳۵) = ۱۷۶

د دوهمي تکملي عمل: ۱۲۱۴ + ۱۷۶ = ۱۳۹۰

* * *

د دې کتاب په ليکلو مې د ۱۳۹۰هش کال د لېندۍ (قوس) پر شپاړسمه = د ۲۰۱۱ع کال د ډسمبر پر اوومه د چارشنبې په ورځ په اوشاوا، انټاريو، کاناډا کي پيل وکړ او د همدې کال د ډسمبر مياشتي پر اووه ويشتمه (د مرغومي (جدي) پر شپږمه د سه شنبې په ورځ د سهار پر اته نيمو بجو مې پای ته ورساوه. د بشپړېدو قطعه مې په پای کي راوړې ده.

* * *

فهرست

۱. باسمه تعالی........................ ۱۰

لومړی څپرکی

۲. د پیل خبري........................ ۱۲
۳. تعمیه معما........................ ۱۷
۴. د معماوو او تاریخي مادو شکلونه........................ ۱۹
۵. تبدیلي معما........................ ۱۹
۶. عددي معما........................ ۱۹
۷. حروفي معما........................ ۱۹
۸. وچ کلک بې معنا بې مفهومه کلمات........................ ۱۹
۹. ساده عددونه........................ ۲۰
۱۰. ساده توري........................ ۲۰
۱۱. ادبي تلازمات........................ ۲۱
۱۲. ښایسته ترکیبونه........................ ۲۱
۱۳. د کلماتو اعجاز........................ ۲۱
۱۴. مطائبات........................ ۲۴
۱۵. معما په لویدیځو ادبیاتو کې........................ ۲۶
۱۶. د معماوو متکامل شکلونه........................ ۲۷
۱۷. د ابجد (جمل) حساب........................ ۳۰

۱۸. کبیر ابجد (حساب الکبیر) ۳۱
۱۹. صغیر ابجد (حساب الصغیر) ۳۳
۲۰. وضعي ابجد ۳۳
۲۱. د معما او ځیني اړوند اصطلاحات ۳۵
۲۲. د تکملې عمل ۳۵
۲۳. د عددي تبدیل عمل ۳۵
۲۴. د تصحیف عمل ۳۵
۲۵. د تخرجې عمل ۳۵
۲۶. د تبدیل عمل ۳۶
۲۷. قرینه ۳۶
۲۸. ساده معما ۳۶
۲۹. مشوشه معما ۳۶
۳۰. بیینات او زُبُر ۳۶

دوهم څپرکی

۳۱. تعمیې د پخوانۍ دورې په ادب کي ۴۳
۳۲. روښاني ادب ۴۳
۳۳. د ارزاني خېشکي په کلام کي ۴۳
۳۴. د دولت لواڼي په کلام کي ۴۶
۳۵. د میرزا خان انصاري په کلام کي ۴۸
۳۶. د اخوند درویزه په مخزن الاسلام کي ۴۹
۳۷. د خوشحال خان خټک په کلام کي ۵۱
۳۸. د عبدالقادر خان خټک په کلام کي ۷۷
۳۹. د آزاد خان خټک په کلام کي ۸۱

۴۰. د ګوهر خان خټک په کلام کي ۸۱
۴۱. د کاظم خان شیدا په کلام کي ۸۲

دریم څپرکی

۴۲. تعمیې د منځنۍ دورې په ادب کي ۱۰۷
۴۳. د اخوند ګدا په کلام کي ۱۰۷
۴۴. د نواب محبت خان په کلام کي ۱۰۸
۴۵. د نواب الله یار خان په کلام کي ۱۱۰
۴۶. د پیر معظم شاه په کلام کي ۱۱۱
۴۷. د دادین شاعر په کلام کي ۱۱۲
۴۸. د ځمکنو د میا عمر صاحب په کلام کي ۱۱۳
۴۹. د علي خان په کلام کي ۱۱۳
۵۰. د یونس په کلام کي ۱۱۹
۵۱. د پیرمحمد کاکړ په کلام کي ۱۴۱
۵۲. د شمس الدین کاکړ په کلام کي ۱۴۱
۵۳. د صدیق په کلام کي ۱۴۲
۵۴. د سعید په کلام کي ۱۴۳
۵۵. د ابو القاسم په کلام کي ۱۴۶
۵۶. د میا فقیر الله صاحب په کلام کي ۱۴۷
۵۷. د حاجي جمعه بارکزي په کلام کي ۱۴۸
۵۸. د اخوند کبیر په کلام کي ۱۵۷
۵۹. د طالب رشید په کلام کي ۱۵۷
۶۰. د صدر خان خټک په کلام کي ۱۵۸
۶۱. د سکندر خان خټک په کلام کي ۱۶۴

٦٢. د قنبرعلي خان په کلام کي........................ ۱٦۵
٦٣. د فهیم په کلام کي.................................. ۱٦۷
٦۴. د افضل خان ختټک په کلام کي ۱٦۹
٦۵. د میرزا حنان بارکزي په کلام کي.................... ۱۷۰
٦٦. د علامه حبیب الله کندهار (حبو اخندزاده) په کلام کي.. ۱۷۷

ځلرم څپرکی

٦۷. تعمیې د اوسنۍ دورې په ادب کي.................... ۱۷۹
٦٨. د مولوي صالح محمد هوتک په کلام کي ۱۷۹
٦۹. د ابوالفیض مولوي عبدالغفار بریالي په کلام کي ۱۸۱
۷۰. د علامه رشاد په کلام کي.............................. ۱۹۰
۷۱. د خالق رشید په کلام کي ۱۹۵
۷۲. زما (هوتک) په کلام کي.............................. ۱۹۵
۷۳. د لیکوال چاپ او ناچاپ آثار ۲۰٦

باسمه تعالی

دانشـمند د معــما په عـلم پوه دی
د ابجد په حساب څه خبر نالوستی
(خوشحال خان خټک)

په پښتو ادب کي د تاريخي نېټو او تعميو څرګندونه دومره زياته نه ده. زموږ فاضل استاد علامه رشاد رحمة الله عليه هغه شاعران چي په مؤلفاتو کي ئې د ابجد په حساب تعميې او تاريخي نېټې راغلي دي "يونس، خوشحال خان، کاظم خان شيدا، ميرزاحنان بارکزی، عليخان اشنغری، بېدل، ملا مير يحيی، اخوند کبير، بوعليشاه، عبدالقادرخان خټک، دولت لواڼی، طالب رشيد، صدرخان خټک، فهيم، افضل خان خټک او فدا محمد شيرزاد" او"حاجي جمعه بارکزی" راښوولي دي[1].

د دغو شاعرانو په کلام کي د راغلو تعميو او تاريخي مادو ثبت په بېلا بېلو خطي او چاپي نسخو کي دومره متنوع او رنګارنګ دئ، چي زه ئې د دې کتاب کښلو ته وهڅولم. د دغه رنګارنګ ثبت د ملامتۍ اوله ګوته خو

---

[1] وګ: د حاجي جمعه بارکزي د دېوان سريزه: ۷ مخ. ما پر دغو يادو سوو شاعرانو برسېره د نورو پښتنو ليکوالو او شاعرانو کتابونه هم پر کتلي او د خپل مطلب مواد مي ځني راټول کړي دي.

له معمول سره سم کاتبانو ته نیول کېږي. خو په څنګ کي ئې د چاپي دېوانو د ترتیبوونکو مسئولیت هم د هېرولو نه دئ. زما په ګډون زیاترو مصححینو د شاعرانو د کلام په ثبت کي لازم دقت نه دئ کړی.

ما په دې حاضر کتاب کي د پښتو ادب له هغو آثارو څخه چي ما ته ئې د کتلو موقع برابره سوې ده، تاریخي مادې او تعمیې رااخیستي دي او په ثبت کي مي تر خپله وسه پوري لازم دقت کړی دئ.

دا کتاب به د هغو محققینو او د پوهنتونو د محصلینو کار اسانه کړي چي د څېړني په جریان کي د دغو تاریخي نېټو او تعمیو د لوستلو او پر هغو باندي د استناد کولو اړتیا محسوس کړي. دوی به مجبور نه وي چي د شاعرانو او لیکوالو دېوانونه او آثار پاڼه په پاڼه وپلټي.

څرنګه چي دا کتاب د تعمیو بحثونه لري، نومي د کتاب د شروع کولو او بشپړولو تاریخونه هم په معماوو کي ولیکل. هیله ده زما دا خواري او مښود د یو چا په درد وخوري. د تېروتنو په صورت کي د دوستانو د نظرونو لار څارم.

محمدمعصوم هوتک

۲۷ ډسمبر ۲۰۱۱ع

اوشاوا – انټاریو – کاناډا

لومړی څپرکی

د پیل خبري:

پښتنو ته د پوهې او علم کاروانونه د شمال، شمال ختیځ او لوېدیځ پر لار راغلي دي. وروسته دوی په خپله له دغو علمي کاروانو سره یو ځای او کله کله لا د کاروانو په مخ کي جنوب ته سفرونه کړي او د پوهني روڼاوي ئې هورې خپرې کړي دي. له جنوب څخه په راستنېدلو کي هم تش لاس نه دي راغلي او ښه پوره توښه ئې ورسره راوړې ده. د دغي راکړي ورکړي په نتیجه کي هنري و فرهنگي، مذهبي و دیني توښې له یوه ځایه بل ته انتقال سوي دي او د دغي فرهنگي تبادلې له اسیته د دې سیمي په نورو ژبو کي ښه مغزنه خو په پښتو کي یو څه غنیمت زېرمه په میراث پاته سوې ده. د فرهنگي زېرمو لومړنیو ایجادوونکو د پوهي په حاصلولو کي هغه علمي نصاب پاللی وو، چي محتوی یا په ننني ژبه، منځپانگه ئې له دودیزو علومو او په تېره بیا دیني او مذهبي پوهنو څخه جوړه سوې وه. ادبي ایجادیات مو هم د دغو پوهنو لرونکو پوهانو پر لاس منځ ته راغلي دي او طبیعي ده چي د دغو ایجادیاتو په منځ ته راتگ کي د عربي او پارسي ژبو اغېزه بېخي ډېره څرگنده ده. دغه ایجادیات زموږ د اوسنۍ ادبي ودانۍ تاداوونه دي. موږ که هر راز علمي و ادبي ودانۍ جوړوو، یا مو جوړه کړې ده، تاداو او بنسټ ئې هماغه دئ، چي بیان مو کړ. د دغه تاداو هراړخېزه څېړنه پراخه ده او زه ئې یوازي د ادبي او شعري برخي پر یوه فني اړخ یو څه رڼغېږم.

پښتنو شاعرانو چې موږ ته کومه کتبي زېرمه راپرې ایښې ده، د هغې په تانسته کې هغه مواد کار سوي دي چې شاعرانو له عربي او ګاونډيو ژبو څخه رااخیستي دي. د دغي زېرمې شننه او څېړنه د دغو موادو له پېژندنې، پوهېدني او زده کېدني پرته ممکنه نه ده. د دغي اړتیا له اسیته زموږ په دوديزو نصابو کې د دغو پوهنو تدریس ته زیاته پاملرنه سوې وه او د ادبیاتو څانګه مو هم د دغه نصاب له چوکاټ سره عیاره سوې وه. زموږ د ادبیاتو طالب العلمانو عروض و قافیه لوستله او بدیع و بیان ئې زده کاوه. زموږ په پښتو شعر کې د پخوانیو ادبي ژانرونو کارول د شاعر په ادبي کمالاتو کې ګڼل کېدله. د ادبي فنونو د اوج زمانه په فارسي او پښتو ادب کې د هندي سبک د پیاوړتیا همزولې ده. دغه سبک په هندوستان کې د مغولي شاهانو په دوره کې او په پارس کې د صفوي واکمنانو په زمانه کې ډېر پیروان وموندل.

کله چې پښتنو ته د معاصرو پوهنو اروپایي آثار د لوی هندوستان له لاري د استعماري قوتونو پر لاس د دوی د استثماري اهدافو په خاطر راورسېدل، زموږ پر تدریسي نصاب خو ئې اغېزه وکړه، مګر د دغه نصاب اصولو ته ئې ډېر بدلون ورنه کړ. په افغانستان کې د معاصري ښووني لومړي ګامونه په سراجي عصر کې د حبیبیه مدرسې په جوړولو سره پیل سول، نو د دغي مدرسې په تعلیمي نصاب کې پر نوو پوهنو سربېره زاړه مضامین هم شامل ول. مولوي صالح محمد هوتک (۱۳۳۹ش مړ) چې د دغي مدرسې طالب العلم او لومړی پښتو ښوونکی وو، د مدرسې په نصاب کې شامل مضامین داسي راښیي:

ګوره فضل د سبحان — پر موږ سوی بې پایان
ښه امیر ئې دئ راکړی — پر رعیتو مهربان

مدرسه ئې بِنا کړې   پکښې لولي هَلوکان
د دې نوم حبيبيه دئ   پاک الله دې سي پاسبان
مضامين ئې دا دي وروره   چې زې تا ته کړم عيان
اول سر ئې دينيات دئ   چې دين ټول سي په روښان
تجويد علم ئې دويم دئ   چې صحيح لولي قرآن
عربي او فارسي دواړه   عجم سوه عرَبيان
پنځم خپله پښتو راغله   ښه ئې وايي کابليان
تاريخ علم هم پکښې دئ   خصوصاً بيا د افغان
نقشه جات واړه په لولي   د انګريز هم د جاپان
د حساب علم اتم سو   پر طريق د انګلستان
نهم خپل رقوم سياق دئ   چې همه سي ميرزايان
لسم کار ئې مشاقي ده   ټوله دي خوشنويسان
انګريزي و اُردو واړه   سو جواب د هندوستان
قواعد او ورزش ګوره   هر هلک ئې پهلوان

په دې نصاب کې د نورو عصري پوهنو پرڅنګ (تجويد، سياق، مشاقي، ...) هم شامل ول.

په برتانوي هندوستان کې د استعماري خوځښتونو تر اغېزې لاندې په دغه پراخه سيمه کې خورا غښتلې استعماري او اروپايي ضد روحيه واکمنه سوه. د دغې سيمې منورينو له استعمار سره د ضديت له اسيته ټولو اروپايي ارزښتونو ته په کرکه کتل او هغه ئې له خپلو ملي او اسلامي ارزښتو سره په تضاد کې ګڼل. دا روحيه هغه وخت لا پياوړې سوه چې د اسلامي خلافت مرکز ترکيه د دغو استعماري ځواکونو تر يرغل لاندې کمزورې سوه او د اسلامي خلافت مرکز ئې کمزورى او ورپسې له منځه يووړ. دې کار په سيمه کې اسلامي ارزښتونو ته خطر توليد کړ او په

عکس العمل کي ئې د دوديزو افکارو څښتنانو ډله پیاوړې کړه. د هند د لويي وچې پر خپلواکي غوښتونکي خوځښت باندي هم د دغه مذهبي ذهنيت اغېزه زياته برجسته سوه. ديني علماوو، مذهبي پېشوايانو، روحاني حلقو ټولو د اروپايي استعماري قوتونو په مقابل کي بيرغي پاڅونونه وکړل او توري ته ئې لاس واچاوه. د مذهبي او اسلامي ذهنيت دغي برلاسۍ يو بل کوچنوټی قشر د ځان له پاره خطر وګاڼه. دا قشر د هغو منورينو ډله وه چي د خپل هيواد اعتلاء ئې په نوو افکارو، د مدنيت په نوو انکشافاتو او د عصريت په نوو مزاياوو کي ليدله. البته د دغه قشر منځ ته راتګ د هغي مذهبي تنګ نظرۍ لازمي نتيجه وه چي ځينو افراطي متعصبينو د ټولو نويو او مدني پديدو په مقابل کي ښووله.

په شعري دنيا کي د هندي سبک تر کمزوره کېدلو وروسته په شعر کي د ادبي صنايعو او د هغو په لړ کي د معما جوړولو او تاريخي مادو ويلو دود ته هم پاملرنه لږ سوه. دا نه پاملرنه دې اندازې ته راکښته سوه چي د ايران د معاصر ادب يوه مخکښ استاد جلال الدين همايي وليکل چي: "ساختن معما و حل کردن آن جز تلف کردن وقت و بيهوده کاری نتيجه ای ندارد و تنها به درد کسی می خورد که بيکار در گوشه ای مثل زندان افتاده باشد"[(۱)].

د سياسي، اجتماعي او فرهنګي کشمکش دغه لړۍ زموږ تر زمانې پوري راوغزېدله او زموږ د ټولني منورينو ته ئې د مذهبي افراطيونو د افراطي اعمالو د غندني پر ځای، له ټول پښتواني ژوندوژواک، پښتواني علم و فرهنګ، پښتواني دود و دستور، پښتواني شعر و ادب سره د مخالفت روحيه ورکړه. دا روحيه چي کله د (نوي و زاړه) تر منځ د مجادلې په نامه تعبير ورنګول سوه، نتيجه ئې دا راووتله چي زموږ تعليم يافته وو هري پښتوانۍ

---

(۱) همايي جلال الدين؛ فنون بلاغت، تهران ج ۱، ص ۳۴۰، د انټرنيټ پاڼو په حواله.

حادثې ته په انقلابي توګه شا وګرزوله. زموږ منورينو عربي ژبي ته په قصدي توګه په کږه سترګه وکتله. د پښتو ادبي علومو زده کړه ئې د وخت ضياع او د ارتجاع نخښه وبلله. دې ناوړه ذهنيت په افغانستان کي د ټور تر پاچاګښتې وروسته خورا بې جلوه زور واخيست او په نوو ادبي او ژبنيو علومو ځينو سمبالو ماهرانو په وياړ سره وويل چي نور د ارتجاعي ساينس فورمولونه دلته ځای نه لري، موږ مترقي ساينس رواجوو. د دغه انحطاط په انډوخر کي پښتون لالا تر بل هر چا مخ ته ولاړ او ځينو خو لا په وياړ سره اعلان وکړ چي: "غزل ته ئې طلاق ورکړ او پر ځای ئې نوی شعر باب کړ". د پوهنتونونو له نصاب څخه د عروضو، قافيې، بديع او بيان تدريس وايستل سو. دا کار ئې د خپل مترقيت په اثبات کي د فخر وړ وباله.

د دې انحطاط ناوړي نتيجې ډېر ژر موږ په دا خپلو ګناهکارو وليدلې. اوس په ټول هيواد د ګوتو په شمېر داسي کسان سته چي د پښتو ادب او پښتو متونو په تدريس کي دي کار ځني واخيستل سي او هغه هم د بوډاتوب څپېړو پر مخ وهلي دي.

زه چي کله کله له ځان سره د دغي دورې پر نتايجو باندي فکر وکړم، وارخطا سم چي زموږ د تاريخ، ژبي او ادب راتلونکي متخصصين به په دغه منحط فکر او پروګرام سره څنګه وتوانېږي چي له پښتو اول لاس مدارکو څخه استفاده وکړي.

تر دغو مقدماتي خبرو وروسته به په دې څپرکي کي پر تعميه، ابجد او د معماوو پر ځينو اړوندو اصطلاحاتو وږغيږو.

تعمیه معما

تعمیه په لغت کې "پټولو او پوښلو" ته وايي (غیاث). په ادب کې معما ویلو ته ویل کېږي. د ادب په اصطلاح کې مُعَما هغه کلام ته ویل کېږي چې په هغه کې یو نوم، نېټه یا یو مطلب د رمز او ایما په شکل راوړل سوی وي او په څر ګند ډول نه وي بیان سوی خو په دغه پټ او مرموز بیان کې شعریت او له سلیم ذوق سره برابرول او د ناوړو اوږدو الفاظو څخه ځان ژغورل ئې لوی شرط دئ. په معما کې یو مطلب پټ بیانېږي او له دغه پټ حالت څخه راایستل ئې د قلب، تشبیه، تصحیف، د ابجد حساب (جُمَل) او نورو عملیو له لاري سر ته رسېدلای سي.

د معماوو په جوړولو کې د کلماتو لیکني شکل ته اعتبار ورکول کېږي او د تورو وینګ په پام کې نه نیول کېږي. دغه سبب دئ چې په معماوو کې د راغلو کلماتو حرکتونه (زور، زېر، پېښ، مد، تشدید، تخفیف او نور سکنات) د اعتبار وړ نه دي. د معماوو تورو (حروفو) اساس یا (ماده) او د دغو تورو مخ و شا ته کولو او اوړلو ته د هغو شکل او صورت ویل کېږي.

د معماوو جوړولو عملیې درې ډوله دي:

هغه عملیې چې د معما د (مادې) د حاصلولو (تر لاسه کولو) له پاره کارېږي، تحصیلي عملیه نومېږي، هغه چې د معما د شکل و صورت د بشپړولو له پاره کارېږي، تکمیلي عملیه او هغه چې نه د معما په (ماده) او نه ئې په (شکل و صورت) کې کارېږي بلکي کار ئې یوازي د معما د حلولو

اسانه کول وي، تسهیلي عملیه نومېږي. په تسهیلي عملیه کي انتقاد، تحلیل، ترکیب او تبدیل راتلای سي.

د ابجد په تورو سره د تاریخي نېټو له بیانولو څخه یو هدف دا وو، چي په نېټه کي د تېروتني امکانات رالږ کړي. یوازي په عدد که کومه نېټه ولیکل سي، د غلطیو امکان ئې زیات وي خو که پر څنګ ئې نوموړې نېټه په تورو سره هم ولیکل سي، د اعتبار درجه ئې لوړېږي. دغه سبب دئ چي زموږ په پخوانیو اسنادو کي په تورو سره د سنو او نېټو لیکل باب ول. په حسابي او حقوقي سندو کي به، چي په پارسي ژبه به لیکل کېدل او اوس هم لیکل کېږي، کله د کوم عدد یا رقم د لیکلو اړتیا پېښه سوه، نو به ئې د هغه عدد (مناصفه) ورسره لیکله. د مثال په توګه: "... مبلغ پنجاه هزار و هشت صد و دوازده روپیه که مناصفه آن بیست وپنج هزار و چهارصد وشش روپیه میشود، از درک ...". په دې ډول به په ارقامو کي د غلطیو امکان لږ ېدلی.

په سنو او کلونو کي به له شمسي سنو سره د هغو معادِل قمري سنې راوړل کېدلې. "در سال یکهزار و سه صد و نودویک هجری شمسی که مطابق آن یکهزار و چهار صد وسی و سه هجری قمری میشود،...".

په ابجد تورو کي د کلونو او نېټو له ویلو څخه مراد همدغه د غلطیو مخنیوی وو.

له معماوو څخه پر یوه ادبي مشغولا سربېره د وخت د واکمنانو له خوا د مکتوبونو او فرمانونو په لیکنه کي د (شِفر) په توګه هم کار اخیستل کېدی. دغه راز مکتوبونو اوفرمانونو ته (معمانامه) ویل کېدله.

د معماوو او تاریخي مادو شکلونه

معماوي درې ډوله دي:

تبديلي معما:

په دغه معما کې یوه کلمه راوړل کېږي خو مراد په کومه بله ژبه کې د هغې معادِله کلمه (معنا) وي. د مثال په توګه (لمر) کلمه په معما کې راوړل سوې وي، مګر مطلب ئې (شمس) کلمه وي.

عددي معما:

د ابجد له تورو او نورو عددونو سره تړلې وي.

حروفي معما:

د تورو له یو ځای کولو، قطع کولو، ایسته کولو او اټکل و ګومان کولو سره تړلې وي.

په پښتو ادب کې چې کومې معماوي او تاریخي مادې زما په ستر ګه سوي دي، د هغو جوړښت په دې ډول دئ:

وچ کلک بې معنا بې مفهومه کلمات:

د دغه راز کلماتو څخه تاریخي مادې جوړول په خوشحال خاني ادبیاتو کي ډېري موندلای سو.

خوشحال خان خټک او د ده د کورنۍ غړو دغه راز تاریخي مادې په نظمونو کي راوړي دي. (غفا = ۱۰۸۱هـ ق)، (حصغ = ۱۰۹۸هـ ق)، (غفو = ۱۰۸۶هـ ق) او نور چې تاسي به ئې وروسته نور مثالونه هم ولولی.

په پارسي ادب کي هم د دغه راز تاریخي مادو مثالونه سته چې یو مثال ئې د بلخي ابن سینا د زېږېدلو، د علومو د کسب او مړینې قطعه ده:

حجـــة الحـــق ابـــو علی ســـینا
در "شـجع" آمـد از عـدم بـه وجـود
در "شـصا" کسب کـرد علـوم (را)
در "تکـز" کـرد ایـن جهـان بـدرود

د "شجع" ابجدي ارزښت (۳۷۳هـ ق)، د "شصا" دا (۳۹۱هـ ق) او د "تکز" ابجدي ارزښت بيا (۴۲۷هـ ق) دئ.

ساده عددونه:

د دغه راز تاريخي مادو مثالونه په پښتو ادب کي زيات دي. دولت لواڼی د ميرزا خان انصاري د مړيني پيښه په بيت کي داسي راوړې ده:

د دکن په جنگ شهيد شو خوشنود او سه
په تاريخ د زرځلـو ښت د ده گـــذر وو

نور مثالونه به ئې پر خپل ځای ولولی.

ساده توري:

ځيني تاريخي مادې د الفبې له ساده تورو څخه جوړي سوي وي او که د هغو تورو ابجدي ارزښتونه سره جمع سي، مطلوبه سنه ځني راوزي. په مثال کې د دولت لواڼي دغه تاريخي قطعه راوړو، چي د رشيدخان روښاني د مړيني کال پکښې ښوول سوی دئ:

زړه مـي نـه کـه پـه بېلتـون د اشـنا صـبر
پــه فــراق بــه ژاړم لکــه ابــر
رشـيد خان د ټـول صـاحب تـر جهـان تير شـو
ښايـسته صـورت ئـې ونيـو وطـن قبـر

او د مړيني نېټه ئې دا ډول بيان کړې ده:

که تاريخ حساب ئې غواړې له ابجده
په دا حـرف غين و نون، ح و کړه صبر

(غ = ۱۰۰۰) + (ن = ۵۰) + (ح = ۸) = ۱۰۵۸هـ ق.

ادبي تلازمات:

په ځينو معماوو کي له پېښي سره په ارتباط کي داسي کلمات غوره کېږي چي له اصلي حادثې سره تلازم ولري. د مثال په توګه پر کندهار باندي د افشار نادر بخوله (فاجعه) د پارس واکمنانو ته د خوشالۍ پېښه وه او هغوی ئې تاريخي ماده (الخير فی ما وقع = ۱۱۴۸ هـ ق) ومونډله. پر پښتنو باندي دغه کال د درنو مصيبتو او فاجعو پيل وو، ځکه ئې (لا خير فی ماوقع = ۱۱۴۸هق) وباله. په دواړو مادو کي له پېښي سره د راغلو کلماتو تر منځ تلازم سته.

ښايسته ترکيبونه:

په ځينو معماوو کي له اړوندي پېښي سره مناسب ښکلي ترکيبونه راوړل کېږي. لکه د اروابناد ريشاء د مړيني په نېټه کي چي ما (هوتک) ويلې ده:

د مـرګ و کـال تـه مـې کچکـول د هنـر وګـرزاوه
پــه صــد قاتو يـــې پَلَــه درَنــه د ښــو وختــه
"قلم" خپـل سر وروبا خښـه "محبت" تـاج کـړ هديـه
د مـرګ نېټـه يـې "غـم"، "ژړا" پــه ابجـد و ختــه

حل:

(ق = ۱۰۰) + (م = ۴۰) + (غم = ۱۰۴۰) + (ژړا = ۲۰۸) = ۱۳۸۸ش

د کلماتو اعجاز:

د معماوو ماهران د کلماتو په انتخاب کي له فوق العاده مهارت ته کار اخلي. داسي کلمات، آيتونه، مقولې او له اعجازه ډک ترکيبونه راوړي چي له يوې خوا له ټاکلي موضوع سره ادبي التزام لري او له بلي خوا ئې د ټاکلي

پېښې نېټه يا د ټاکلي شخص نوم هم له يو لړ محاسبو او تبديل و تصحيف و تکميل و تخريج وروسته لوستونکي ته په لاس ورکړي. د (الخير في ما وقع) او (لاخير في ما وقع) مثالونه تاسي لوړ ولوستل.

علامه حبيب الله قندهاري مشهور په حبو اخندزاده د امام غزالي رحمة الله عليه منهاج العابدين په پښتو نظم ژباړلی دئ. د دغي ژباړي نوم ده په خپله (معراج السالکين) يا (اخلاق التائبين) ټاکلی وو. د دغه دوهم نامه له ابجدي ارزښت څخه د کتاب د ژباړي کال (۱۲۳۶هـ ق) راوزي[1]. دی د کتاب په پای کي وايي:

کتاب شکر دئ تمام شه ... نا آرام خاطر آرام شه
نوم ئې ښايي چي تعين ... شي معراج السالکين
يا "اخلاق التائبين" شي ... چي تاريخ ځني مبين شي
مکتوبي حرفونه ياره ... له دوهمه اسمه شماره
په حساب د ابجد ... کړه معلوم د دوی عدد
تېر کلونه له هجرته ... په دا شمار وو نېک سيرته

(۲۷۷ مخ، د ۱۳۴۰هق چاپ، لاهور)

لکه تاسي چي به ئې وروسته ولولی مولوي صالح محمدهوتک د خپل خدای بخښلي نيکه د مړيني ماده (جد مغفور) کي موندلې ده چي د تاريخي مادې کلمات په مهارت سره انتخاب سوي دي.

ميرزا حنان بارکزي يوه قطعه ويلې ده چي په هغې کي ئې داسي کلمات اوډلي دي چي هم ئې معناوي او مفاهيم سره نږدې دي او هم ئې ابجدي قيمتونه. قطعه داسي ده:

په عدد د ابجد به درته وايم
يو څو چيزه برابر دي په حساب

---

[1] په دغه نامه کي تر (ب) دمخه همزه په حساب کي نه راځي.

که "کشمش" دي که "نخود "[1] په حساب یو دي
هم "بنگي" او "ملحد "یو دئ په دا باب
د "دراز" و د "بې عقل" عدد یو دئ
هم "کاکل" و "گژدم" یو، مه کړه عتاب
د "عدو " او د "سگ" یو رنگه عدد دئ
"خواجه سرا " او "خرسیاه" سره تناب
هم "صهبا " او "پیاله می" په یوه رنگ دي
"قلعه"، "برج" هم برابر په دا اسباب
په حساب کي دغه "لوک" او "مایه" یو دئ
هم دغه رنگ برابر "سهو "، "حساب"

(دېوان: ۲۰۱مخ، د ۱۳۸۸ل چاپ)

د افغانستان د میدان وردگو ولایت یو کلی (رشیدان) نومېږي. د دې کلي اوسېدونکي هغه هوتک دي چي د نادر افشار په تاړاک کي ئې نیکونه او پلرونه فارس (اوسني ایران) ته شړل سوي او د دوی اولاده د امیر عبدالرحمان خان په پاچهي کي بیرته وطن ته راستانه سوي ول. د هغه وخت دولتي واکمنو هغو کسانو ته ښه نظر نه درلود چي د امیر عبدالرحمان خان د حریف غازي محمدایوب خان په پلوي ئې توري وهلي وې. په دغو کسانو کي خپل پلرني هیواد ته دغه راستانه سوي مهاجر هم شامل ول. دغي ډلي له هوتک توب څخه انکار وکړ او خپل ځانونه ئې په قوم

---

[1] کشمش او نخود تل یو ځای د وچي مېوې په توگه خوړل کیږي.
په دغه قطعه کي د راغلو کلماتو ابجدي ارزښتونه دا سي دي:
کشمش = نخود = ۶۶۰، بنگي = ملحد = ۸۲، دراز = بې عقل = ۲۱۲، کاکل = گژدم = ۷۱، عدو = سگ = ۸۰، خواجه سرا = خرسیاه = ۸۷۶، صهبا = پیاله می = ۹۸، قلعه = برج = ۲۰۵، لوک = مایه = ۵۶، سهو = حساب = ۷۱.

(رشيدان) وبلل[1]. تر دغه نوم اړوني وروسته دوی ته پر همدا اوسنۍ مېنه باندي د مېشته کېدلو اجازه وسوه. يوه باريک بين او نکته سنج تن د دغو دوو نومونو تر منځ رابطه داسي موندلې ده:

قوم راشيدان = ۷۱۲

مفقود هوتکان = ۷۱۲

يا:

مفقود هوتکيها= ۶۷۷

قوم راشيديها = ۶۷۷

مطائبات:

په ځينو معماوو کي مطائبات د طنز و مزاح په شکل کي کلمات راوړل کېږي. د دغه ډول معماوو مثالونه په پښتو ادب کي زما په سترګه سوي نه دي خو د هرات مشهور شاعر حاجي اسماعيل ګوزک دغه راز تعميې په پارسي ژبه ويلي دي، چي يوه ئې دا ده:

شد شهد ماده تاريخ او | هست ای گوزوک شهيد کيرخر

گر ترا تاريخ شمسی آرزوست | بيت ثانی شد معمای دگر

تای تف رابررخ زاهد فگن | پس بمالش سر سراپای ذکر

(شاعر آزاد: ۱۸۳مخ، چاپ ۱۳۴۸ ق)

دا تاريخي ماده د هرات د هغه وخت د والي پر وژلو ويله سوې ده. شاعر له دغه والي سره خورا زيات مخالفت درلود. د معما حل داسي دئ: د (تف)، (ت = ۴۰۰) که د زاهد پر مخ (ز = ۷) ولوېږي، (۴۰۷) لاس ته راځي. دغه حاصل چي د (ذکر) پر سر و پښو(ذ = ۷۰۰) + (ر = ۲۰۰) = ۹۰۰ د (بمالش) په قرينه ور زيات سي (۱۳۰۷ش) کال ځني جوړېږي.

---

[1] د پښتو په ځينو لهجو کي (رشيدان) د (راشيدان) په بڼه هم تلفظ کېږي او د کلمې د لومړي توري زوَر (فتحه) په الف سره اوړي.

ما یو وخت له یوه ظریف پښتانه سره په پښتو ادب کې د دغه راز معماوو پر ستنه والې خبرې کولې. ده راته وویل چې خوشحال خان دغه راز معما ویلې ده او په مثال کې ئې دا بیت وو ایه:

یو مې یار دوهم گلزار ساز و ساقي شته
نن مې کـــــومه اند یښـــنه له غین و میمَ

له دې معما څخه خو د خوشحال خان مراد (غم) دئ مگر زما مخاطب پښتانه (غین) آلت مخصوص او (میم) مقعد وگاڼه. ما په جواب کې ورته وویل چی دغه مطائبه به نو ستا په حساب کې ثبت کړو، نه د خوشحال.

✶✶✶

معما په لوېديځو ادبياتو کي

په انگرېزي کي معما ته (Riddle) وايي او په دائرة المعارفونو کي ئې د دغه نامه تشريح داسي کړې ده چي:

(Riddle) هغه عبارت، پوښتنه يا جمله ده چي دوه رازه معناوي ولري يا ئې معنا څرگنده نه وي او پټه وي. په لرغوني انگرېزي شعر کي معماوي په پراخ ډول ترسترگو کېږي. ويل کېږي چي د انگرېزي شعر معماوي تر زياتي اندازې پوري دانگلولاتين ادب (Anglo – Latin) يوه عنعنه ده چي د هغې دودوونکی الديلم (Aldhelm) گڼل سوی دئ. الديلم[1] بيا پخپله د ځلرمي، پنځمي ميلادي پېړۍ له لاتين شاعر سيمفوزيوس (Symphosius) څخه الهام اخيستونکی ښکاري. انگرېزي معماوي که څه هم اوږده ادبي سابقه لري خو دا اوسنۍ کيسۍ ډوله ټوټې چي د معما

---

[1] الديلم (۶۳۹ – ۷۰۹ع) چي په زړه انگرېزي کي د ايلديلم (Ealdhelm) په شکل ليکل کېدی، د لاتيني ژبي شاعر او د انگلوساکسون ادب عالم او د انگلستان په شيربورن کي د کليسا مشر وو. د ده د ژوند زمانه د اسلام د مقدس دين د بعثت د سر له کلونو سره برابره ده. نوموړي د روم په قوانينو، اسټرونومۍ، اسټرولوجۍ او د بېلابېلو کاليندارو (جنتريو) د حساب په آرټ کي ئې زده کړي کړې وې. دی په يوناني او عبري ژبو پوهېدی او پخپلو ليکنو کي ئې خورا ډېر لاتين سوي يوناني لغتونه کار کړي دي. ده د (Northumbria) پاچا ته يو ليک په لاتيني نثر کښلی وو او په هغه کي ئې ۱۰۱ معماوي ځای کړي وې. په دې کي يوه معما په ۸۳ کرښو کي ځای سوې وه. د (Northumbria) سيمه اوس په شمالي انگلستان او جنوب ختيځ سکاټلينډ کي شامله سيمه ده.

(Riddles) په نامه يادېږي له هغو پخوانيو سره دونده زيات نه وايي. د انګريزي معماوو لرغوني نمونې په هغه خطي مجموعه کي خوندي دي چي د پېريانانو د کيسو او ځينو شعرو او پندونو سره يو ځای په يوه مجلد کي ګنډل سوي دي او د انګلستان د (Exeter) ښار په لويه کليسا کي له يوولسمي عيسوي پېړۍ څخه ساتله کېږي. دغه مجموعه په زړو انګرېزي خطي نسخو کي يوه ډېره مهمه نسخه ده. د دغي مجموعې معماوي د کوچنيانو د سندرو په شکل او د هرزه او چټي کنايو په ښه جوړي سوي دي.

په لرغوني يونان کي د وينا يو ادبي شکل رواج درلود چي په هغې کي به ئې يو خيال يا مفکوره يا يوه کيسه او واقعي پېښه په يو راز غيرواقعي کيفيت کي بيانوله. دغه راز ويناته ئې (Metaphors) وايه. د مثال په توګه: "د دې سترګي د جواهرو په شان ځلېدلې". دغه راز ترکيبونه زموږ په ادب کي د تشبيه او استعارې تر نامه لاندي راځي. ميتافور هم يو راز استعاروي ترکيبونه ول. ارسطو (۳۸۴ – ۳۲۲ ق م) دغه ميتافور يا استعاره او معما (Riddles) يو له بل سره تړلي بلل. ده به ويل: "ښې معماوي موږ ته په مجموع کي غوره ميتافورونه په لاس راکوي ... ښه معما کولای سي چي د يوه ښه ميتافور له پاره لازم مواد برابر کړي".

د پوهانو په نظر معماوي (Riddles) يو نړۍ وال آرټ دئ چي بېلابېل کلچرونه په ځان کي رانغاړي. د هغو مثالونه موږ په فنلينډي، هنګري، د امريکا په هندي، چينايي، روسي، الماني او فليپيني کلچرونو کي موندلای سو.

د معماوو متکامل شکلونه:

د (Riddles) يا معماوو پر مختللی شکل (Puzzles) نومېږي. د معماوو د دغو دوو شکلونو تر منځ له مشابهتو سره سره ځيني توپيرونه هم سته.

د پزل په حلولو کي له مشخصو فارمولونو، چارټونو، قاموسونو څخه

استفاده کېدلای سي. د مثال په توګه منطقِي پزل (Logic puzzles) له لغاتو سره سروکار لري او د هغو د حل له پاره له یوه مخصوص تنظیم سوي جدول څخه کار اخیستل کېږي خو (Riddles) ریډل بیا د د تفکراو تصور او قیاس کولو مهارت ته اړتیا لري. د ریډل په انواعو کي انیګماز (Enigmas) په نامه یوه لوبه سته چي په استعاروي ژبه جوړه سوې وي او د حل له پاره ئې دقیق فکر کول لازم دي. ریډل هم ځانته مشخص اصول لري خو دا اصول د پزل په شان ساینټیفیک اصول نه دي. ریډل پر فکر و تصور باندي ولاړه معما ده خو پزل پر واقعیتونو باندي تکیه لري.

د (Puzzles) تر نامه لاندي اوس په نړۍ کي د کوچنیانو او لویانو له پاره په زرو ټوکه کتابونه هر کال چاپېږي. د (Puzzles) په شکل لوبي او ګېمونه د کوچنیانو له فکري ودي سره مرسته کولای سي. په دغو لوبو یا ذهني مصروفیتو کي حروفي جدولونه (Crosswords) هم راتلای سي. دغه جدولونه نن ورځ د نړۍ په ډېرو معتبرو ورځپاڼو او مجلو کي هره اونۍ موندل کېدلای سي. د حروفي جدولو حلول هم یوه فکري او ذهني مشغله ده او هم د هغو کسانو له پاره د وخت ژر تېرېدلو وسېله ده چي د کار او وظیفې په چاپیریال کي ئې د اوږده انتظار ساعتونه شامل وي. د ټکسي چلوونکي، د امنیتي پوستو کارکوونکي، زاړه متقاعدین او تنکي ماشومان هر یو له خپلي فکري وړتیا او لوړتیا سره سم جدولونه له ځان سره ګرځوي او په لازمو فرصتونو کي ځانونه په مشغولوي.

په امریکا کي د حروفي جدولونو مشهور ایجادوونکی او خپروونکی جان سیمسن (John.M.Samson) نومېږي. د ده له خوا جوړ سوي حروفي جدولونه (Crossword puzzles) په نیویارک ټایمز اخبار او نورو مشهورو ورځپاڼو کي خپرېږي. د شمالي امریکا په کتاب پلورنځیو کي د ده پنځه ویشت عنوانه کتابونه موندل کېږي چي ټول ئې د (Crossword puzzles)

جدولونه دي.

په افغانستان کي هم تر اوسنيو درو څلورو لسيزو جګړو دمخه په مجلو، جريدو او اخبارو کي په پښتو او دري ژبو حروفي جدولونه چاپېدل.



***

د ابجد (جُمَل) حساب

له (جُمل) څخه مراد د ابجد تورو په واسطه حساب کول دي. ابجد توري په حقيقت کي د عربي الفبې ټول حرفونه دي چي په اتو کلمو کي په دې ډول اوډل سوي دي:

ابجد – هوز – حطی – کلمن – سعفص – قرشت – ثخذ – ضظغ.

د ابجد تورو د پيدايښت په باب ډول ډول نظريې سته. تامس پاټريک هيوز (Thomas Patrick Hughes) په ډکشنري آف اسلام (۳ مخ) کي د ابجد تر نامه لاندي کښلي دي:

ترجمه: ابجد د يوه حسابي انتظام نوم دئ چي په هغه کي هر توری له يوه څخه تر زرو پوري مختلف قيمتونه لري. دا توري پر هغه ترتيب باندي اوډل سوي دي چي يهودانو تر څلورسوم ميلادي کال پوري کار څني اخيست. پر دغو تورو باندي شپږ نور توري د عربو له خوا زيات سوي دي. د القاموس په نامه د عربي فرهنګ مؤلف وايي چي د ابجد اول شپږ کلمې د ماد (Madyan – Midian) پاچهانو نومونه دي او وروستۍ دوې کلمې ئې عربو پر زياتي کړي دي[1]. ځيني بيا وايي چي د ابجد کلمات د عربي تورو د مخترع مورامير ابن مورا (Muramir ibn Murra) د اتو زامنو نومونه دي[2].

---

[1] ماد د يوه قوم نوم دئ چي تر ميلاد اووه سوه پخوا ئې د ماد دولت تاسيس کړ. دغه دولت د هخامنشيانو په لاس نسکور سو (دهخدا).

[2] المورا د يوې قبيلې نوم دئ چي د بنويم له اولادې څخه دي او مورا مير د الانبار سيمي اوسېدونکی وو. الانبار د عراق يو لوی ولايت دئ چي د دغه هيواد په لوېديځ

د "موادالتواریخ" مؤلف حسین نخجواني لیکلي دي چې د دغو تورو د ټاکونکي او د هغو د ټاکني زمانه په صحیح ډول معلومه نه ده. داسي ویل کېږي چې له جُمَل حساب څخه د کار اخیستلو زمانه د اسلام اوایلو ته رسېدلې ده. خو د موجودو اسنادو او شواهدو له مخي د الفبې تورو ته پاملرنه، د ابجد، هوز، ... په ترتیب د هغو اوډنه او په حساب کي ورڅخه کار اخیستنه تر اسلامي عصر راوروسته زمانه په ځان کي راکښېباسي.

د تاریخي مادو په جوړولو کي د الفبې له تورو څخه د ابجد په حساب ګټه اخیستل خاص مهارت او هنرمندي غواړي. د هر ناظم له وسه پوره نه ده. د ادب د اولنیو پوهانو په نظر خو دا فن د موسیقی، نقاشی په شان یو ظریف فن وو او په مستظرفه صنایعو کي شمېرل کېدی. د تاریخي مادو په جوړولو کي له زیاترو ادبي صنعتو څخه لکه تجنیس، ایهام، توریه او نورو څخه کاراخیستل کېږي.

د ابجدي تورو معادل عددونه پر څو ډولو دي چې مشهور ئې دا دي:

کبیر ابجد (حساب الکَبیر):

کبیر ابجد ته (جُمَل) هم وایي. د جمل توري داسي دي:

ابجد – هوز – حطی – کلمن – سعفص – قرشت – ثخذ – ضظغ.

د دغو تورو عددي قیمتونه (معادل) په دې ډول دي:

ا = ۱، ب = ۲، ج = ۳، د = ۴، هـ =۵، و = ۶، ز = ۷، ح = ۸، ط = ۹، ی = ۱۰، ک = ۲۰، ل = ۳۰، م = ۴۰، ن = ۵۰، س = ۶۰، ع = ۷۰، ف = ۸۰، ص = ۹۰، ق = ۱۰۰، ر = ۲۰۰، ش = ۳۰۰، ت = ۴۰۰، ث = ۵۰۰، خ = ۶۰۰، ذ = ۷۰۰، ض = ۸۰۰، ظ = ۹۰۰، غ = ۱۰۰۰.

کي پروت دئ او له اردن، سوریې او سعودي عربستان سره ګډه پوله لري. د دغه ولایت پایتخت الرمادي(Ramadi) ښار دئ. نور مهم ښارونه ئې فلوجه او حدیثه دي. – د ویکیپیډیا په حواله. م . هـ).

توروته د قیمت ورکولو اسانه لار دا ده چي لومړی باید د (ابجد، هوز، ...) کلماتو پرله پسې (مسلسل) وینګ په پام کي ونیول سي او پر هغه ترتیب باندي وویل سي لکه چي ما لوړ درته کښلي دي. بیا نو لومړیو لسو تورو ته باید په ترتیب سره له یوه څخه تر نهو پوري قیمت ورکړه سي. ورپسې لسو تورو ته باید په ترتیب سره (۱۰، ۲۰، ۳۰، ۴۰، ...) قیمتونه ورکول سي او وروستیو لسو تورو ته په ترتیب سره (۱۰۰، ۲۰۰، ۳۰۰، ...) قیمتونه ورکړه سي. دا ترتیب د ابو نصر فراهي (۷۴۰هـ ق مړ) [1] په یوه رباعي کي داسي راغلی دئ:

یگان یگان شمر ابجد حروف تا حطی
چنانکه از کلمن عشر عشر تا سعفص
پس آنگه از قرشت تا ضظغ شمر صد صد
دل از حساب جُمل شد تمام مستخلص

د کبیر ابجد اول لس عددونه (أحاد) دوهم لس عددونه (عشرات) او دریم لس عددونه (مآت) نومیږي.

د پښتو الفبې خاص توري د هغو د عربي قریب المخرج تورو قیمت لري. په دې ډول:

پ = ب = ۲
ټ = ت = ۴۰۰

---

[1] ابو نصرالدین مسعود بن ابوبکر فراهي مشهور په ابونصرفراهي (۷۴۹هـ ق = ۱۳۴۸ع مړ) د افغانستان په فراه کي زیږیدلی او د پارسي ژبي شاعر او قاموس لیکونکی وو. مشهور اثر ئې نصاب الصبیان نومیږي چي عربي لغات ئې په پارسي نظم پکښې معنا کړي دي. د نصاب الصبیان یوه زړه خطي نسخه زما په کتابتون کي سته. وايي چي ابو نصر فراهي مورزاده ړوند وو او د اکتاب به ئې د امالي په ډول (بل چا ته د ویلو له لاري) لیکلی وي.

چ = ج = ۳

څ = س = ۶۰

ځ = ز = ۷

ډ = د = ۴

ړ = ر = ۲۰۰

ژ = ز = ۷

ږ = ژ = ز = ۷

ښ = ش = ۳۰۰

همزه (ء) د الف قیت لري یعني (۱) دئ. کله کله ئې په محاسبه کي نه شمېري. مد لرونکی الف له (۱) سره مساوي دئ. مشدده (ی) کله پر دوو او کله پر یوه (ی) شمېرل کېږي.

د کلماتو حرکتونه (زوَر، زېر، پېښ) په حساب کي نه راځي خو که د معما جوړوونکی وغواړي چي دغو حرکاتو ته قیمتونه ورکړي نو بیا (زوَر) د (الف) یا (ه) په شکل، (زېر) د (ې) په بڼه او پېښ د (و) په ډول کارېږي.

صغیر ابجد (حساب الصغیر):

د صغیر ابجد (حساب الصغیر) توري او اړوند قیمتونه ئې داسي دي:

ا = ۱، ب = ۲، ج = ۳، د = ۴، هـ = ۵، و = ۶، ز = ۷، ح = ۸، ط = ۹، ی = ۱۰، ک = ۸، ل = ۶، م = ۴، ن = ۲، س = ساقط (صفر)، ع = ۱۰، ف = ۸، ص = ۶، ق = ۴، ر = ۸، ش = ساقط (صفر)، ت = ۴، ث = ۸، خ = ساقط (صفر)، ذ = ۴، ض = ۸، ظ = ساقط (صفر)، غ = ۴.

وضعي ابجد:

د وضعي ابجد عددي قیمتونه داسي دي:

ا = ۱، ب = ۲، ج = ۳، د = ۴، هـ = ۵، و = ۶، ز = ۷، ح = ۸، ط = ۹، ی = ۱۰، ک = ۱۱، ل = ۱۲، م = ۱۳، ن = ۱۴، س = ۱۵، ع = ۱۶، ف = ۱۷، ص =

۱۸، ق = ۱۹، ر = ۲۰، ش = ۲۱، ت = ۲۲، ث = ۲۳، خ = ۲۴، ذ = ۲۵، ض = ۲۶، ظ = ۲۷، غ = ۲۸.

په پښتو ادب کي د راغلو معماوو په حل کي له دغو وضعي قیمتو څخه کار اخیستل زما په سترګه سوي نه دي.

په پښتو او فارسي معماوو کي معمولاً له کبیرابجد (حساب الکبیر) څخه کار اخیستل کېږي. که د شاعر یا لیکوال مراد نور حسابونه وي، بیا په څرګنده توګه اشاره ورته کوي.

د ابجد له تورو څخه د لنډو لیکنو، د کتابو د سریزو او نورو مختصرو تعلیقاتو د مخونو د عددو پر ځای د متن له صفحو څخه د بېلولو په خاطر هم کار اخیستل کېږي. مثلاً اول مخ (الف)، دوهم مخ (ب)، دریم مخ (ج)، ... بلل کېږي.

٭٭٭

د معماوو ځینې اړوند اصطلاحات

د تکمِلې عمل:

تکمِله بشپړولو ته وایي. په معما کې د تورو د ابجدي قیمتونو جمع کولو ته وِیل کېږي.

د عددي تبدیل عمل:

د عددي تبدیل په عملیه کې د لاس ته راغلي عدد له پاره په معما کې د کار سوي قرینې له مخې یوه کلمه، یو عبارت، یو ترکیب، یا یوه جمله باید ومونډل سي. د مثال په توګه علامه رشاد رحمة الله علیه د حاجي جمعه بارکزي په یوه معما کې د (۳۰۴) عدد له پاره (د پیر دیدن ک) جمله مونډلې ده چې په ابجدحساب کې ئې د ټولوتورو مجموعي ارزښت له (۳۰۴) سره برابر دئ.

د تصحیف عمل:

د تصحیف په عملیه کې له کوم توري څخه ټکي ایستل کېږي، یا له یوه لغت څخه کوم توری لیري کېږي. مثلاً د شین له توري څخه درې ټکي لیري کېږي او (س) ځني جوړېږي. د تصحیف په عملیه کې هم باید د معما په بیت کې راغلې قرینه په پام ونیول سي.

د تخرجې عمل:

د تخرجې پر وخت له یوه عدد څخه بل عدد د ټاکلي قرینې پر اساس منفي کېږي.

د تبدیل عمل:

د عددي تبدیل عمل او د تبدیل عملیه یو مفهوم لري.

قرینه:

قرینه په لغت کي د دوو شیانو یا دوو مفاهیمو تر منځ معنوي مناسبت ته ویله کېږي (غیاث). په معما کي هغه کلمه، یا عبارت ته قرینه ویله کېږي چي لوستونکي ته د تکمِلې، تخرِجې، تصحیف یا تبدیل د عمل لارښوونه کوي

ساده معما:

ساده معما هغي معما ته ویله کېږي چي د حل له پاره ئې څوک مجبور نه وي له پورتنیو عملیو څخه کار واخلي. مثلا دا لاندي تاریخي ماده:

د دکن په جنګ شهید شو خوشنود او سه
په تاریخ د زر څلــو ېښت د ده ګــذر وو
۱۰۴۰هـ ق

مشوشه معما:

مشوشه معما د (ړندې معما) په نامه هم یادېږي. په دغه معما کي قرینه نه وي راوړل سوې او لوستونکی له حدس و ګومان څخه کار اخیستلو ته مجبور سي.

بیینات او زُبُر:

بینات د (بینة) جمع ده. معنا ئې روښانوونکي، روښانه اړخونه، رښتیني شاهدان، ... ده (دهخدا). په قرآن عظیم کي څو ځایه دغه کلمات راغلي دي او له بیینات څخه مراد د انبیاوو له خوا (معجزې) او له (زبر) څخه مطلب پر هغوی باندي نازلي سوي صحیفې او کتابونه دي.

په جفر کي د دغو دوو کلماتو استعمال بل راز دئ. د جفر په اصطلاح

کي د یوې کلمې د تورو تلفظ ته اعتبار ورکول کېږي. د مثال په توګه د (ج، ق، ل، ن) تورو تلفظ "جیم"، "قاف"، "لام"، "نون" دئ. په دغو تلفظونو کي د سر توري (زُبُر) او پاته نور توري "بینات" بلل کېږي. یا په یوه بل مثال کي:

د (محمد) کلمې توري (م، ح، م، د) د هغو د تلفظ په اعتبار (میم، حاء، میم، دال) بلل کېږي. د تلفظ د کښل سوي شکل د سر تورو ته (زُبُر) وايي او نورو پاته سوو تورو ته (بینات) وايي. د پورتني مثال په تلفظي څرګندونه کي (م، ح، م، د) ته (زُبُر) او (یم، اء، یم، ال) ته (بینات) وايي.

د الفبې په تورو کي (س) یوازنی توری دئ چي د (زبر) او (بیینات) ابجدي ارزښت ئې یو شان دئ.

س = سین

س = زُبُر = ۶۰

ین = بیینات = ۱۰ + ۵۰ = ۶۰

له دغي طریقې څخه د تاریخي نومونو په استخراج کي کار اخیستل کېږي. د شیعه مذهب عالم بهاءالدین محمدبن حسین عاملي مشهورپه شیخ بهائي (۹۲۵ – ۱۰۰۰هـ ق) په جعفري فقه کي خپل پارسي اثر (جامع عباسی) د صفوي پاچا لومړي شاه عباس (۹۹۶ ۱۰۳۸هـ ق) په نامه تالیف کړی دئ. په دغه کتاب کي ئې یوه قطعه راوړې ده چي په هغې کي د شاه عباس نوم د "بینات زُبُر" په قاعده له "خلدالله ملکه" څخه استخراج کېدلای سي. په دې ډول:

د (خلدالله ملکه) عبارت توري داسي تلفظ کېږي: (خا، لام، دال، الف، لام، لام مشدد، ها، میم، لام ، کاف، ها). د دغو کلمو زُبر چي ایسته سي، بینات ئې (ا، ام، ال، لف، ام، ام، ا، یم، ام، اف، ا) پاتېږي. د دغو تورو د ابجدي ارزښتو مجموعه داسي ده:

(۱ + ۴۱ + ۳۱ + ۱۱۰ + ۴۱ + ۴۱ + ۱ + ۵۰ + ۴۱ + ۸۱ + ۱) = ۴۳۹

د (شاه عباس) نامه ابجدي ارزښت هم (۴۳۹) کېږي.

د زُبُر په عملیه کي کله کله یوه کلمه یا جمله راوړل کېږي مګر د لیکوال مطلب د رمز په توګه کومه بله داسي کلمه وي چي ابجدي ارزښت ئې له دغي راوړل سوي کلمې سره یو شانته وي. البته په زُبُر کي د رمز او مرموز تر منځ رابطه او قرینه له ضروریاتو څخه ده. له قرینې پرته د پټي (مرموزي) کلمې یا جملې موندل ډېر سخت کار او حتی ناممکن کار دئ.

علامه رشاد رحمة الله علیه پخپل اثر (حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅی او د هغه کورنۍ)، ۱۳۵ – ۱۳۶مخونو کي د زبر په مثال کي د نواب محبت خان بړېڅي (۱۱۶۴– ۱۲۲۳هق) یو عربي شعر راوړی دئ:

اذا لـــم یبـــق فـــی الاســـلام آثـــار
جـــری مـــن مقلتـــی دمـــع کانهـــار
فقالـــت الهـــاتف: مـــن یظهرالـــدین
فجـاء الـصوت: " سـلطان الجهانـدار"

علامه مرحوم کښلي دي چي د (سلطان الجهاندار) ابجدي ارزښت (۴۴۵) کېږي چي دا قیمت د (شاه زمان ما) له ابجدي ارزښت برابر دئ. او ورپسې ئې زیاته کړې ده: "په دغه وخت کي نواب محبت خان دغه زبر وایه، په افغانستان کي د پاچهۍ پر تخت شاه زمان سدوزی (۱۲۰۷ – ۱۲۱۵هـ ق) ناست و او په هندوستان کي د مهاجمو پرنګیانو د نفوذ او استیلا د مخنیوي امید فقط له ده کېده".

علامه رشاد مرحوم د دغه زبر په باب اوږده تشریح ورکړې ده او د هغې په پای کي وایي:

"د اعلیحضرت شاه زمان سدوزي په باب بیان د زبر د قرینې په دود اوږدسو، چي ګوندي له "سلطان الجهاندار" څخه د "شاه زمان ما" په

مرادولو کي له درنو مطالعينو سره مرسته وکړي او له جهاندار څخه د ډهلي د مغول پاچا شاه عالم زوی، شهزاده جوان بخت مراد نه کړي.

دپښتو دېوان لرونکي شاعر قنبرعليخان[۱] د بينات پر قاعده ويلي دي:

عشق عدد د محـمدعلی د اسم
په ابجد د بينات شي د زړه سوبَ

(ديوان: ۲۵ مخ، د همېش خليل چاپ ۱۹۷۲ع د علامه رشاد د کتابتون)

علامه رشاد رحمة الله عليه د دغه دېوان پر يوه څنډه د دې بينات حل راوړی دئ چي زه به ئې له يو څه تفصيل سره دلته رانقل کړم.

د (محمد) ابجدي ارزښت (۹۲) دئ او د (علی) دا (۱۱۰) کېږي. د دواړو مجموعه (۲۰۲) راځي.

د (عشق) کلمې درې توري د بينات پر قاعده داسي محاسبه کېږي:
عين، شين، قاف

د دې دروتورو زُبُر، د سر اوازونه يعني (ع، ش، ق) چي ځيني ليري سي:

ين = ۶۰
ين = ۶۰
اف = ۸۱
ټول = ۲۰۱

دغه لاس ته راغلی عدد د (محمد) او (علی) د نومو له مجموعي ابجدي ارزښت (۲۰۱) سره د يوه (۱) په اندازه تفاوت لري او دا د معما کمزوري ښيي. د دې تفاوت د ليري کېدوله پاره زما (هوتک) په فکر

---

[۱] قنبرعليخان شيعه مذهبه پښتون وو. زه د ده د معماوو پر ادبي اړخ څېړنه کوم. عقيدتي خوا مې مراد نه ده (م. هـ).

شاعر د (علی) کلمه د (عالي) په ډول تلفظ کړې ده او په دې ډول ئې پر مجموعي ابجدي ارزښت يو عدد اضافه کېږي او (۲۰۲) ځني راوزي. (والله اعلم بالصواب).

بل مثال:

قنبرعليخان ويلي دي:

د الله په اسم ذات که فهم وکړې
يو الف دئ بله هې ده دواړه لامه
د الف عدد که شمار په بينات کړې
مساوي دئ د حضرت علي له نامه
دواړه لام و هې حساب په بينات کړې
ده نامه د محمد صاحب تمامه

(ديوان: ۱۰۸مخ)

حل:

– د (الف) بينات (لف) دئ او ابجدي ارزښت ئې (۱۱۰) کېږي.

د بينات په قاعده د (علي) ابجدي ارزښت هم (۱۱۰) راځي. په دې ډول:

د (عين) بينات (ين) = ۶۰

د (لام) بينات (ام) = ۴۱

د (يې) بينات (ی) = ۱۰

ټول = ۱۱۰

* * *

– د (الله) د دوو لامو بينات داسي دئ:

لام = ام = ۴۱

چي دوه چنده سي (۸۲) کېږي.

هې = ی = ۱۰

۸۲ + ۱۰ = ۹۲

د (محمد) ابجدي ارزښت هم (۹۲) دئ. په دې ډول:

م = ۴۰

ح = ۸

م = ۴۰

د = ۴

ټول = ۹۲

بل مثال:

چې الله د همه اسمو اسم ذات دئ
د الله الف عـــــلي په بينات دئ
(۱۲۴ مخ)

حل:

د الف بينات = لف = ۱۱۰

د علي ابجدي ارزښت: (ع = ۷۰) + (ل = ۳۰) + (ی = ۱۰) = ۱۱۰

* * *

د زبر و بينات پر قاعده ما (هوتک) هم يوه قطعه ويلې ده:

د وطـــن د خـــوني رف[1] موكنـــدهار دئ
شـــاهدان مـــي دي زُبـــر و بينـــات
حوالـــه بـــه د تـــاريخ پـــر پـــاڼو دركـــړم
پكـښې وگـــوره د ســيمي ټـــول حـــالات
پـــه قلـــم د كنـــدهار دي ليكـــل ســـوي
د دې ملـــک ټـــول حـــسنات و ســـيئات
چې رف نه وي، ټوله خونه كنډواله وي
پـــر رامـــات ســي مـــار، لـــړم خزنـــده جـــات

---

[1] د (رف) مجازي معنا (چت) ده او دلته په همدغه معنا سره كار سوی دئ.

خدای دي نـه نـړوي دغـه چـت هيڅکلـه
پـــر تـړلـــی مـــو حيـــات دئ هـــم ممـــات

حل:

د (کندهار) کلمې د تورو تلفظي بڼه داسي ده:

(کاف، نون، دال، ها، الف، را)

له دغو تورو څخه چي زُبُر (د سر توري) ووزي، بينات ئې داسي پاتېږي:

(اف، ون، ال، ا، لف، ا)

د دې تورو ابجدي ارزښت داسي دئ:

(اف=۸۱) + (ون = ۵۶) + (ال=۳۱) + (ا=۱) + (لف=۱۱۰) + (ا=۱) = ۲۸۰

د (رف) کلمې ابجدي ارزښت هم (۲۸۰) کېږي.

***

دوهم څپرکی

تعمیې دپخوانۍ دورې په ادب کې

روښاني ادب:

د روښاني ادب محتوی د روښاني غورځنګ د فلسفي افکارو توضیح او بیان ته وقف سوې ده. د دغه غورځنګ پیروانو د شعر شکلي او معنوي ښکلا ته دومره زیاته پاملرنه نه ده کړې او دغه سبب دئ چې روښاني ادبیات د هغه وخت د معمولو شعري صنایعو او بدایعو له مخې ډېر څه نه راکوي. خو له دې سره سره موږ د دغې دورې په اشعارو کې د خپل وخت د مروجو ادبي صنایعو څرک لرو او هنري خوا ئې یومخیزه باید نفي نه سي. د روښاني ادب د مطالعې په ترڅ کې د تعمیې او تاریخي مادو لومړنۍ بېلګې په همدغو آثارو کي تر ستر ګو کېږي چي زه به ئې په لاندي کرښو کي وڅېړم.

۱ - د ارزاني خېشکي په کلام کي:

د پښتوشعر و ادب موجوده دېواني پانګه له لسمي هجري پېړۍ څخه په منظمه توګه راپاته ده. دغه دوره د روښاني ادبیاتو د منځته راتګ زمانه

ده او د دې لړۍ د سر سړی ملاارزاني خېشکی دئ[1]. د ارزاني خېشکي کليات د ښاغلي ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي په سمونه او څېړنه د پېښور يونيورسيټۍ د پښتواکيډيمۍ له خوا په ۲۰۰۵ع کال خپورسوی دئ. ما د دغه کليات له سريزي او شروحو څخه د ارزاني په کلام کي راغلي تاريخي مادې رااخيستي دي.

د دغه کليات په ۷۴، ۷۵، ۱۵۵، ۱۵۶، ۲۰۶ او ۱۰۴۵ مخونو کي دغه تاريخي مادې د اړوندو مسايلو په ترڅ کي راوړل سوي دي.

د يوې الفنامې د ليکلو نېټه په څرګندو عددو سره کاږي:

فقير کوښلی دی دا شعر

په نه صد نود سـنه دی

(د سريزي ۷۴مخ)

په پښتنو کي سنې، نېټې او عددونه زياتره په فارسي ژبه بيانېږي. نن ورځ لا هم دغه عادت ژوندی دئ او د افغانستان پښتانه د زېږېدلو نېټې، د عسکري جلب تېرولو کلونه او د پاچهانو د سلطنت وختونه په فارسي ژبه وايي او د پښتونخوا اوسېدونکي بيا همدغه عددونه په اردو ژبه بيانوي. دا عادت د ژبنيو څېړنوله پاره خورا غوره موضوع ده او څېړني ته ئې د ژبپوهانو له خوا پاملرنه په کار ده.

د يوې غزلي د ويلو کال داسي راښيي:

ارزاني دا غزل کوښلی

په هزار و سه سـنه دی

(د سريزي ۷۴مخ)

---

[1] زموږ په ليکلو تاريخو او آثارو کي خېشکی د پارسي ژبي د ليکدود تر اغېزې لاندي "خويشکی" ليکل سوی دئ. د دغه نامس ليکدود دوام نوو اکاډيميکو قلموالو په ليکنو کي هم ليده کېږي چي زما په نظر د دغي کلمې د پښتو تلفظ سمه څرګندونه نه ده.

د دې غزلي د ويلو کال ۱۰۰۳هـ ق دئ. (د کليات ترتيبوونکي د ارزاني په کلام کي د "کوښلی" کلمه د "کښلی" په شکل هم ثبت کړې ده. د ليکدود دغه راز عدم تجانس د ژبي څېړونکي ته ستونزي پېښوي او نه پوهېږي چي شاعر به فی الواقع هم دغه کلمه په دوه ډوله تلفظ کوله او که دا به د خطاطانو لاسوهنه وي.

د يوې قصيده وشمي غزلي د ويلو نېټه ئې داسي ويلې ده:

ارزاني دا کلام کښلی
په الف تسعه سنه

(د سريزي ۷۵مخ)

۱۰۰۹هـ ق

د دغه بيت لومړی نيم بيتی د کلياتو د سريزي په ۲۰۶مخ کي بدل سوی دئ:

"ارزاني دا کلام کړی"

زه نه پوهېږم چي د دغه تصرف له اسيته گوته چا ته ونيسم؟

بل ځای:

ارزاني دا کلام کړی
په تاريخ د دوست دهغ

(د سريزي ۱۵۵مخ)

د تاريخي مادې "دهغ" ابجدي ارزښت (۱۰۰۹هـ ق) کېږي.

په يوه بل ځای کي د روښاني مسلک د مقاماتو د بيان په ترڅ کي وايي:

ارزانـي وينـا کـړه عـرض	اشـنايي د حـق ده فـرض
د دې عرض تاريخ وغواړه	پـه حساب لـه حرفـه يـرض

(د سريزي ۷۵مخ)

د (يرض) ابجدي ارزښت (۱۰۱۰هـ ق) دئ.

او د يوې بلې غزلې د ويلو نېټه ئې داسې بيان کړې ده:

دا غــــــزل په تاريخ کښلــى
په حساب د دوست "دغو" دى
غـــين زر دال ئې څـــلور دى
په شپږ ياد حساب د "واو" دى
(د سريزې ۷۵مخ)

مطلوبه نېټه ئې (۱۰۱۰هـ ق) ده. دغه تاريخي ماده يو څه نوښت لري او هغه دا چې شاعر پر تاريخي ماده (دغو) سربېره د هغې حل هم په شعر کې راوړى دئ.

۲- د دولت لواڼي په کلام کې:

دولت لواڼي د الهداد د مړيني نېټه داسې ويلې ده:

په يوه آهې ارواح لـــه تنه بېل شـــو
په تاريخ د غين و نون، ح، ئې سفر وو
(ديوان، سريزه نهم مخ، د کابل چاپ)

دغه معما د دولت لواڼي په ديوان (۲۱مخ) کې سمه نه ده ثبت سوې. د (غ) پر ځاى (عين) ليکل سوى دئ او ټوله مصرع داسې ده: "په تاريخ د عين، نون، ح، ى، سفر وو". له چاپي ثبت څخه د معما حل داسې راوزي:

غ	=	۱۰۰۰
ن	=	۵۰
ح	=	۸
ى	=	۱۰
ټول	=	۱۰٦۸

علامه پوهاند رشاد رحمة الله عليه د همدغه چاپي ديوان په سريزه (نهم مخ) کې د الهداد بن جلال الدين بن مياروښان د مړيني کال ۱۰۵۸هـ ق بللى دئ

او دا کال له هغه ثبت ځخه لاس ته راتلای سي چي د دې بحث په سر کي راووړ. " په تاريخ د غين و نون حې ئې سفر وو".

غ = ۱۰۰۰

ن = ۵۰

ح = ۸

۱۰۵۸هـ ق

د دغي قصيدې په يوه بل بيت کي ئې د ميرزاخان انصاري د مرګ نېټه هم راښوولې ده:

د دکن په جنګ شهيد شو خوشنود اوسه
په تاريخ د زر ځلـــو ښت د ده ګـــذر وو

د ديوان په ۲۲۳مخ کي د رشيدخان يوه ويرنه راغلې ده چي د سر دوه بيته ئې داسي دي:

زړه مـي نـه کـه پـه بېلتـون د اشـنا صـبر
پـــه فـــراق بـــه ژاړم لکـــه ابـــر
رشيد خان د ټول صاحب تر جهان تير شو
ښايـسته صـورت ئـې ونيـو وطـن قبـر

او د مړيني نېټه ئې دا ډول بيان کړې ده:

کـه تـاريخ حساب ئـې غـواړې لـه ابجـده
پـدا حـرف غـين و نـون، ح و کـړه صـبر

حل ئې:

غ = ۱۰۰۰

ن = ۵۰

ح = ۸

۱۰۵۸هـ ق

علامه رشاد د دولت د دېوان په سريزه (نهم مخ) کي کښلي دي چي رشيدخان د ميا روښان د لمسي الهداد بن جلال الدين لقب وو. دا لقب د هندوستان مغل پاچا جهانګير (۱۰۱۴ - ۱۰۳۷هـ ق) هغه وخت ورکړ چي الهداد ورته واردواره تسليم سو (۱۰۲۶هـ ق). تر دغي تسليمۍ دوه کاله وروسته الهداد بيا مغلو ته ياغي سو خو ماته ئې وخوړه. تر ماتي وروسته جهانګير وباخښه او وئې نازاوه[1].

تر دغي ويرني وړاندي ئې په يوه قصيده وشمه غزل او يوه بله غزل کي د مخلص پر مرګ هم ساندي ويلي دي چي په ترتيب سره په دې بيتو شروع کېږي:

غم ديده زړه مي محـزون شـو
پر (په) مخلص يار پسې خون شو

* * *

د مخلـص جـدايي کـړی يـم بـسيار خـوږ
زړه مـي دی د بېلتانـه پـه تيـغ افګـار خـوږ
د فـراق پـه تيـره تـوره لېنـده غـشي
کړم مخلص مهروی، زړه وړوني خوش ګفتار خوږ

د اريانتيا خبره دا ده چي په چاپي دېوان کي ئې دغه دواړي ويرني د حضرت علي کرم الله وجهه مرثيې بللي دي او غټ عنوانونه ئې پر کښلي دي او د چاپي تېروتنو په سمون ليک کي ئې اشاره هم نه ده ورته کړې.

۳- د ميرزاخان انصاري په کلام کي:

د ميرزاخان انصاري د دېوان د (واو) رديف په يوه غزله کي تر مقطع دمخه يو بيت سته، چي د تعميې په شکل ويل سوی دئ:

---

[1] ما د روايت مفهوم پخپلو کلماتو کي راخيستی دئ (هوتک).

گهي نون په دوه الف کښې
گـه د (هـ) د وړاندي (وو)
(۹۴مخ، د کابل چاپ)

د لومړي نيم بيتي مطلب (انا) دئ او د دوهم دا (هو).د دغه غزلي نوري قافيې (لَو، نَو، رو، پلو، پرتو، ...) دي.

۴- د اخوند درویزه په مخزن الاسلام کي:

د اخوند درويزه ننګرهاري(۱۰۲۸ هـ ق مړ) آثار که څه هم د روښاني غورځنګ او ادب پر خلاف ايجاد سوي دي، خو بيا هم د دغي دورې په ادبي پانګه کي شامل بلل کېږي. د مخزن الاسلام په "نکته شانزدهم" کي د نورالدين حمزه آذری بن عبدالملک طوسی[1] د يوې معما پښتو ژباړه سته. اصل معما په فارسي ژبه داسي ده:

درته جلباب عشق مست دو شاه خفته اند
مست نګردی بعـين عــــين بلا ګفته اند
(مخزن – ۱۶۳مخ د ۱۳۰۰هـ ق چاپ، دهلی)

اخوند درويزه دغه معما په پښتو ژبه داسي ترجمه کړې ده:

"د شـــــاه تر ځــــــای درلاندي دوه مست شـــاهان اوده دي
سکه مستي يې پعين مکړه چه د زلفو کاته ئی بې جلاد نه دي"
(هماغه مخ، هماغه چاپ)

"ځای در" دلته د کاتب غلطی ده چي د پېښور پښتواکيډيمۍ په چاپ (۱۱۰مخ) کي سمه سوې ده. هورې ئې لومړۍ مصرع داسي ثبت

---

[1] شيخ نورالدين حمزه بن عبدالملک بيهقي طوسي د تيموري پاچا الغ بيګ (۷۹۵ – ۸۵۳هق)معاصر وو. څو واره هندوستان ته تللی وو او د کعبې شريفي زيارت ئې هم کړی وو. په ۸۶۴ يا ۸۶۶ هـ ق کال مړ سوی دئ او په اسفراين کي ښخ دئ. عجايب الدنيا، سعی الصفا، طغرای همايون او جواهرالاسرار ئې د آثارونومونه دي. و ګ: لغتنامه دهخدا.

کړې ده: "د شاه تر څادر لاندې دوه مست شاهان اوده دي". جلباب د (څادر) معنا لري (غياث).

خوشحال خان خټک په سواتنامه کي د اخوند دروېزه پر مخزن الاسلام باندي، چي دی ئې په سهوي سره "مخزن الاسرار" بولي؟ نقد کوي او د هغه په ترڅ کي د دغي معما يادونه هم کوي. دی وايي:

دروېزه چي بيان کړی خپل کتاب دی
نوم ئې مخزن الاسرار (؟) کړی جناب دی
هر بيان ئې ناموزون، مجهول، بې رنګه
خالي پاتو له دانشه، له فرهنګه
که يوه مسره په شل، بله په سل ده
نامربوطه، ناموزونه، په ويل ده
قافيه ئې لام و دال سره وهلي
په رديف کي ئې نون واو سره پېيلي
قصيده د "بوصيري" ترجمه کړې
عربي ئې تر پښتو مضحک راوړې
هر هر بيت د قصيدې چي دُرمرجان دی
په پښتو کي تر اوربشو لا ارزان دی
معما د "آذري" ترجمه کړې
تصوف ئې و عالم و ته نومړې

......

(سواتنامه: ۴۵مخ د کابل چاپ)

دغي معما ته علامه حبيبي په لمنليک کي کښلي دي: "... د دې بيت اصل او پښتو ترجمه مبهم دي، هر څوک به يو راز مطلب ځني اخلي، خو درويزه د تصوف رنګ ورکړی دی او خوشحال خان هم پر دغه باندي په

دي الفاظو انتقاد کوي چي: دغه معما د تصوف په څادر کي نغښته شوې ده! اصل و ترجمه ئې دواړه مبهم دي".

***

د خوشحال خان خټک په کلام کي

د خوشحال خټک په کلام کي د تعميو او تاريخي مادو خورا زياته پرېماني ده. زه به ئې د کندهار چاپ "مرغلري" څخه راټولي او خپله څېړنه به هم ورسره مل کړم. د مخونو حوالې د "مرغلري چاپ ۱۳۱۷ش" دي.

له ما خوار سره څو قاف و هې و رې کړې
جـــګي جــــګي څه خــــو لام و طې و فــا
(۱۲مخ)

په مرغلري کي د "لام" کلمې "م" نسته، ما د (خوشحال خټک کليات، لومړي ټوک) څخه ورواچاوه.

حل: "قاف و هې و رې" = قهر – "لام و طې و فا" = لطف

***

بل ځای:

د غفا د کال بهار ګوره خوشـــحاله
چي د مړو به ئې هوا وشي هوس ته
(۶۲مخ)

تاريخي ماده "غفا" ده. حل ئې:

غ = ۱۰۰۰
ف = ۸۰
ا = ۱

۱۰۸۱هـ ق

***

۵۲

د څلور میندو زویه
د اتـــو پلارو پسر
(۱۱۸ مخ)

دا بیت د هغي غزلي دئ چي په پیل کي ئې د نظر او ژبي اثر ته اشاره سوې ده.

محشي ورته کښلي دي چي له څلورو میندو څخه مطلب څلور عنصره دي او له اته پلاره څخه ممکن "اته عرض" وي. خو دا ئې هم پر زیاته کړې ده چي په ځینو نسخو کي د "نوپلارو پسر" ضبط دئ. چي په هغه صورت کي به مراد نهه فلکه وي. رشتیا هم خوشحال خان په یوه بل بیت کي نهو افلاکو ته داسي اشاره لري:

ډیر به ښه ښه زویه را وړي دا نه پلاره څــلور میندې
نن په وا ړه پښتانه کښي یو خوشحال لایق فرزند دی
(۳۲۰ مخ،دکابل چاپ.مرغلري ۴۳۱مخ) [1]

له څلورو عنصرو څخه مراد (اور، اوبه، خاوره، باد) دئ. خو کېدای سي چي د خوشحال خان مطلب څلور اقلیمه وي چي مراد ورڅخه ټول هندوستان دئ (غیاث). له نهو افلاکو څخه مراد نهه اسمانونه دي چي وایي د پیاز د پوست په شان یو پر بل پراته دي. اسمانونه معمولاً اووه بلل سوي دي خو قدماوو نهه ګڼل. په دې ډول: فلک قمر، فلک عطارد، فلک زهره، فلک شمس، فلک مریخ، فلک مشتري، فلک زحل، فلک البروج او فلک اطلس (دهخدا). نهم اسمان ته فلک الافلاک وایي. په پخواني حکمت کي د (نه عرض) اصطلاح هم سته چي مراد ورڅخه (کیف، کم، هیئت، متی، مضاف، وضع، فعل، انفعال، مِلک) دي (غیاث اللغات).

---

[1] په کابل چاپ کي ددې مقطع اول نیم بیتي ته (۵) لیکل سوی دي خو پنځمه حاشیه ځني پاته سوې ده.

له پورتنۍ معما څخه د خوشحال خان مطلب دا دئ چي په دې څلورو اقليمو او نهو افلاکو (ټول کائنات) کي به ميندو نور هم ښه ښه زامن راوړي وي، خو خوشحال په پښتانه کي يوازنی "لايق فرزند"دئ.

✶✶✶

په يوه بله غزله کي خوشحال خان د زاړه نجوم له مخي د هري مياشتي (نحس) ورځي يا (شومي ورځي) راښيي. دی وايي:

"دال" و "واو" د محـــــرم د صـــــفر "اک"
د ړومبـــۍ خـــوري د روښـــيم څـــه "يـــک"
د دوهمـــــي خـــــور ړومبيــــه اتلـــــسمه
د دريمـــي خـــوري"يـــا" مـــه وکـــړه شـــک
څلـورمي خـور"ی"، "دال" چـي سـره "يـد" شـي
د رجـــب دی "ب" و "يـــج" د شـــعبان "دک"
د روژې د مياشـــتي "جـــک" پـــوره حـــساب دی
"حې" شـوال، ذی القعـده "بـط" ذوالحجـه "وک"

(۱۸۹–۱۹۰مخونه)

په خوشحال کليات لومړی ټوک ۱۰۴مخ کي "چې شوال" ثبت دئ داسي تېروتنه ده چي د خوشال خان خټک کليات (۷۰مخ، چاپ ۱۳۸۷دانش) ته ئې هم لار کړې ده.

د دې ورځو تشريح په (مرغلري) کي داسي راغلې ده چي د محرم د مياشتي (دال = ۴مه)، (واو = ۶مه) – د صفري (ا = ۱) او (ک = ۲۰مه) – د ړومبۍ خور (ی = ۱۰مه) او (ک = ۲۰مه) – دريمي خور (ی = ۱۰مه) يا (يا= ۱۱مه) – د څلورمي خور (ی = ۱۰مه) او (دال = ۴مه) د رجب (ب = ۲مه) او (يج = ۱۳مه) – د شعبان (د = ۴مه) او (ک = ۲۰مه) – د روژې (ج = ۳مه) او (ک = ۲۰مه) – د شوال (ح = ۸مه) او (ی = ۱۰مه) – د ذی القعدې (ب = ۲مه) او (ط = ۹مه) د ذی الحجې (و = ۶مه) او (ک =

۲۰مه) بدشگومه ورځي دي. البته دا راز انګېرني کوم ديني او مذهبي تاداو نه لري. د مسلمانانو په نزد د روژې ټوله مياشت نيکمرغه ورځي دي.

د "نحس" کلمه په قرآن عظيم کي دوه واره راغلې ده. اول آيت د يوڅلوېښتم سورة (حم السجده)[1] شپاړسم آيت دئ:

دوهم وار د څلور پنځوسم سورة (القمر) نونسم آيت دئ:

دواړه آيتونه د (عاد) او (ثمود) قومونو په باب دي او دا دواړي ورځي د دوی له پاره نحس بلل سوي دي. د لومړي آيت شريف په تفسير کي د حضرت شاه ولي الله صاحب (۱۱۱۴ - ۱۱۷۶هـ ق) خبره رانقل سوې ده چي فرمايلي ئې دي:

"... دا د نحوست ورځ هغوی لره وه، نه تل". او ورپسې زياته سوې ده: "هغه ورځي منحوسي ګڼلي کېږي - لکه چه په ناپوهانو کښي مشهوره ده. که هغه ورځ د عذاب د راښکته کېدلو په نسبت تل منحوسه وګڼله شي نو کومه ورځ به بختوره وګڼله شي. په قرآن کريم کښي تصريح ده چه هغه عذاب اووه شپې او اته ورځي پرله پسې وو. اوس نو وښيئ چه په دې تقدير د اونۍ (هفتې) کومه ورځ به له نحوسته تشه وي؟" (وګ: پښتو تفسير: ۱۲۹۲/۲مخ، د سعودي چاپ).

په نهج البلاغه (۷۸مه خطبه)[2] کي د څلرم خليفه حضرت علي کرم الله وجهه له خولې روايت دئ، چي وايي: څلرم خليفه چي کله غوښتل د خوارجو جنګ ته (نهروان ته) رهي سي، اشعث بن قيس ورته وويل:

---

[1] د قرآن عظيم دغه صورت د (فصلت) په نامه هم ياد سوی دئ.

[2] نهج البلاغه د حضرت علی کرم الله وجهه د خطبو او مواعظو مجموعه ده چي د سيد رضی ابی الحسن محمد بن الحسين بن موسی بن محمد بن موسی بن ابراهيم بن امام موسی کاظم رحمة الله عليه تاليف دئ. سيد رضی د څلرمي هجري پېړۍ د اهل تشيع علماوو څخه وو.

"(فارسی ترجمه) ای امیرالمؤمنین به شهادت علم نجوم، اگر در این ساعت حرکت کنی می ترسم که به مراد خویش نرسی". وايي حضرت علی کرم الله وجهه ئې په جواب کې اوږدې خبرې وکړې او وې ویل: "...هر کس که سخنان تو راست پندارد، قران را دروغ انگاشته (العیاذبالله) ... سپس روی به مردم کرد و گفت: ای مردم از علم نجوم بپرهیزید، مگر بدان مقدار که شمارا در خشکی و دریا راه بنماید، که این علم به کهانت منجر شود و منجم کاهن است و کاهن همانند جادوگر است و جادوگر کافراست و کافر در آتش جهنم. به نام خدای تعالی به راه افتید". د همدغه روایت اغېزه به وي چې د اهل تشیع معاصر علماء هم د نجوم د علم هغه برخه چې د راتلونکو زمانو او حادثاتو په باب پېشګویی ولري، حرامه ګڼي[1].

دغه د (سعد) و (نحس) اصطلاحګاني یوازې په پخوانیو نجومیانو کې مطرح نه وې، بلکې د دې ریښه په پخوانیو ادیانو کې هم سته. د عیسویت پیروان همدا اوس د (Good Friday) په نامه یوه ورځ لري چې د دوی په زعم دغه ورځ دعیسی عليه السلام د صلیب کولو ورځ ده او دوی په دغه ورځ روژه نیسي. خوشحال خان په دستارنامه کې لیکي چې له مولانا عبدالحکیم سیالکوټي(۱۵۶۱ – ۱۶۵۶ع) څخه ئې د نورو پوښتنو په ترڅ کې د "ساعت" په باب هم وپوښتل. د ده خپل بیان داسي دئ: "د ساعت شبه مې هم وه – راته ئې ووې چه ساعت شته، که دا هسې نه وی، سرور عالم (صلی الله علیه وسلّم) به د سفر دپاره پنج شنبه دوشنبه اختیار کړې نه وه – ..." (دستارنامه: ۷۰ مخ د پېښور چاپ ۱۹۹۱ع).

خوشحال خان که څه هم د میاشتو نحس ورځې راښیي خو په یوه بله غزله کې ئې خپل معتقدات داسي بیان کړي دي:

---

[1] ماخذ: انټرنېټ.

نجـو مي چـې قـدم نـه ږدي بـې نجو مـه
مـوت و فـوت و نا کـا مي مـو مي لـه کو مـه
چــي گــړۍ گــړۍ د و رځو شــپو تیر ېږي
پــه کـې را شــي پــه نېکه، پــه چا شــو مه
ځان بـه خـلاص نـه کا د بد سـا عت لـه شره
نجــو مي ئــې کــه خبــر دی لــه علو مــه

نېـک و بـد ئې پـه قبـضه کې د قـضا دي
بېهـــو ده خبـــرې مـــه پیمه، ورد رو مـــه
(الخ)

* * *

خوشحال یو بل ځای یو معماوشمه بیت لري. دی وایي:

راته څه وایې، چې ته په چا مین یې
په ایمابه در ته وایم پنــج و شش یم
(۲۱۷ مخ)

په کلیات لومړي ټوک ۱۱۷ مخ کي "لا ته څه وایې، ..." دئ.

دې بیت ته ئې په (مرغلري) کي د محشي په حواله کښلي دي: "...د ابجد په حساب (هـ، و) پنځه او شپږ راځي، چي (هو) ځني جوړېږي، یعني په هو مین یم".

* * *

بل ځای:

که څلور دي که پنځه که شپږ اووه دي
د درو ېش نشـــــته دا هــــیڅ اتم انم
(۲۲۸ مخ)

د همدې غزلي یو بل بیت:

نه په نون دی نه په میم دی نه په جیم دی
کامــــل پاس په لام و هـــــلی دی علَم
(۲۲۸ مخ)

دغه بیت ته ئې په حاشیه کې کښلي دي: "په دې بیت کښې نون اشاره ده ناسوت او میم ملکوت او جیم جبروت او لام عالم لاهوت ته، چې دا د تصوف په اصطلاح خاص عالمونه دي".

✶✶✶

د میم ردیف په یوه غزل کې دا بیت هم تعمیه لري:

یو مي یار دوهم گلزار ساز و ساقي شته
نن مي کــومه اندېښنه له غـــین و میمَ
(۲۳۳ مخ)

حل: (غ + م) = غم.

✶✶✶

خوشحال خان د خپل لمسي معظم پر مرگ سانده ویلې ده چې د (مرغلري) په هې ردیف کې ثبت ده. هورې ئې د لمسي د مړیني نېټه داسې ښوولې ده:

ښـــــــه تاریخ ئې راغی "بې بدلَ معـــــظم"
خوشحال د ده نیکه دی، د نیکه ئې داغ په زړه شه
(۳۱۰ مخ)

حل:

ب	**=**	**۲**
ی	**=**	**۱۰**
ب	**=**	**۲**
د	**=**	**۴**
ل	**=**	**۳۰**

م = ۴۰
ع = ۷۰
ظ = ۹۰۰
م = ۴۰

۱۰۹۸هـق

او همدا د "معظم" د مړيني کال دئ چي عبدالقادرخان په "زر اته نوي" ښوولی دئ او تاسي به ئې وروسته ولولی.

د دې معما د ويلو سم شکل "بې بدلَ معظمَ" دئ. که لام او وروستي ميم ته حرکت ور نه کړه سي د مصرع دوې هجاوي کمېږي او که دا حرکتونه د اوسني ليکدود له مخي په (هـ) سره وښوول سي او " بې بدله معظمه" سي، د مړيني نېټه لس کاله نوره هم زياتېږي. دغه ځای دئ چي د معماوو په حل کي بايد د شاعر د وخت ليکدود په پام کي ونيول سي او دغه ځای دئ چي د شاعر په کلام کي د راغلو معماوو په شکل کي هر راز مداخله، په هره انګېزه چي وي، ورانی پېښوي.

* * *

ډير به ښه ښه زويه راوړي دا نه پلاره څلور ميندې
نن په واړه پښتانه کښي يو خوشحال لايق فرزند دی
(مرغلري – ۴۳۱ مخ)

په لمنليک کې ورته کښلي دي: "نه پلاره او څلورميندي، نه اسمانه او څلور عنصره دي".

* * *

په يوه غزله کي خوشحال له (پيرئ، زړتابه) څخه شکايت کوي او په يوه بيت کي وايي:

د سترګو په جوهرو مي په سي کښي راښکاره شوه
په مښکو په ګوهرو مي په کال راغله پيري
(۴۴۴مخ)

په لمنلیک کي ئې د محشي له خولې کښلي دي چي له (سی) څخه د ابجدپه حساب (۷۰) راوزي او له (کال) څخه (۵۱). ګویا شاعر وايي چي په اویا کلنۍ کي مي د ستر ګو لیده لږ سوه او په یوپنځوس کلنۍ کي مي په "مښکو = تور وېښته" او "مرغلرو = سپینوغاښو" کي پیري راغله. یعني وېښته مي سپین سول او غاښونه ووتل. د دې غزلي مقطع داسي ده:

نه ښکار شته نه ګذار شته اوس دي جوړ سلامت ګرزي
د تورو[1] د غــــرو بزونه،په خــو شحال راغله پیري

***

خان د خپل ځوانیمرګ زوی په ویرنه کي د هغه د مړیني تاریخ داسي بیان کړی دئ:

"طاهر ومړ په شباب کښ" دا تاریخ دی
چه به کال د ده د مرګ ترې رابرسېر شي
(مرغلري – ۴۶۶مخ)

د دغي تاریخي مادې په باب په حاشیه کي داسي لیکل سوي دي:
"دا بدله خان د خپل زوی طاهر په مرثیه کښ ویلې ده، په آخر بیت کښ (طاهر ومړ په شباب کښ) د ابجد په حساب (۱۱۰۳) راځي، چه د مړیني کال ئې دی".

دغه تاریخي ماده سمه نه ده حل سوې. لومړی خو په همدغه لیکدود سره د "طاهر ومړ په شباب کښ" ابجدي ارزښت (۱۰۹۳) کېږي، نه (۱۱۰۳).

ط = ۹
ا = ۱
هـ = ۵

---

[1] د کندهار ښار په شمال کي هم د "تورو" په نامه غرونه سته.

ر	=	۲۰۰
و	=	۶
م	=	۴۰
ړ	=	۲۰۰
پ	=	۲
هـ	=	۵
ش	=	۳۰۰
ب	=	۲
ا	=	۱
ب	=	۲
ک	=	۲۰
ښ	=	۳۰۰

ټول = ۱۰۹۳

(۱۱۰۳) به ښايي د کاتب غلطي وي. دوهم دا چي خان په همدې غزل کي وايي:

زه په وير د معظم په غم کښې ډوب وم
خبر نه وم چي طاهر به تېروبېر شي

ګويا د طاهر او معظم د مړيني واقعه په يوه کال کي پېښه ده. د معظم مړينه د خوشحال خان او عبدالقادرخان دواړو له خولې په (۱۰۹۸هـ ق) کي پېښه سوې ده. د طاهر مرګ هم بايد په همدغه کال وي. په دې صورت کي بايد د تاريخي مادې ليکدود داسي وي:

"طاهر ومړ پشباب کښِ" او د "کښ" کلمې د (ښ) توري زېر (کسره) هم په محاسبه کي شامله ده او د (ی = ۱۰) قيمت لري. نو د تاريخي مادې اصلي بڼه به په نني ليکدود کي داسي وي: "طاهر ومړ

پشباب کښې" چې له دغې مادې څخه (۱۰۹۸) راوزي او دا د طاهر د مرګ کال دئ.

د خوشحال خټک کليات لومړي ټوک (۳۸۹مخ) کې دغې مسئلې ته پام اړول سوی دئ خو تاريخي ماده ئې" طاهر ومړ پشباب کی" ګڼلې ده او(ښ = ش = ۳۰۰) د معياريت په حکم ! د تاريخي مادې له (کښې) کلمې څخه ايستل سوی او (کی) ليکل سوی دئ چې دغه راز ليکنه هم مطلوبه سنه په لاس نه راکوي:

ط	=	۹
ا	=	۱
هـ	=	۵
ر	=	۲۰۰
و	=	۶
م	=	۴۰
ړ	=	۲۰۰
پ	=	۲
ش	=	۳۰۰
ب	=	۲
ا	=	۱
ب	=	۲
ک	=	۲۰
ی	=	۱۰
ټول	=	۷۹۸

نولکه پورته چې مو وويل "طاهر ومړ پشباب کښې" تاريخي ماده ده او ابجدي ارزښت ئې (۱۰۸۹) دئ.

* * *

خوشحال خان بل ځای ویلي دي:

د ملـــــحد په زړه به نه لګي خــــبري
که ویل دي ورته تل د نون و صاد شي
(۵۵۰مخ)

له (نون او صاد) څخه مراد (نص) دئ. نص په لغت کي څرګند او صریح کلام ته ویل کېږي او د علم اصول له مخي د قرآن کریم هغه آیتونه چي دوه متشابه کارونه راته څرګندوي چي دا نېک کار دئ او هغه بد. د مثال په توګه د قرآن کریم د سورة البقره (۲۷۵) آیت چي فرمایي: "و احل الله البیع وحرم الربوا" یعني حق تعالی بیع روا کړې او رباء ئې حرامه کړې ده. په ناظم الاطباء کې لیکلي دي چي د قرآن کریم هر هغه آیت چي په واضحه توګه پر مقصود باندي دلالت وکړي، نص بلل کېږي.

✶✶✶

خوشحال خان د (وبا= کولرا) ناروغۍ کال په یوه شعر کي یادوي او وایي چي په دغه کال د ده زوی بخت ناک خان او مور ئې په دغه ناروغۍ مړه سول دغه راز ئې سرفراز نومی لمسی چي د سعادت خان زوی وو، هم په دغه کال لېوني سپي وداړه او مړ سو. د آفتونو دغه کال ئې د تعمیې په شکل داسي بیان کړی دئ:

د "غـــواص" د کـــال وبــا — خــدائې مــه راولــه بیــا
بخت ناک خان مي پکښې ومړ — مــور ئــې هــم بوتــه قــضا
ســــرفراز د ســــعادت ؤ — بښــه نمــسی مــي ؤ زیبــا
هــم حــافظ د درسـت قـرآن ؤ — هــم پــه خــط ؤ بــې همتــا
د ښکار سپی ئې ؤ ساتلی — لېــونی شــه بــې غوغــا
لاس ئــې وروړه بــې خبــره — چــه ګانــه ئــې خپــل اشــنا
دی ئــې وچیچــه پــه لاســو — لاعـــــلاج شـــــو لا دوا
پــه دا کــال لــه مــا قــضاکړ — پــه ارمــان ارمــان جــدا

(۵۷۰ – ۵۷۱مخونه)

د "غواص" ابجدي ارزښت (۱۰۹۷) کېږي.

غ = ۱۰۰۰

و = ۶

ا = ۱

ص = ۹۰

ټول = ۱۰۹۷ هـ ق

د همدې قصيده وشمي غزلي په يو بل بيت کي د دغي ناروغۍ د پای ته رسېدلو کال هم راښيي:

کال "حصغ" شو وبا ولاړه
هم عسرت کړه راته شا

د "حصغ" ابجدي ارزښت (۱۰۹۸) دئ.

ح = ۸

ص = ۹۰

غ = ۱۰۰۰

ټول = ۱۰۹۸ هـ ق

* * *

خوشحال خان يوه اوږده بهاريه قصيده لري چي چي په برمول کي ئې ويلې ده او پيل ئې داسي دئ:

پياله کومه راپيدا شو دا بهار
چه په هر لوري ئې ملک کړ،يو گلزار

په دې قصيده له مغلو سره د پښتنو مهمي جگړې بيان سوي دي. د دغي قصيدې د ويلو تاريخي ماده ئې په مقطع کي داسي راوړې ده:

د دريمي خور اول کال د غفو ؤ
ما چه وې په بَرمَوَل کښِ دا اشعار
(۵۹۴ مخ)

"غفو" د ابجد په حساب (۱۰۸۶) کېږي.

غ = ۱۰۰۰

ف = ۸۰

و = ۶

ټول ۱۰۸۶هـ ق

★★★

په يوه اوږده قصيده (شپېته بيته) کي د هغې د نظمولو تاريخ داسي راته وايي:

د شوال وروستنۍ ورځ کال د "غفا" دی
ما چي دا شپېته بيتونه کړل تحرير
(۶۰۰مخ)

د "غفا" ابجدي ارزښت (۱۰۸۱هـ ق) کېږي.

قصيده په دې بيت پيل سوې ده:

ناخلف مي حواله کړ په تقدير
نصيحت ورباندي نه کاندي تاثير

★★★

خان د يوې بلي اوږدې قصيدې د ويلو نېټه داسي بيان کړې ده:

نوې مياشت د محرم "غصه" ئې کال دی
په غليم مي غصه وربېره دا کال
(۶۱۲مخ)

حل:

غ = ۱۰۰۰

ص = ۹۰

هـ = ۵

ټول ۱۰۹۵هـ ق

د قصيدې مطلع دا ده:

زه د شعر په کار هيڅ نه يم خوشحال
ولي خدای مي کړ په غاړه دا مقال

ټوله قصيده ۱۳۸ بيته ده.

* * *

خان د خپلي يوې بې مقطع غزلي نېټه داسي راوړې ده:

دا سږکال چه د "غصج" دی چه "غصد "شي
اميدوار او سه له بخته له اقباله
(۶۲۱مخ)

د ابجد په حساب د "غصج" ارزښت (۱۰۹۳) او د "غصد" دا (۱۰۹۴) دئ. خوشحال خان وايي چي په ۱۰۹۴هـق کال به ئې د عمر (۷۲) کاله پوره سي.

ستا به دوه اويا کالونه وي د عمر
سود فايده ئې راته وايه له وصال

خان په ۱۰۲۲هـ ق کال په ربيع الاول مياشت کي زېږېدلی دئ. د زوکړي تاريخي ماده ئې افضل خان خټک په تاريخ مرصع (۳۱۰مخ چاپ ۲۰۰۶ع) کي د خوشحال خان له خپلي خولې په فارسي ژبه داسي راوړې ده:

تاريخ خوشحال خټک در ربيع الثانی
آمد چو درين کهنه رباط فانی
حق گردانا د مرورا خير رسان[1]
تاريخش گشت "خيرعالميانی"

د "خيرعالميانی" ابجدي ارزښت (۱۰۲۲) کېږي.

خ = ۶۰۰
ی = ۱۰

---

[1] په ننگيالی د زمانې (۱۲مخ، چاپ ۲۰۰۱ع) کې دا مصرع "حق گردانا و مرد را خير رسان" ليکلې چي چاپي تېروتنه ده.

ر	=	۲۰۰
ع	=	۷۰
ا	=	۱
ل	=	۳۰
م	=	۴۰
ی	=	۱۰
ا	=	۱
ن	=	۵۰
ی	=	۱۰

ټول = ۱۰۲۲ هـ ق

✶✶✶

خوشحال په یوه بیت هغه کال چې د مغولو په لاس بندي د لاهور تر سیند پورې واته، داسې بیان کړی دئ:

دا بیان مې د "غـــــعد" په کال ویلی
په شعبان چه د لاهور په سیند عبور کړم
(۶۳۱ مخ)

غ	=	۱۰۰۰
ع	=	۷۰
د	=	۴

ټول = ۱۰۷۴ هـ ق

دغه کال د خوشحال خان د بندیګرت کال دئ.

بل ځای ئې همدغه کال په یوه بل بیت کې هم "غعد" بللی دئ:

زه چه د "غعد" په کال بندي د اورنګ زېب شوم
کـــور او خېلخانه مي پکښې ډېره وه لــــه دمَ
(۶۳۷ مخ)

خوشحال تر دغي تعميې وړاندي وايي:

یو، یوسفزیي دي چی په ما ئې منت بار کړ
لا په اکـــــوزیو د ننگ چـــار ده مسلّمه

خان ولي د یوسفزیو منت باردئ؟ له دې اسیته، چی د اورنگ زېب په زندان کي د خان د بندپر وخت د ده "کور او خېلخانه" پکښې دمه وه.

د تعمیې دبیت دوهمه مصرع په همدې شکل ماته سمه نه ایسي. سم شکل ئې په قوي احتمال سره داسي راته ښکاري:

"کور او خېلخانه مي پکښې ډېره وله دمه". د دغي مصرع د پای د درېو کلمو"ډېره وله دمه" معنا دا ده، چي د خان خېلخانه ډېره موده پکښې دمه وله. دغه "وله" د (ول = بودن) جمع غایب صیغه ده چي موږ تر دا نزدو وختونو پوري د (وو) په شکل لیکله. د (ول) استعمال اوس لا هم د پښتو د لوېدیځي لهجې په ځینو حوزو (روزگان او د ښوراوک شاوخوا) کي ژوندی دئ. د خوشحال په پورتني بیت کي د (ول) ځرک موږ ته د دغي لهجې او کلاسیکي پښتو نزدېکت راښیي. ما (هوتک) چي (له کندهاره تراټکه) کتاب کیښ، د خوشحال خان دغه بیت ته مي ډېره پاملرنه وه کړې.

٭٭٭

په یوه قصیده کي خان د ډهلي د پاچهانو مسلسل نومونه راوړي دي. د دغه شعر د ویلو نېټه ئې داسي راوړې ده:

کـه د دې ویلـو کـال غـواړې لـه مانـه
پــه حـساب کښِ واوره کـال د قرشـتۈ
ابتـــدا د دې بیـــان پـــه نمازپـــښین ۈ
د ماښـام پـه وخـت ئـې شـوی نهایـت ۈ
(۶۷۱ مخ)

د خوشحال خټک مرغلری کي دا معما ناحله پاته ده او دلیل به ئې ښایي د معما په کلماتو کي د مرتِّب دوه زړه توب وو. د خوشال خان خټک

کلیات کې تاریخي ماده "کال د قرشت" بللې ده چې دا خبره به ئې غالباً له ارمغان خوشحال څخه رانقل کړې وي. د دې مادې ابجدي ارزښت ئې (۱۰۵۵) کېږي. خو که "کال د قرشت ؤ" تاریخي ماده وګڼو، نو بیا دا کال (۱۰۶۱) ته لوړېږي. د دې قصیدې د پای لخوا دریم بیت راته وایي چې:

چې د هند سیر مي وکړ اوس مې ووې
ګـــــنه دا تاریخ لا رغـــه زما په نیت ؤ

د دې بیت له مخي څوک ویلای سي چې دا قصیده هند ته تر تګ وروسته ویل سوې ده. د (ننګیالی د زمانې) ښاغلی مؤلف د ارواښاد دوست محمدخان کامل له خولې لیکي چې "د ۱۰۵۸ هـ ق کال ربیع الاول د ۱۶۴۸ م کال د اپریل دویم موړ خوشحال خان د اټک په بله غاړه کې مومو. پدې سفر کي ده یو اوږد نظم د میرزاابوالحسن اصف خان د کوم شاندار محل، د محل د باغونو او د باغونو د زړه وړونکو مناظرو په ستاینه کې لیکلی دی" (وګ: همدغه اثر: ۳۲ مخ، د ۲۰۰۱ع کال چاپ). که هند ته دا د خان لومړی سفر وبولو، نو پورتنۍ تاریخي ماده باید "کال د قرشت ؤ= ۱۰۶۱هـ ق" قبوله کړو. په "کال د قرشت = ۱۰۵۵هـ ق" کي خان د هندوبار لتي نه وې لیدلي.

***

خوشحال په یوه رباعي کي د خپل یو خوب بیان کوي:

شـپه د بـرات وه یـو خـوب مـي ولیـده
کال ئې "غصه" دی هرګور مي ښه لیده
دوه توري ماتي شوې یوه مي روغه شوه
دویـــم صمـــصام مـــي پـــه رغېـــده دی
(۸۰۰ مخ)

غصه = ۱۰۹۵هـ ق

***

یوه بله رباعي

پنځه بارونه دي بردن ئې غم دی
ورمېږد خلقو ترلاندي خم دی
پنځه په نورو، په تا دوه کم دی
خوشحاله شکر چه بار دي کم دی

(۸۴۹مخ)

له "پنځه بارونه" څخه د خوشحال خان مراد د اسلام پنځه بناوي دي. کلمه طیبه، لمونځ، روژه، حج، زکوة. په دې پنځو کي حج او زکوة پر بډایانو فرض دئ. خوشحال په لاس کي دومره خلاص وو او سخاوت ئې دومره زیات وو، چي له ټولي خانۍ او بډایۍ سره ئې هیڅ وخت ځان د نصاب مالک سوی نه وو. ځکه نو دی وایي چي پر ده باندي له دې پنځو بناوو څخه درې بار دي او حج و زکوة ورباندي فرض سوی نه دئ.

✶✶✶

بله رباعي:

وایې صوفي شه، صوفي دي ته شې
درومه نااهله شپږ سو شپېته شې
که یار ساقي وي عمر باقي وي
لا به د میو ښیښې کړم تشې

(۹۲۹مخ)

په (مرغلري) کي د رباعۍ دریم بند "که یار ساقي دی عمر باقي دی" لیکل سوی دئ، چي سهی نه دئ. (د خوشحال رباعیات: ۲۷۹مخ) او د خوشال خان خټک کلیات په (۵۲۷مخ) کي ئې سم کړی دئ.

د مرغلري مرتب د کومي نسخې د محشي په حواله ورته کښلي دي: "... یعني خس یې، ځکه چه خس په حساب د ابجد (۶۶۰) دی". دغه عدد د خوشحال رباعیات کي هم، بې له دې چي د مرغلري حواله ورکړي، په لمنلیک کي ورته کښلی دئ.

دغه راز عملیې ته د عددي تبدیل عمل وایي (وګ د همدې لیکني د

سر برخه). په عددي تبدیل کې قرینه باید هرومرو موجوده وي، کنه نو بیا دغه راز معما ته ګونګه معما وایي. ځکه د مطلوبې معنا له پاره ئې هیڅ راز قرینه نه ده راوړې او لوستونکی به ئې پخپل درایت سره حل کوي.

✶✶✶

بله رباعي:

یـــار مـــې د شـــپږو تـــر مـــنځ اووم دی
چه څوک ئې نه ستایي په حسن ګرم دی
چـه رابـنـکاره شـي پـه مـا رڼـا شـي
چـه مـخ ئـې نـه ویـنـم پـه مـا تـورتم دی

(۹۳۶مخ)

د (مرغلرې) مرتب په حاشیه کې ورته کښلي دي: "یعني په اوو ستورو کښې چه شپږ نور سیارات دي، اووم زما یار دی چه هغه نو لمر دی".
د خوشحال رباعیات (۱۵۱مخ) کې هم دغه شان تشریح ورکړه سوې ده.

✶✶✶

بله رباعي:

فرښـتـې لـه نـوره، پـیـرې لـه نـاره دي
کـه پـرې خبـرېـې سـړی لـه چـاره دی
ځکـــه دا هـــسې ډېـــرې فتنـــې کـــا
لـــه بادو خاکـــه لـــه آب و نـــاره دی

(رباعیات: ۲۱۶مخ)

چار= ۴ عنصره (باد، خاوري،اوبه، اور).

✶✶✶

بله رباعي:

کـــال د غفـــج ؤ خیبـــر کـــې هـــورې
مغـــل بنـــدي وو، هـــم کونـــډې بـــورې

مومنــد شــینواري څــو اپریــدي وو
وا ړو وهلـــــې د یـــــادو تــــورې
(رباعیات: ۲۶۸مخ)

غفج = ۱۰۸۳هق

* * *

بله رباعي:

نــن بیا خپــل بخــت تــه زما تــسلیم دی
خُــرم بــه او ســم فــال مــي د مــیم دی
پــه درد و غــم کــښې زمــا غلــیم دی
راالــــوتلی د نـــصرت نـــسیم دی
(رباعیات: ۱۲۷مخ)

دا رباعي د خوشال خان خټک کلیات (۴۴۱مخ) کي مسخه سوې ده او د (غلیم) پر ځای (علیم) او (د نصرت نسیم) پر ځای (د نصرت تبسم؟) راغلی دئ. په رباعیات کي هم د (نن) پر ځای (تن) لیکل سوی دئ. په دې رباعي کي "فال مي د میم دی" د معما په حساب نه دئ راوړل سوی، بلکي د فال کتلو په مقصد راوړل سوی دئ. د فالنامې له مخي که د چا فال د (م) پر توري برابر سي او غلیم ئې په مخ کي ورته ولاړ وي، دی باید یرغل پر و نه کړي. د خان مقصد همدا ټکی دئ. خوشحال خان په فالنامه کي ویلي دي:

"م"په فـال نه دی ښـاغلی
په ورانیې دی راغـــــلی
که غلـیم لـرې لـه وړاندې
مه کړه قصد په غلیم باندې
(فالنامه د مصحف: ۴۶مخ)

* * *

بله رباعي:

سړکال چې کال د "رحمت تم" دی
باران په هر چیرته په غره په سم دی
پس له شپږ میاشتو په چنګابښ شروع شو
به هره ورځې تر نیم ضیغم دی
(کلیات: ۴۴۷مخ)

حل:

ر	=	۲۰۰
ح	=	۸
م	=	۴۰
ت	=	۴۰۰
ت	=	۴۰۰
م	=	۴۰

ټول = ۱۰۸۸هـق

د دغي وچکالۍ بیان خان په یوه بل شعر کي هم راوړی دئ:

شپږ اووه میاشتي په هند په خراسان
چرته و نشه په سم په غره باران
د اوبو د وښو ډېر کمامت وشو
ځای په ځای شول د غلې نرخونه ګران
چه باران په جهان وشو پس له یأسه
فتح الباب و په تحویل د سرطان
د اسد تر نویشتمه ورځ په ورځ شي
په باران سره نهال شو درست جهان
پدا کال چه شاه عالم راغی له هنده
صلح وشوه د مغلو د افغان

دا سړکال چه ئې تاريخ "رحمت تم" دی
پــه وګــړي مبــارک دی پــه هــر شـــان

(۵۶۴مخ)

***

بله رباعي:

تــر عــين تېــر شــوم دا هــسې زه ويــنم
احــول يــو دوه وينــي زه يــو اووه ويــنم
ترفـــې کـــه ورشـــم غفد ســـړکال دی
اووه بـه شـل ويـنم دا کـار زه ښـه ويـنم
(د خوشحال رباعيات: ۲۲مخ)

په لمنليک کې ورته کښلي دي:

ع = ۷۰
ف = ۸۰
غفد = ۱۰۸۴

خودا رباعي نوره شننه هم غواړي.

***

خوشحال د لويي تبي د شيوع کال په دې ډول بيان کړی دئ:

سړکال چه د "غواص" دی
په هر لور دي تبـــجن ډېر
(۹۵۶مخ)

غ = ۱۰۰۰
و = ۶
ا = ۱
ص = ۹۰

ټول = ۱۰۹۷هـ ق

په دغه کال د خان زوی (بخت ناک) د دغو تبو له امله ومړ.

بخت ناک په دوه هفتې شه
تر فـــاني جـــــهانه تېر

✶✶✶

په یوه قطعه کي وايي:

میاشت د لومړۍ خور ده
چه داخل شوم په مـیدان
کال ثخــــه و "هــفغ" و
بیا تحـــویل د ســرطان
(۱۰۲۶ مخ)

ه	=	۵
ف	=	۸۰
غ	=	۱۰۰۰

ټول ۱۰۸۵هـ ق

✶✶✶

خوشحال خان د خپلي مور او مشري مېرمني د مړيني تاريخ داسي ويلی دئ:

چې د پلار د مرگ مي تېر شو پوره قرن
د صـفري پـه میاشـت ومـړه د مـا مـور
پــــوره زر اتیا کلونـــــه د هجـــــرت وو
چـې د مـور پـه خـوا مـې ومـړ مـشر کـور
(۱۰۲۶)

له "قرن" څخه موږ اوس د سلو کالو معنااخلو خو دلته مراد سل کاله نه دي. په قاموسونو کي قرن کله سل کاله، کله دېرش او کله اتیا کاله ټاکل سوی دئ (غیاث اللغات). د خوشحال خان مراد دلته دېرش کاله

دئ ځکه پلار ئې په ۱۰۵۰ هـ ق د شوال په لومړۍ نېټه د پنجشنبې په ورځ له یوسفزو سره د بلړ په جنګ کي مړ سوی دئ. (ننګیالی د زمانې ۲۰ مخ)[1] او مور ئې ډېرش کاله وروسته په (۱۰۸۰هـ ق) کی مړه سوې ده.

****

د غلې د ګرانۍ یو کال داسي یادوي:

د نـــوروز پــــه دوولــــسم
میاشت صفر کـال د "غفـط" و
غلـه ګرانـه کـښت زبـون شـو
پـــه عـــالم نـــازل ســـخط و
لـــوی بـاران وشـو پـه خلـقَ
د وګـــــړي وار غلــــــط و

غ	=	۱۰۰۰
ف	=	۸۰
ط	=	۹
ټول	=	**۱۰۸۹هـ ق**

****

په یوه بیت کي د واوري د اوږدلو کال راښیي:

د "غفا" په بو ګه پرېوتې په غرونه
تر کابله تر اټکه سپـــیني واوري
(۱۰۴۶مخ)

غ	=	۱۰۰۰
ف	=	۸۰
ا	=	۱
		۱۰۸۱هـ ق

---

[1] په فراقنامه ۶۰ مخ کي ئې د شهباز خان مړینه له مندړو سره په جنګ کي بللې ده.

(بوګه) سلواغې ته وايي او دلته مراد د (دلو) مياشت ده. ګويا دغه واوري د دلوي په مياشت کي اورېدلي وې.

***

بل ځای د فراقنامې د تاليف نېټه داسي بيانوي:

کال د غم لاړ مياشت اختر وه
دا نــــــامه چې نظــم زر وه
(فراقنامه: ۷۲مخ)

د فراقنامې مرتب ليکي چې علامه حبيبي له دغه بيت څخه د فراقنامې د تاليف نېټه داسي رااېستلې ده:

نامه (۹٦) + نظم (۹۹۰) = ۱۰۸٦ – وه (۱۱) = ۱۰۷۵هـق.

دلته بايد د لومړی مسری لاړ د (منها يا تفريق) په معنا وي چې حکم ئې د (وه = ۱۱) پر تللو (تفريق) باندي کېږي = کال د غم، مياشت اختر، لاړه (وه)[1].

---

[1] دا تاريخي ماده يو څه ابهام لري او که چا ته په زړتنبهور کي د خان د قيد زمانه معلومه نه وي، د ۱۰۷۵هـق کال رااېستل ځني مشکله خبره ده. د معما سيده حل، چې پر قراينو دي ولاړ وي، داسي هم کېدلای سي چې لومړی خبره دا ده چې دا نامه خان تر بند وروسته ويلې ده. دی وايي چې د غم کال "لاړ". که دا حدس سم وي نو ئې د تاليف کال بايد تر ۱۰۷۹ وروسته وي. خو "کال د غم = ۱۰۹۵" د ختېکو شاعرانو په کلام کي بل ځای هم موندلای سو. دا کال د وبا کال وو چې عبدالقادرخان ختېک ئې تاريخي ماده "کال دغم" ويلې ده. "کال دغم لاړ" يعني د وبا کال تېر سو. په دې حساب نو څوک ويلای سي چې د فراقنامې د تاليف په کال سنه ۱۰۹۵ تېره سوې وه او ۱۰۹٦ هـق وه. خو څرنګه چې خوشحال خان د ۱۰۷۴هـق کال د روژې له مياشتي څخه تر ۱۰۷۹ هـق کال پوري کله د مغلو قيدي او کله بيا نظربند وو، نو ځکه بايد د فراقنامې د تاليف نېټه په همدغو کلونوکي ولټول سي. دا حقيقت هم بايد په پام کي ولرو چې خان، فراقنامه د بازنامې په شان په يوه کښ، بې له وقفې نه ده ويلې، بلکي بېلابېل نظمونه ئې په بېلابېلو وختو کي ويلي دي. دا خبري د پورتنی معما مبهم توب نور هم ژورکوي. د خان نوري معماوي داسي ابهامات نه لري.

***

خوشحال خان د خپل منظوم اثر بازنامې د ليکلو نېټه داسي راښيي:

زر پنځـــه اتيا کلونـــه د هجـــرت دي
د رجـب ورځـي آخـر شـوې نهايـت دي
پـه لـړم کـښې مـې شـروعه بازنامـه کـړه
پـه شپږ ورځې مـې تمامـه پـه خامـه کـړه

(بازنامه: ۴۶ مخ د پېښور چاپ ۱۹۸۵ع)

***

د عبدالقادر خان خټک په کلام کي

عبدالقادر خان خټک په يوه اوږده قصيده کي د پاک خدای د حکمتونو او نعمتونو د بيان په ترڅ کي يو بيت لري چي د معما نوم پر ايښوول کېدلای سي. ده ويلي دي:

که ځلور دي که پنځه که شپږ اووه دي
همـــګي په حـــکم کار د کـــردګار کا

(ديوان: ۱۹۵مخ، د کندهار چاپ)

حل:

له ځلور څخه مراد ځلور عنصره، له پنځو څخه مراد پنځه اقليمه، له شپږو څخه مراد شپږ جهته او له اوو څخه مراد اووه اسمانونه دي او له دې ټولو څخه بيا مراد ټول کائنات دي. بل ځای:

چي ولاړ نشې په غفلت عبد القادره
که پو هېږې غنيمت دی دال و مـيم

(۲۰۹ مخ)

له "دال و ميم" څخه مراد (دم) دئ چي د "شېبه، لحظه" معنا لري او شاعر وايي چي دا حاضره شېبه، دم ګڼی غنيمت وګڼه.

بل ځای د خپل وراره "معظم" د ویرني په ترڅ کي د هغه د عمر او د مړیني د نېټې په باب وايي:

غواصي کوم د او ښیو په دریاب کښي
نه ئې مــــو مم معــظم دُرنایاب شو
درویشت کاله د ده عـــمر زر اته نوي
د هجرت حساب په حــکم د کتاب شو
(۲۱۱مخ)

د عبدالقادرخان خټک دېوان د کندهارچاپ د ۲۱۱مخ په حاشیه کې کښلي دي: "معظم د خوشحال خان خټک له اولادې څخه ؤ، دا قصیده د ده مرثیه ده". معظم خان د بهرام خان زوی او د خوشحال خټک لمسی وو. خوشحال خان ئې هم مرثیه ویلې ده. بل ځای د وبا د کال تاریخ راښیي:

پــه هـر کالـه کـښي د مـرگ مـاتم دی
وبــــا نیــــولی اکثرعــــالَم دی
ښــه ښــه یــاران ئــې ځلـه جـدا کـړل
تاریخ ئې راغلی چې "کال د غم" دی

حل: "کال دغم" = ۲۰ + ۱ + ۳۰ + ۴ + ۱۰۰۰ + ۴۰ = ۱۰۹۵هـ ق

په دغه مخ کي د حضرت آدم بنوري رحمة الله علیه د خلیفه شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه د وفات تاریخ په یوه فارسي رباعي کي بیانوي:

شــیخ ســعدی قــدوه اهــل یقــین
چــون منــور گــشت ازو زیــر زمــین
از خِــرَد جــستم حــساب رحلــتش
درجــوابم گفــت "شــیخ مــومنین"

حل: "شیخ مومنین" = ۱۱۰۶هـ ق

د دېوان په ۲۲۸مخ کي د خپل پلار خوشحال خان خټک په "ستاینه

او دوعا" کي يوه مربع لري چي وروستی بند ئې داسي دئ:

لام او بې ئې د دلبرو دي ستايلي
لعل او دُر ئې د وينا په تار پيېلي
لړ د ډېره ما د ده د حال ويلي
لکه څوک چې د يار مخ کا نمر مثاله

له "لام وبې" څخه مراد (لب = شونډي) دي.

✶✶✶

عبدالقادرخان خټک د شيخ سعدي (ګلستان) له پارسي څخه په پښتو ترجمه کړی او نوم ئې "ګلدسته" پر ايښی دئ. د دغي ترجمې د بشپړولو کال ئې داسي بيان کړی دئ:

زر سل څلېرويشت د سن کلونه
له ګلستانه چي دا ګلونه
ټول شول ترې جوړه چي ګلدسته شوه
يادګار به پاته شي موږه به ځونه

۱۱۲۴هـ ق

(په ګلشن روه کي د بابوجان: ۳۹مخ)

سيد سرفراز علی رضوي د (مخطوطات انجمن ترقی اردو) په ۸۷ مخ چاپ ۱۹۶۷ع کراچي کي ګلدسته د ګلستان "انتخاب" بللې ده.

✶✶✶

ارواښاد پوهاند رشتين د ښاغلي همېش خليل له خولې د سعدي د ګلستان د دغي پښتو ترجمې نېټه داسي ليکلې ده:

دا کتاب چې ګلدسته د ګلستان ده
ګل چيني ئې کا عبدالقادر خټک
که تاريخ ئې د آغاز د انجام غواړې
سن د هجر په شماره د "غق دک"

(ادبي او تاريخي سمونې: ۱۵۹مخ)

حل:

غق = ۱۱۰۰

دک = ۲۴

ټول ۱۱۲۴هـ ق

***

اروانښاد پوهاند صاحب د همدې اثر په ۱۶۲مخ کې د عبدالقادر خان خټک د دېوان د بشپړولو کال د دې لاندې بیت په استناد(۱۱۱۳ – ۱۱۱۴هـ) بللی دئ:

سن زر سل د جدایۍ څوارلس دپاسه

دا غـــزل مې په بیاض باندې رقـــم کړ

خو د دغه بیت له رویه د دېوان د تکمیلولو کال اټکل کول، د تأمل وړ دئ.

***

عبدالقادرخان خټک د خپل بل منظوم اثر (یوسف زلیخا) د ترجمې د پوره کولو کال داسې راښیي:

سن د هجر غین و قاف و

اته کم دپاســـه کاف و

چې تمام شو دا کـتاب

الله اعلم بالصواب[1]

حل:

۱۱۱۲هـ ق

---

[1] په گلشن روه کې دبابو جان ....: ۴۱مخ . هورې د دوهم نیم بیتي "کاف" هم "قاف" لیکل سوی دئ چې د ټایپیسټ سهوه ده. زما (هوتک) په خطي نسخو کې یو بې نومه جونګ سته هورې دغه ماده سته. په دې ډول:

سین د هجر غین و کاف وو – اته کـم دپاســـه کاف وو

چـــه تمام شـــه دا کتاب –په پښـــتو شه انتـــخاب

(غ = ۱۰۰۰) + (ق = ۱۰۰) + (ک = ۲۰) – (۸) = ۱۱۱۲هـ ق.

∗∗∗

د آزادخان خټک په کلام کي

آزادخان د خوشحال خټک زوی دئ. اروانباد پوهاند رشتین کښلي دي چي: "ده د خپل ورور اشرف خان هجري په (پر) مرګ دا بیت ویلی دی":

د هجرت زر سل شپږ ؤ اشرف خان چې فوت شو یاره
غم اندوه د ده تاریخ دی که حساب کړې ویې شماره

(ادبي او تاریخي سموني: ۹۰مخ)

د خوشحال خان د زوی آزادخان د ادبي ژوند په باب زما سره د ویلو څه نسته.

∗∗∗

د ګوهر خان خټک په کلام کي

ګوهرخان خټک د خوشحال خټک دانشمند زوی دئ. دی د افضل نامې په نامه یوه منظومه ترجمه لري چي د هغې په خاتمه کي څو بیته د (پښتو نثر اته سوه کاله) په ۳۷۹مخ دوهم چاپ کي داسي راغلي دي:

د فارسي ترجمه ګرانه — په پښتو کړه ما اسانه
پښتانه چي ئې لولینه — ما دي هم پرې یادوینه

مسایل پکې قوي دي — واړه دُر نبوي دي
د تاریخ ئې خاتمه — شوه قوي افضل نامه
دا پښتو د دې ګوهر — د خوشحال خټک پسر

د دغو بیتو په باب د نوموړي کتاب مؤلف ښاغلي سرمحقق زلمي هیوادمل داسي کښلي دي: "په لوړو بیتونو کې یو نیم بیتی دی (شوه قوي افضل نامه). د (افضل نامه) له یادونې دوکتور راج ولي شاه خټک دا نتیجه اخیستې ده چي د کتاب نوم به افضل نامه وي، خو زما په فکر په همدې بیت کې لومړی مسری (د تاریخ ئې خاتمه) په دې ګواهي لي چي په بله مسری کې د کتاب د خاتمې تاریخ نغښتی دی. د (قوي افضل نامه) له کلماتو د ابجد په حساب (١١٢٣) تاریخ راوزي. که خبره دغسې وي، لکه چې زه فکر کوم نو دا فقهي کتاب ګوهرخان له قلب السیر (د ١١٢٠هـ ق ترجمه) درې کاله وروسته ترجمه کړی دی".

زما (هوتک) په نظر د ښاغلو دوکتور راج ولي شاه خټک او سر محقق زلمي هیوادمل دواړو استنتاج سهي دئ. له دغه نیم بیتي څخه هم د کتاب د خاتمې تاریخ راوزي او هم مترجم د خپل کتاب نوم راښيي. په پښتو کتابو کي داسي آثار نور هم سته چي مؤلف یا مترجم ئې د کتاب په نامه کي د هغه د ختمولو کال هم موندلی وي. علامه حبیب الله کندهاري (حبواخندزاده) د خپل ترجمه سوي کتاب پښتو منهاج العابدین بل نوم "اخلاق التائبین" ایښی دئ چي ابجدي ارزښت ئې ١٢٣٦هـ ق کېږي او دا د کتاب د ختمولو کال هم دئ.

* * *

د کاظم خان شیدا په کلام کي

کاظم خان شیدا د خپل دېوان د ترتیبولو تاریخي قطعه داسي ویلې ده:

په دا باب وه استدعا د عزیزانو
چي مجموع شي حلاوت د مقالات

۸۳

د تدوین تاریخ ئې رأی په دا شان وو ې
"د شیدا دیوان دی شهد او څه نبات"
۱۱۸۱هـ ق

(دیوان: ۴۹مخ د حنیف خلیل چاپ)

حل:

په دغه تاریخي ماده کي (څ) ته د (ج) ابجدي ارزښت (۳) ورکول سوی دئ. په دې ډول:

د	=	۴
ش	=	۳۰۰
ي	=	۱۰
د	=	۴
ا	=	۱
د	=	۴
ي	=	۱۰
و	=	۶
ا	=	۱
ن	=	۵۰
د	=	۴
ی	=	۱۰
ش	=	۳۰۰
هـ	=	۵
د	=	۴
ا	=	۱
و	=	۶

ځ = ج = ۳
ه = ۵
ن = ۵۰
ب = ۲
ا = ۱
ت = ۴۰۰

ټول = ۱۱۸۱ هـ ق

***

د محمودخان[1] د مړيني تاريخ ئې په نظم کي داسي ويلی دئ:

خـــود بـــه پـــو هېږي کــه خردمنــد يـــي
بــــده بـــــلا ده غــــم د دوســـــتانو
چـــې محمود خـــان دی لـــه دنيـــا تلـــل
غمونــــه قـــوت دي د غمخوارانــــو
چـــې بېلتانــــه ئـــې لـــه ډېـــره تـــاوه
بـــــل کــــړی اور دی پـــه اشـــنايانو
تـــاريخ ئـــې دا کـــړه ســـوَيه خـــاطره
"بېلتـــون لنبـــه ده پـــه ښـــو يـــارانُ"

وروستۍ مصرع ته په عدد (۱۱۶۱) ليکل سوي دي چي دا عدد هغه وخت له تاريخي مادې ځخه راوزي چي ليکدود ئې هغه راز وي لکه ما چي پورته کښلی دئ.

په کابل چاپ کي "بېلتون لمبه ده په ښو يارانو" چي د دې جملې ابجدي ارزښت (۱۱۶۵) کېږي. په پېښور چاپ همېش خليل کي "بيلتون

---

[1] دغه محمود خان بايد تحقيق سي

لنبه وه په ښو یارانو" چې د دې جملې ابجدي ارزښت بیا (۱۱۷۷) کېږي. په پېښور چاپ حنیف خلیل کې "بېلتون لمبه وه په ښو یارانو" چې ابجدي ارزښت ئې (۱۱۶۷) کېږي. یوازنی چاپ چې دا تاریخي ماده ئې سمه ضبط کړې ده، د سیدانوارالحق (دیوان کاظم شیدا مع اردو ترجمه و تشریح) دئ، خو هورې بیا د (بیلتون) کلمه (بلتون) لیکل سوې ده او که چاپي غلطي نه وي، نو به د (ب) توری غالباً کسره لري چې هغه هم له چاپه پاته سوې ده. د معمائیونو په نظر خو کسره د (ی = ۱۰) قیمت اخلي مګر د دغه راز (بلتون) اړتیا ما ته موجه نه ښکاري او دلیل مې دا دئ چې په نوټ کې ئې بیا دا کلمه په سمه توګه (بیلتون) ثبت کړې ده (وګ: د همدغه چاپ ۱۰۴۹مخ). همدا پېښه په یوه بله قطعه کې داسي بیان سوې ده:

فلــک کجــرو دی آثــار ئــې وینــې
شــغال چــې ظلــم پــه زمــري کانــدي
کلــــه عجــــب وي لــــه تعجبــــه
کــــه پــــه ژړا کــــې چــــرې وخانــــدې
تــاریخ ئــې دا رنــګ خــرد بیــان کــړ
دا خــان شــهید دی آه پــه حــق بانــدې

(دیوان: ۴۱۷ مخ حنیف خلیل چاپ)

د قطعې له ظاهري شکل و سکښت څخه داسي ښکاري چې تاریخي ماده باید(دا خان شهید دی آه په حق باندې) وي. دې قطعې ته په سر کي په ځینو نسخو کي (ایضاً) لیکل سوی دئ. په کابل چاپ کي د تاریخي مادې عدد نسته، په پېښور درو سرو چاپونو کي (د همېش خلیل، د سیدانوارالحق او حنیف خلیل) ئې تر تاریخي مادې لاندي په عدد (۱۱۶۱) کښلي دي. له سیدانوارالحق پرته چې (باندې) ئې د (بانډِ) په شکل لیکلی دئ، د نورو ټولو چاپو لیکدود یو راز دئ. د دغي جملې ابجدي ارزښت

(۱۱۷۷) کېږي. په دې ډول:

د = ۴

ا = ۱

خ = ۶۰۰

ا = ۱

ن = ۵۰

ش = ۳۰۰

ه = ۵

ی = ۱۰

د = ۴

د = ۴

ی = ۱۰

آ = ۱

ه = ۵

پ = ۲

ه = ۵

ح = ۸

ق = ۱۰۰

ب = ۲

ا = ۱

ن = ۵۰

د = ۴

ی = ۱۰

ټول = ۱۱۷۷

که د سیدانوارالحق ثبت ته اعتبار ورکړو او (باندي) د (باند) په شکل ولیکو او د کسرې (زېر) له قیمته چي د (ی = ۱۰) معادل دئ، صرف نظر وکړو، نو به د تاریخي جملې ټول ارزښت (۱۱۷۷ – ۱۰ = ۱۱۶۶) سي چي بیا هم تر مطلوبي سنې (۱۱۶۱) پنځه کاله زیات دئ. که دا قطعه رشتیا هم د محمودخان پر مړینه باندي ویل سوې وي، نو په تاریخي ماده کي باید (دا = ۴ + ۱ = ۵) شامل و نه ګڼل سي او تاریخي ماده باید داسي وي:

دا "خان شهید دئ آه په حق بانډِ". خو فکر مو وي چي د وروستي دال د کسرې (زېر) قیمت مو محاسبه کړی نه دئ.

زه چي پر شعري صنایعو باندي د کاظم خان شیدا تسلط ته ګورم، دغه راز مبهمه معما د ده له شعري کفایت سره په تضاد کي بولم او داسي فکر را ولوېږي چي په دې معما کي د دونه تعقید ځای نسته او تاریخي ماده ښايي هماغه ټوله جمله (دا خان شهید دی آه په حق باندې = ۱۱۷۷هـ ق) وي چي په دې ډول به نو دا قطعه د محمودخان پر مړینه نه وي ویل سوې او له (ایضاً) څخه به مراد دا وي، چي دا بله قطعه هم یوه معماده. (والله اعلم بالصواب).

* * *

دا بله قطعه ئې د میاعمر صاحب رحمة الله علیه پر مړینه باندي ویلې ده:

د میا په درد و غم کښې
ناله ډېره شوه هم آه
وایه دا عمر ولي
ورسره رحمت الله
علیه ورسره ضم کړه
په تاریخ به شې آګاه
(دیوان: ۲۱۴مخ، کابل چاپ)

دا قطعه په ټولو چاپونوکي همداسي ضبط ده. يوازي ئې د (حنيف خليل چاپ دېوان،۴۱۸مخ) کي د اول نيم بيتي (کښې) په (کې) اړولی دئ. د علامه رشاد رحمة الله عليه په اثر (د ځمکنو مياعمر رحمة الله عليه،۲۹مخ) کي هم د (کښې) پر ځای (کی) ليکل سوی دئ. له کابل چاپ پر ته ئې په نورو ټولو چاپونو کي ئې په عدد (۱۱۹۰) هم ورسره ليکلی دئ.

د مياصاحب رحمة الله عليه د وفات تاريخي ماده (دا عمر ولي رحمت الله عليه) ده چي ابجدي ارزښت ئې داسي محاسبه کېدلای سي:

د	=	۴
ا	=	۱
ع	=	۷۰
م	=	۴۰
ر	=	۲۰۰
و	=	۶
ل	=	۳۰
ي	=	۱۰
ر	=	۲۰۰
ح	=	۸
م	=	۴۰
ت	=	۴۰۰
ا	=	۱
ل	=	۳۰
ل	=	۳۰
ه	=	۵
ع	=	۷۰

ل	=	۳۰
ی	=	۱۰
ه	=	۵
ټول	=	۱۱۹۰هـ ق

***

کاظم خان شیدا د میا عمر صاحب د وفات بله تاریخي قطعه هم ویلې ده:

میا عمر صاحب، پخپل دوران کښې
چې کشاده ئې، د فیض باب وه
شاه و گدائې، په در حاضر وو
مرجع د خلقو، عالم مآب وه
تاریخ ئې دا دی، د رحلت واوره!
(شیخ اجل وه، قطب اقطاب وه)

(۲۱۵ مخ، د کابل چاپ)

د (شیخ اجل وه قطب اقطاب وه) ابجدي ارزښت (۱۱۹۰) دئ. په دې ډول:

ش	=	۳۰۰
ي	=	۱۰
خ	=	۶۰۰
ا	=	۱
ج	=	۳
ل	=	۳۰
و	=	۶
ه	=	۵
ق	=	۱۰۰
ط	=	۹
ب	=	۲

ا = ۱
ق = ۱۰۰
ط = ۹
ا = ۱
ب = ۲
و = ۶
ه = ۵

ټول = ۱۱۹۰هـ ق

له کابل چاپ پرته په نورو ټولوچاپونو کې تر تاریخي مادې لاندي په عدد (۱۱۹۰) کښل سوي دي. د کابل چاپ په ثبت کي د دوهم، څلرم او شپږم نیم بیتي (وه) د (ؤ) په شکل لیکل سوی دئ او په دې ډول ئې تاریخي ماده لس کاله مخکي کېږي (۱۱۸۰) ده. د حنیف خلیل چاپ دېوان (۴۱۸مخ) کي د پورتنیو نیم بیتیو (وه) د (و) په بڼه ثبت دئ او د لومړي نیم بیتي (کښې) ئې هم (کې) لیکلی دئ. د دغه دیوان له ثبت سوي مادې څخه هم (۱۱۸۰) عدد لاس ته راځي چي میاصاحب رحمة الله علیه تر دغي سنې وروسته لس کاله نور هم ژوندی وو. د دغه راز ناسم ثبت تر اغېزې لاندي اروابناد پوهاند رشتین د پېښور د جمهوریت اخبار د ۱۹۵۷ع کال د جولای میاشتي په ګڼه کي د میاعمر صاحب د مړیني کال (۱۱۸۰هـ ق) بللی دئ. دې تېروتني ته علامه رشاد (د څمکنو میاعمر رحمة الله علیه) کتاب په ۲۸مخ کي اشاره کړې ده.

علامه رشاد کښلي دي چي د میا عمر صاحب مرید (دادین) د خپل پیر د مړیني تاریخي ماده داسي ویلې ده:

سن (غصق) د پنجشنبې په ورځ اې جانه
د رجب په غُـرې لاړ شـــه له جـــهانه

د (غصق) ابجدي ارزښت (غ = ۱۰۰۰ + ص = ۹۰ + ق = ۱۰۰ = ۱۱۹۰هـ

ق) دئ.

د کاظم خان شيدا د دېوان په ټولو چاپونو کي د اول نيم بيتی وزن دوې څپې لږ دئ او دا کمبوتي علامه رشاد رحمة الله عليه پخپل اثر (د ځمکنو مياعمر صاحب) کي د (صاحب) کلمې په زياتولو سره پوره کړې ده. د (صاحب) کلمه بايد په دغه نيم بيتي کي د عروضي سکښت په حکم د لومړۍ څپې په فشار تلفظ سي.

✶✶✶

کاظم خان شيدا د خپل وراره خوشحال خان چي د سعدالله خان (اسدالله خان) زوی وو[1]، د مړيني تاريخي قطعه داسي ويلې ده:

د خوشحال په جدائي کښې باور وکړه
خسته زړه زما کباب و آه مي سيخ دی
چي روزي ئې شهادت شو په ځوانۍ کښې
نور په گور د شهيد ځوان شه دا تاريخ دی

(د کابل چاپ دېوان: ۲۱۵مخ)

له کابل چاپ دېوان پرته نور ټول چاپونه له تاريخي مادې سره به عدد (۱۱۷۷) کال هم لري. دغه کال له "نور په گور د شهيد ځوان شه" جملې څخه په دې شرط رااېستل کېدلای سي چي (گ) او (ځ) ته په ترتيب سره د (ک) او (ج) قيمتونه ورکړو. په دې ډول:

ن	=	۵۰
و	=	۶
ر	=	۲۰۰

[1] د افضل خان خټک د زوی سعدالله خان (اسدالله خان) په باب وگورئ: آواره شيدا، د حبيب الله رفيع ليکنه، ۸۴ – ۸۶مخونه، چاپ ۱۹۹۱ع. اروا ښاد دوست محمد خان کامل صاحب د تاريخ مرصع په مقدمه ۴۰ مخ کي دغه سعدالله خان او اسدالله خان د غالباً په قيد يو سړی گڼي.

پ = ۲
ه = ۵
گ = ۲۰
و = ۶
ر = ۲۰۰
د = ۴
ش = ۳۰۰
ه = ۵
ی = ۱۰
د = ۴
ځ = ۳
و = ۶
ا = ۱
ن = ۵۰
ش = ۳۰۰
ه = ۵

ټول = ۱۱۷۷ هـ ق

***

کاظم خان شيدا هغو ستونزو او ترخو ورځو ته چي حافظ رحمت خان بړيڅ ته د نواب احمدخان بنګښ پر سر د صفدر جنګ او مرهټو له لاسه ورپېښې سوي وې، په يوه شعر کي اشاره کوي:

پښتانه د "کټهېر" متزلزل دي
که هر څو وو لکه غر، قوي بنياد
چي برکي او ايراني په يو ځای شول
منتشر ئې په ديار کښي شو بېداد

و تـــاريخ تـــه ئـــې حيـــران د واقعـــات وم
راتـــه وويـــل خپـــل رأی "عظـــيم فـــساد"

(دېوان: ۲۱۵مخ، کابل)

د "عظيم فساد" ابجدي ارزښت (۱۱۶۵) دئ او دا د دغو واقعاتو کال وو.

ع	=	۷۰
ظ	=	۹۰۰
ی	=	۱۰
م	=	۴۰
ف	=	۸۰
س	=	۶۰
ا	=	۱
د	=	۴

ټول = ۱۱۶۵هـ ق

له کابل چاپ پرته په نورو ټولو کي تر تاريخي مادې لاندي په عدد (۱۱۶۵) ليکل سوي دي. د قطعې سرليک په کابل چاپ او همېش خليل چاپ کي د (واقعې تاريخ)، په حنيف خليل چاپ کي (د واقع تاريخ) او په اردو ترجمه کي (پشتونون کی هزيمت کا واقعه) دئ.

په (حنيف خليل چاپ دېوان، ۴۱۹مخ) کي ئې د څلرم نيم بيتي (کښې) په (کې) بدل سوی دئ او دا ليکدود ئې په ټول دېوان کي پاللی دئ. دا بدلون پر تاريخي ماده باندي کومه اغېزه نه لري، ځکه نو د بحث وړ نه دئ.

په همېش خليل چاپ، د سيدانوارالحق په اردو ترجمه او (حافظ الملک حافظ رحمت خان برېځی - ۶۴مخ) کي اول بيت يو څه توپير لري او په ترتيب سره داسي ثبت سوي دي:

پښتانه چه دَ کتهیر مــتزلزل دی
که هر څو وی لکه غر قوی بنیاد

او:

پُشتانه چه د کتهیر متزلزل دی
که هر څو وُو لکه غر قوی بنیاد

او:

پښتانه د کتـــهېر مـــتزلزل دي
که هر څو وو لکه غر قوي بنیاد

په اولو دوو ښتو کي د (کتهیر) کلمه دوې څپې ده، ځکه نو د وزن برابرولو په مقصد (چه) پر زیات سوی دئ، خو په نورو ښتونو کي (کتهیر) د لومړي او دوهم توري په فتحه (زوَر)، درې څپې دئ او وزن ئې بې له (چه) پوره سوی دئ. دواړه ډوله ښتونه د معماپر قیمت باندي اثر نه لري.

(کته هېر) د روهیل کهنډ پخوانی نوم دئ (وګ: غالب جنګ غازي نواب احمدخان بنګښ: ۱۲۳مخ).

* * *

کاظم خان شیدا د سرفرازخان د مړیني په باب وایي:

تـــا چـــي وکـــړ انتقـــال ســـرفرازخانه!
ګرفتـــار پـــه ډېـــر انـــدوه پـــه ډېـــر غمـــوم یـــم

پـــه هـــر بـــزم کـــښي رایـــاد د تـــا محفـــل شـــي
پـــه ژړا کـــړم ســـترګي ســـرې د شـــمع مـــوم یـــم
کـــه نـــه وای ســـرد آهونـــه ژونـــدون ګـــران ؤ
هـــسي ســـوی د فـــراق بـــاد ســـموم یـــم
پـــه هـــستئ بـــه نـــشم خـــلاص لـــه دې ســـختئ
پـــه نګـــین کـــښي د عقیـــق کینـــدلی نـــوم یـــم

دې تـــاريخ و تــــه حيـــران ســـتا د رحلـــت وم
خـــسته زړه و مـــا تـــه و وې "زه مغمـــوم يـــم"
(۲۱۵ مخ، کابل چاپ)

په کابل چاپ کې ئې (زه) په تاريخي کې شامل کړی نه دئ، ځکه ئې (۱۱۷۶ه) ځني راايستلې ده. څرنگه چې د سرفراز خان د مړيني دوې نوري قطعې هم کاظم خان شيدا ويلي دي او له هغو دواړوڅخه (۱۱۸۸) راوزي نو ماهم (زه) په تاريخي ماده کې شامل کړ.

ز	=	۷
ه	=	۵
م	=	۴۰
غ	=	۱۰۰۰
م	=	۴۰
و	=	۶
م	=	۴۰
ی	=	۱۰
م	=	۴۰

ټول = ۱۱۸۸هـ ق

په نورو ټولو چاپونو کې همدا سنه استخراج سوې ده.

* * *

د سرفرازخان د مړيني دوهمه قطعه:

هېر مې حلاوت کړ د دنيا ستا په ماتم کښې
تــا چـــې رحلـت وکــړ لـــه دنيـــا ســـرفرازخانه
پاتــه تـش جسد شــوم پــه شــماره د مردگـــانو
څرنـــگ بـــه ژونـــدی ومـــه تـــه لاړې زماجانـــه

۹٦

فـال دي د غفـران دی چي القـا مي پـه زړه وشـوه
"ې ته جنتي شې" خپـل تـاريخ وا وره لـه مانـه

(۱۰۵۳مخ، د سيدانوارالحق چاپ)

حل:

ې	=	۱۰
ت	=	۴۰۰
ه	=	۵
ج	=	۳
ن	=	۵۰
ت	=	۴۰۰
ي	=	۱۰
ش	=	۳۰۰
ې	=	۱۰

ټول =۱۱۸۸هـ ق

د دغي تاريخي مادې ثبت په نورو ټولو چاپو کي وران سوی دئ. په کابل چاپ کي"اې ته جنتي شه" دئ چي ابجدي ارزښت ئې (۱۱۷۴) راوزي. په همېش خليل چاپ کي "ته جنتي شې" ثبت دئ چي (۱۱۷۸) ځني استخراجېږي او په حنيف خليل چاپ کي"اې ته جنتي شې" ضبط دئ چي (۱۱۸۹) ورڅخه په لاس راځي. دا ټول عددونه ناسم دي او له هغه عدد (۱۱۸۸) سره چي له کابل چاپ پرته په نورو ټولو چاپونو کي ئې ورته کښلی دئ، سمون نه لري. سم ثبت ئې د سيد انوارالحق په چاپ کي راغلی دئ او ما هم هغه راواخيست.

دغه سرفرازخان د علامه رشاد رحمة الله عليه له خولې داسي پېژنو:

"سرفرازخان هغه رسمي لقب دئ چي د لوی احمدشاه بابا (۱۱٦۰ – ۱۱۸٦هـ ق) له خوا د اسدالله خان مشر زوی سعادت مند خان ته ورکړ

سوی دئ". (د ګلشن روه سریزه ۷۶مخ). دغه اسدالله خان د کاظم خان شیدا وروراو سرفرازخان ئې وراره وو.

***

د سرفرازخان د وفات دریمه قطعه:

مـا نظـر پـه غفـور وکـړه
د غفــران دې شــوم راجــي
لـــه دنیـــا، ســـرفرازخانه
چــې پاکــان ئــې دي هــاجي
ســتا د نقــل دا تــاریخ شــه
"رب دِ وه بخـــښه نـــاجي"

(۱۰۵۳ مخ د سیدانوارالحق چاپ)

په نوموړي مخ کي (بخښه) د (بخشه) په شکل ثبت دئ چي په قیمت کي توپیر نه لري.

حل:

ر	=	۲۰۰
ب	=	۲
دِ	=	۴
وَ	=	۶
ه	=	۵
ب	=	۲
خ	=	۶۰۰
ښ	=	۳۰۰
ه	=	۵
ن	=	۵۰
ا	=	۱

ج = ۳
ي = ۱۰

ټول = ۱۱۸۸هـ ق

په همېش خلیل چاپ کي تاریخي ماده "رب دِ اوبخښه ناجی" ده چي که د (دِ) کسره حساب نه کړو، ابجدي ارزښت ئې (۱۱۸۴) کېږي او که ئې د (ی = ۱۰) په قیمت وشمېرو، (۱۱۹۴) ځني راوزي. په حنیف خلیل چاپ کي "رب دې وبخښه ناجي" ده چي ابجدي ارزښت ئې (۱۲۰۲) کېږي. دا ټول عددونه سهي نه دي که څه هم تر تاریخي مادې لاندي ئې په ټولو چاپونو کي په عدد (۱۱۸۸) ورته کښلي دي. سم ثبت ئې د سید انوار الحق چاپ دېوان کي "رب دِ وه بخشه ناجی" دئ، په دې شرط چي د (دِ) کسره په حساب کي و نه شمېرو. معمائیون زیاتره کسرې پر لسو شمېري، خو د انصراف مثالونه ئې هم زیات سته. ما د سید انوارالحق ثبت راوړی دئ. د کابل چاپ دا قطعه نه لري.

* * *

کاظم خان شیدا د خپلي مور مړینه داسي راښیي:

چـې والـدې مـې ارتحـال وکـړ
ځـای ئـې جنـت شـه دنیـا زنـدان وه
تـاریخ (ئـې) دا رنگ د رحلت ووې
خرد و مـا تـه "میاشت د شعبان وه"

(آواره شیدا: ۴۷مخ)

حل:

م = ۴۰
ی = ۱۰
ا = ۱
ش = ۳۰۰

ت	=	۴۰۰
د	=	۴
ش	=	۳۰۰
ع	=	۷۰
ب	=	۲
ا	=	۱
ن	=	۵۰
و	=	۶
ه	=	۵

ټول = ۱۱۸۹هـ ق

دغي تاريخي قطعې د کاتب د بې پروايۍ له اسيته ډېر غټ څېړنيز بحث رامنځ ته کړی وو. ارواښاد دوست محمدخان کامل مومند چې کله د تاريخ مرصع متن چاپ ته آماده کاوه او حواشي ئې پر کښلې، دې نتيجې ته رسېدلی وو، چې د کاظم خان شيدا پلار افضل خان خټک ګڼل نورو اسنادو ته اړتيا لري او دليل ئې دا وو چې په تاريخ مرصع کي د افضل خان خټک د زامنو په لړ کي د کاظم خان نوم نسته. په دې ترڅ کي ئې د دغي تاريخي قطعې په باب هم ، چې تر دغه وخته د کاظم خان شيدا د (والد) د مړيني قطعه ګڼل کېدله، د شک څر ګندونه وکړه. دا بحث زما د دا اوسني کتاب موضوع نه ده، ځکه نو تفصيلي بيان نه باندي کوم. د ارواښادکامل صاحب د دغه شک په جواب کي او په مجموع کي د تاريخ مرصع د چاپ او تعليقاتو په باب ارواښاد پوهاند رشتين صاحب څو کاله وروسته د کابل پوهنتون د ورېمې مجلې د ۱۳۵۶ش کال په (۲مه) ګڼه کي يوه انتقادي مقاله خپره کړه او د هغې په ترڅ کي ئې د دغي قطعې په باب وکښل چې:
"... د دغې رباعي اوله مسره شعري کسر لري او يوسېلاب کمه ده، بايد

داسي ولوستل شي: (چې والدې مې ارتحال وکړ)[1]. سید انوارالحق هم دغي کمبوتۍ ته متوجه سوی دئ او د (خپل) کلمې په زیاتولو سره ئې د مصرع وزن سم کړی دئ خو ښاغلی حنیف خلیل لیکي د (خپل) کلمه په خطي دېوان کي نسته[2]. کامل مرحوم د دغي انتقادي مقالې جواب وکیښ، پر خپل پخواني موقف ئې ټینگار وکړ خو په ځنگ کي دا خبره هم وکړه چي د تاریخ مرصع په سریزه کي ئې له دې خبري څخه "سکوټ انکار نه دی کړی چې کاظم خان شیدا د تاریخ مرصع د مؤلف افضل خان زوی دئ". دا خبره ئې پخپل یوه بل اثر چي (۱۶۳۰ع) نومېږي، تکرار کړه[3]. ښاغلي حبیب الله رفیع د دغي تاریخي قطعې د سپینېدو په نیامت د شیدا د دېوان هغه نسخه وکتله چي د ده په ژوند خطاطي سوې او د اسلامیه کالج په کتابتون کي خوندي ده. د خپل تحقیق جریان ئې په اواره شیدا- ۴۶مخ کي وکیښ او د (والد) پر ځای ئې (والدې) کلمه تائید کړه چي ما هم پورته رانقل کړې ده.

په بینواچاپ، د همیش خلیل چاپ او د سیدانوارالحق دېوانو کي د دغي قطعې عنوان (د پلار مړینه) دئ خو په حنیف خلیل چاپ کي د خطي نسخې په پیروۍ (تاریخ) لیکل سوی دئ. په درو سرو چاپونو کي په عدد (۱۱۸۳) ورته لیکل سوي دي خو په حنیف خلیل چاپ کي دغه سنه (۱۱۸۹هـ) لیکل سوې ده چي همدا ئې سمه ښه ده. دی لیکي چي ښاغلي همېش خلیل پخپل بل کتاب (ساهو ادب) کې دغه سنه سمه کړې ده[4].

---

[1] زما لاس اوس د وړمې مجلې نومو ړي گڼې ته نه رسېږي او اقتباس مي له "آواره شیدا" نومي رسالې ۱۴مخ څخه اخیستی دئ (م. هـ).

[2] وگ: د حنیف خلیل چاپ دېوان: ۴۸۱مخ، ۱۸۳یم لمنلیک.

[3] وگ: نوموړی اثر: ۲۲۸مخ.

[4] وگ: هماغه مخ، هماغه لمنلیک.

***

د والدې د مړيني بله قطعه:

غـم بـه تـر عمـره د والـدې کـړم
خنـدا مـې پرېـښوه ژړا کـوم زه
سـال د رحلـت ئـې لـه مانـه واوره:
"بهـشت ې ځـای شـه دعـا کـوم زه"

(آواره شیدا: ۴۷ مخ)

حل:

ب	=	۲
ه	=	۵
ش	=	۳۰۰
ت	=	۴۰۰
ې	=	۱۰
ځ	=	۳
ا	=	۱
ی	=	۱۰
ش	=	۳۰۰
ه	=	۵
د	=	۴
ع	=	۷۰
ا	=	۱
ک	=	۲۰
و	=	۶
م	=	۴۰
ز	=	۷

ه = ۵

ټول = ۱۱۸۹ه‍ ق

د دې قطعې عنوان په همېش خليل چاپ او حنيف خليل چاپ کې (د مور مړينه)، د سيدانوارالحق چاپ کې (اپنی والده کی تاريخ وفات) دئ. په درو سرو چاپونو کې په عدد (۱۱۸۹ه‍) ورته ليکل سوی دئ. د بېنوا چاپ عنوان او عددي ښوونه نه لري.

* * *

د حافظ رحمت خان د شهادت تاريخي ماده ئې داسې ويلې ده:

په ميدان چې حافظ جې پرېووت شهيد شه
کشنده يې په رحلت کښې شه عجول
استفسار که د تاريخ کاندې څوک، وايه:
چې "يو کال و د قاتلُ د مقتول"

(دېوان: ۲۱۶مخ، د بېنوا چاپ)

د بېنوا چاپ په ثبت کې ما يو څه لاس وواهه چې دليل به ئې وروسته ولولی. په هغه چاپ کې تاريخي ماده (يو کال و د قاتل و د مقتول) ثبت سوې ده. په همېش خليل چاپ کې (چه يؤ کال و قاتل و د مقتول)، په حنيف خليل چاپ کې (چې يو کال د قاتل و د مقتول)، په سيد انوارالحق چاپ (چه يو کال و، قاتل و د مقتول) ده. بېنوا چاپ په عدد څه نه دي ورته کښلي خو په نورو چاپو کې ئې په عدد (۱۱۹۴) ورته ليکلي دي. دغه عدد يوازې د بېنوا چاپ له ثبت څخه لاس ته راتلای سي. په سيد انوارالحق چاپ کې ئې دا خبره هم د نوټ په شکل پر زياته کړې ده چې: (يهی ۱۱۹۴ه‍ خود کاظم خان شيدا کا سال رحلت بهی بتايا گياهې – اگر اس تاريخی مصرعې سې صرف چار الفاظ" يو، کال، قاتل، مقتول" ليتی هين تو ان سې ۱۱۷۴ه‍ نکلتاهې). د کاظم خان شيدا د وفات کال رشتيا هم ۱۱۹۴ه‍ ق دئ او د ښاغلي حنيف خليل خبره: "...د شک او تردد نه پاک

دی"[1]. د حافظ رحمت خان د شهادت کال په پښتو، اردو، عربي او فارسي ژبو کي ویل سوی دئ او له ټولو څخه بالاتفاق (۱۱۸۸هـ ق) راوزي[2]. خو د حیرانتیا ځای دا دئ چي د کاظم خان شیدا دغي قطعې ته له کابل چاپ پر ته په ټولو چاپ سوو دېوانو کي په عدد (۱۱۹۴هـ) لیکل سوي دي.

اوس پوښتنه دا ده، چي د کاظم خان شیدا له دغي قطعې څخه د حافظ رحمت خان د شهادت کال باید څرنګه استخراج سي؟ دغي پوښتني ته علامه رشاد پورتنۍ تاریخي قطعې ته په لمنلیک کي جواب ویلی دئ او هغه دا چي: "د قاتل او مقتول تر منځ د عطف کلمه نسته، د قاتل د لام په پېښ اکتفاسوې ده". چي د دې د استدلال له مخي باید له تاریخي مادې د عطف (و) وایستل سي او "یو کال و د قاتلُ د مقتول". په دې ډول به د حافظ رحمت خان د شهادت کال (۱۱۸۸هـ ق) ترې راووزي.

حل:

ی	=	۱۰
و	=	۶
ک	=	۲۰
ا	=	۱
ل	=	۳۰
و	=	۶
د	=	۴
ق	=	۱۰۰
ا	=	۱

---

[1] وګورئ: د کاظم خان شیدا دېوان، تدوین د حنیف خلیل، ۱مخ، چاپ ۲۰۰۵ع.

[2] د تفصیل له پاره وګورئ: د علامه رشاد "حافظ الملک حافظ رحمت خان برېڅی ...: ۷۶، ۷۷، ۷۸ مخونه.

ت = ۴۰۰
ل = ۳۰
د = ۴
م = ۴۰
ق = ۱۰۰
ت = ۴۰۰
و = ۶
ل = ۳۰

ټول = ۱۱۸۸هـ ق

د حنيف خليل چاپ دېوان کي دغه تاريخي ماده (يو کال د قاتل و د مقتول) ثبت سوې ده او له دې ثبت څخه د حافظ رحمت خان د شهادت کال (۱۱۸۸هـ ق) راوزي، خو په عدد سره د (۱۱۹۴هـ ق) ليکل ئې د حيرانتيا وړ دئ.

* * *

د کاظم خان شيدا په دېوان کي بله پښتو تاريخي قطعه داسي ده:

چي فتح او الله نور له دنيا ولاړل
په غمونو کښې ئې فرق تر مياشتې کم
په هر چا وو رحلت سخت د دواړو رونو
په فراق کښې ئې نالان وو لوی او کم
تأمل ئې په بيان د تاريخ وشه
راته ووې زړه "آها د قلوب غم"
(۴۲۱مخ د حنيف خليل چاپ)[1]

[1] په پورتنی ټوټه کي د دواړو (کښې) پر ځای (کي) ليکل سوی دئ.

حل:

آ	=	۱
هـ	=	۵
ا	=	۱
د	=	۴
ق	=	۱۰۰
ل	=	۳۰
و	=	۶
ب	=	۲
غ	=	۱۰۰۰
م	=	۴۰
ټول	=	۱۱۸۹هـ ق

ارواښاد دوست محمدخان کامل د تاریخ مرصع په مقدمه (۳۹ مخ، د ۲۰۰۶ع چاپ) کې په دغه تاریخي قطعه کې راغلي کسان (فتح او الله نور) د کاظم خان شیدا وروڼه بللي دي، خو زما فاضل استاد علامه رشاد مرحوم د ګلشن روه په سریزه (۷۳مخ) کې دغه نظر رد کړی دئ او کښلي ئې دي: "خو ما ته په فتح خان او الله نور پوري د مربوطي قطعې سیاق داسي نه ښکاري چي دوی دي د کاظم خان شیدا وروڼه وي، بلکه زه ګمان کوم دوه پښتانه وروڼه په یوه میاشت کي مړه دي او دغه پېښه د روهیلکهنډ د ډېرو پښتنو د خواشینۍ سبب ګرزیدلې ده چي په هغو کي کاظم خان شیدا غوندي حساس شاعر دی، ...". د علامه مرحوم دغه نظر

په آواره شیدا (۴۹مخ) کي اوله مصرع (چې فتح الله او الله نور له دنیا ولاړل) ثبت سوې ده. ارواښاد دوست محمد خان کامل صاحب هم د تاریخ مرصع په مقدمه (۳۹مخ، چاپ ۲۰۰۶ع) کي د دې دوو وروڼو نومونه (فتح الله او الله نور) لیکلي دي.

ښاغلي حبيب الله رفيع په آواره شيدا (۴۸مخ) کي هم پخپلو جملاتو کي منعکس کړی دئ.

د تاريخ مرصع د همدې چاپ (۲۰۰۶ع) د سريزي په همدې (۳۹) مخ کي د کاظم خان شيدا د ديوان په بينوا چاپ کي د پورتنۍ قطعې په اړه ليکل سوي دي:

(د بينوا نسخه کښې "هي هي د قلوب غم" او اعداد ۱۱۹۱ د ديو الفاظو اعداد ۱۲۱۲ جوړيږي).

د بېنوا چاپ په نسخه کي تاريخي ماده "هي هي دقلوب غم" نه ده، بلکي "آها د قلوب غم" ده خو په عدد ئې رشتيا هم (۱۱۹۱ه) ورته کښلي دي.

٭٭٭

د کاظم خان شيدا په دېوان کي د مير معصوم ثاني رحمة الله عليه د وفات يوه تاريخي قطعه او د نواب علي محمدخان د وفات درې قطعې سته، خو هغه ټولي په فارسي ژبه دي او زما د دې حاضر کتاب موضوع د پښتو شعر تعميې دي، له څو استثناوو پرته مي فارسي تعميې نه دي اخيستي.

٭٭٭

دريم څپرکی

تعميې د منځنۍ دورې په ادب کې

د اخوند ګدا په کلام کې

اخوند ګدا د نافع المسلمين مؤلف دئ. ده پخپل دغه کتاب کې د نواب احمدخان بنګښ د ورور نواب قائم خان قائم جنګ د وژلو تاريخي ماده داسې ويلې ده:

د تاريخ حساب ئې "بلغ العلا" دی
له دنيا په دا تاريخ بلند مکان ولاړ

د دغې تاريخي مادې حل او د نواب قائم خان د وژلو تفصيلي بيان علامه رشاد مرحوم پخپل کتاب (غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ ...) په ۷۱ – ۸۳ مخونوکې راوړی دئ . هورې ئې کښلي دي: "پښتانه شاعر اخوند ګدا په نافع المسلين کې د دغه ځواني مرګ نواب د مرګ تاريخ "بلغ العلا" (۱۱۶۳ – ۱ = ۱۱۶۲هـ ق) راوړی دی چې د "بلندمکان" په تعميه سره د تخرجې په ډول د يوه عدد ځيني وزي او ۱۱۶۲ پاتېږي".

د تاريخي مادې حل:

په پښتانه شعراء لومړي ټوک کې د دغه بيت د تاريخي مادې ليکدود د (بلغ العلی) په شکل ثبت سوی دئ او له هغې څخه ئې (۱۱۷۳هـ ق) کال راايستلی دئ چې په دغه ليکدود سره سم استخراج دئ. خو علامه رشاد رحمة الله عليه هغه جګړه، چې نواب قائم خان خپل سر پکښې وخوړ، د

نواب علي محمدخان له وفات سره متصله بللې ده. نواب علي محمدخان د ۱۱۶۲هـ ق کال د کوچني اختر په دريمه د روهيلکهنډ په مرکز (انوله) کي مړ سو (وګ: غالب جنګ ...: ۷۱مخ). له همدې اسيته ئې د اخوند ګدا په پورتني بيت کي تاريخي ماده د "بلغ العلا" په ليکدود کښلې ده او له هغې څخه ئې لکه چي پورته مو ولوستله، (۱۱۶۲هـ ق) کال رااېستلی دئ.

په پورتنۍ محاسبه کي د (بلغ العلا) ابجدي ارزښت (۱۱۶۳) بلل سوی دئ. ګويا د تاريخي مادې د منځ الف په شمېر کي نه دئ راغلی ځکه که دغه الف په محاسبه کي راولو، نو د دغي مادې ارزښت (۱۱۶۴) کېږي:

ب	=	۲
ل	=	۳۰
غ	=	۱۰۰۰
ا	=	۱
ل	=	۳۰
ع	=	۷۰
ل	=	۳۰
ا	=	۱
ټول	=	۱۱۶۴

د (۱۱۶۳) د منلو په صورت کي بايد تاريخي ماده (بلغ لعلا) وليکل سي. فهوالمراد.

***

د نواب محبت خان په کلام کي

نواب محبت خان د خپل پلار حافظ رحمت خان بريڅ د شهادت بله تاريخي ماده په "خانا دلِ راشا" کي موندلې ده.

آن حــافظ شــرع نبــوی بعــد شـــهادت
چــون رفــت ســوی خلــد بــرین بهرتماشــا
رضــوان پــی تعظیم زجاجست و همــی گفت
در معنــی تــاریخ کــه "خانــا دلِ راشــا"
(حافظ الملک ...: ۷۷مخ)

"خانا دلِ راشا" = ۱۱۸۸هـ ق[۱].

محبت خان د پلار د شهادت تاریخ په عربي ژبه هم ویلی دئ چي زما فاضل استاد علامه رشاد رحمه الله علیه هغه په پښتو نظم ترجمه کړی دئ. له موضوع سره د ارتباط له مخي به ئې د (حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅی او د هغه کورنی) له کتابه – ۱۳۲ – ۱۳۳مخونه) عربي او پښتو نظمونه دواړه رانقل کړم. عربي:

اذا مــات شــیخ الـنـصیر الکبیر
ســـئلنا مـــن الله تاریخـــه
علــی سنت المـصطفی عامــل
فقــد قــال (فــی جنتــی داخــل)

پښتو:

چــي پــه دنیــا کــي د نبــي پــر شــرعه ټینــګ و حــافظ
ګمــان مــي کــړ پــه آخــرت کــي هــم واصــل دی حــافظ
دغـــه تـــاریخ ذهـــن تـــه راغـــی، د الهـــام پـــه توګـــه
چي یو پر زیات کړې "په جنت کي زما داخل دی" حافظ

---

[۱] دغه تاریخي ماده په یوه اردو بیت کي هم داسي راغلې ده:
حافظ کا گِرا گھوړې سې جس وقت که لاشا
هاتف نې دې آواز که (خانا دلِ راشا)

د (فی جنتی داخل) پښتو ترجمې په باب علامه مرحوم داسي توضيح ورکړې ده:

"ما (رشاد) دغه تاريخي ماده له عربي څخه په پښتو داسي وژباړله:
(په جنت کي زما داخل دی)، خو دغه جمله تر (۱۱۸۸) يو کال لږ سوه، اړ وتلم چي د تکملې په عمليه يو عدد پر زيات کړم ...".

نواب محبت خان بړيڅ پښتو - فارسي قاموس هم کښلی دئ چي (رياض المحبت) نومېږي. د دغه قاموس د تصنيف کولو تاريخي ماده ئې په فارسي داسي ويلې ده:

اين تحفه نسخه نو ، تصنيف شد چو از من
آمد نِدا زهر سو ، صد آفرين و رحمت
سال تمام آنرا ، هر گه زغيب جستم
تاريخ گفت هاتف، (نو نسخه محبت)

د (نو نسخه محبت) ابجدي ارزښت (۱۲۲۱) دئ او دا په قمري حساب د رياض المحبت د تاليف کال دئ.

* * *

د نواب الله يار خان په کلام کي

نواب الله يارخان هم د حافظ رحمت خان بړيڅي زوی دئ. ده د عجائب اللغات په نامه يو قاموس کښلی دئ چي هندي لغتونه ئې په پښتو، بارسي او عربي معنا کړي دي. د دغه قاموس د بشپړېدلو کال ئې په پښتو نظم داسي ښوولی دئ:

ما چي خيال د تاريخ وکه، له هجرته مي حساب شو
هم ئې دا جمله تاريخ شو ، (چِ اتمام يِ د کتاب شو)

له دې تاريخي مادې څخه (۱۲۲۸هـ ق) کال راوزي، په دې شرط چي

جمله په همدې لیکدود ولیکل سي، نه په اوسني مروج رسم الخط.

د حافظ رحمت خان بړېڅی په فرهنگپاله کورنۍ کي خورا زیات د نامه څښتنان پوهان تېر سوي دي خو د هغوی پښتو آثار محدود و معدود دي. په اردو، عربي، فارسي ژبو ئې ډېري تاریخي مادې د شعر په ژبه ویلي دي چي زما د حاضر کتاب په چوکاټ کي نه سي راتلای. لوستونکي دې زما د فاضل استاد علامه رشاد په درانه اثر (حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅی او د هغه کورنۍ) کي ولولي.

***

د پیر معظم شاه په کلام کي

پیر معظم شاه د تواریخ حافظ رحمت خاني مؤلف دئ. دی د خپل دغه کتاب په پای کي د هغه د لیکلو تاریخ داسي بیانوي:

دا کتـــاب مـــې منتخـــب کـــړ
پـــه ښـــه شـــان مـــې مهـــذب کـــړ
هجـــر ســـن مـــې هـــم حـــساب کـــړ
زړه مې خلاص له پیچ و تـاب کـړ
هجـــري ســـن زر ســـل اتیـــا دی
یـــو کـــال بـــل هـــم پـــرې بـــالا دی
غـــــره هـــــم د محـــــرم ده
دا رنـــگ یـــاد د معظـــم ده

(۱۸۸مخ، چاپ ۱۹۸۷ع پېښور)

دا کتاب ئې د ۱۱۸۱هـ ق کال د محرم میاشتي پر اوله پای ته رسولی دئ.

د (حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅي او د هغه کورنۍ) په کتاب

(۹۴ مخ) کي دا بیتونه په یو څه بدلون سره ثبت سوي دي او د کتاب د تالیف کال د چاپي غلطۍ له اسیته (۱۰۸۱ه ق) بلل سوی دئ، چي سهي نه دئ.

دا کتـــاب یـــې منتخـــب کـړ
پــه ښــه شــان مــي مهــذب کـړ
مختـــصر مـــي دا کتـــاب کــه
ســـن د هجــر مـــي حـــساب کــه
هجـــري ســـن زر و اتیـــا دی
یــو کــال بــل هــم پــرې بــالا دی
غـــــره هـــــم د محــــــرم ده
دا رنـــگ یـــاد د معظـــم ده

تواریخ رحمت خاني پیرمعظم شاه د حافظ رحمت خان (۱۱۲۰ – ۱۱۸۸ه ق) په لارښوونه کښلی دئ ځکه نو د تالیف کال ئې باید ۱۱۸۱ه ق وي. که ۱۰۸۱ ومنو، نو په دغه کال خو حافظ رحمت خان زیږېدلی لا نه دئ نو د کتاب لارښوونه به ئې پیر معظم ته څرنگه کوله؟

***

د دادین شاعر په کلام کي

دادین د څمکنو د میاعمر صاحب رحمة الله علیه مرید وو. ده د خپل پیر د وفات سانده ویلې ده او په هغې کي ئې د وفات تاریخي ماده داسي بیان کړې ده:

ســن (غـصق) د پنجـشنبې پــه ورځ اې جانــه
د رجـــب پـــه غـــرې لاړ شـــه لـــه جهانـــه

(د څمکنو میاعمر رحمة الله علیه: ۳۰ مخ)

د (غصق) ابجدي ارزښت (۱۱۹۰) دئ. د دادين له بيانه داسي ښکاري چي مياعمر صاحب د همدې کال د رجب په اوله د پنجشنبې په ورځ وفات سوی دئ. د تقويم تاريخي په حواله د ۱۱۹۰ هـ ق کال د رجب لومړۍ ورځ جمعه وه (د ۱۷۷۶ع داګسټ ۱۶مه).

* * *

د څمکنو د مياعمر صاحب په کلام کي

د څمکنو ميا صاحب د خپل منظوم اثر شمايلنامې د ويلو کال په نظم کي داسي ويلی دئ:

په مقام د پېښور په څمکنو کي
شمايل شه د طالب د زړګي نهال
زر و سل او دري شپېته د هجرت سن و
چي را وخوت دا مذکور لکه هلال

(د څمکنو مياعمر: ۵۳مخ)

د شمايلنامې د ليکلو کال (۱۱۶۳هـ ق) دئ.

* * *

د عليخان په کلام کي

عليخان په يوه شعر کي خپل نوم د معماپه صنعت کي راوړی دئ:

معما ءِده اووه سوه د اسم
لاهم کم دی که دوه واره ورله لام لاړ

(دېوان ۵۳ مخ د ۱۹۵۱ع کال چاپ)

د ۱۹۳۹ ع = ۱۳۵۸هـ ق چاپ دېوان ۳۶مخ کي دوهمه مصرع (لا يو کم دی که دوه څله ورله لام لاړ) ده. دغه ثبت کټ مټ په هغه چاپ کي

هم اخیستل سوی دئ چي د ښاغلي حبیب الله رفیع په مقدمه د پښتو ادبی مرکز سرای نورنګ (بنون) له خواپه ۱۹۹۱ع کال خپور سوی دئ. دا ثبت ځکه ناسم دئ چي مقطع د غیر منقوط غزلي ده او دلته دوې کلمې (یو، څله) ټکي لري. د لومړي ثبت حل داسي ښوول سوی دئ:

حل:

له (۷۰۰) سره چي د "ورله" په قرینه دوه واره (ل = ۳۰) جمع سي، (۷۶۰) لاس ته رائي. خو شاعر وايي چي دا عدد د ده د نامه له پاره "لا هم کم دئ". دا چي څونه کم دئ، باید د ده د نامه (علیخان) ابجدي ارزښت معلوم سي. دا ابجدي ارزښت (۷۶۱) دئ. په دې ډول:

ع	=	۷۰
ل	=	۳۰
ی	=	۱۰
خ	=	۶۰۰
ا	=	۱
ن	=	۵۰
ټول	=	۷۶۱

(۷۶۰) تر پورتني عدد (یو) کم دئ او شاعر د غیر منقوط صنعت په حکم ټکي لرونکی توری (ي) نه سی لیکلای ځکه ئې (لاهم) لیکلی دئ او مراد ئې (۱) دئ. دا هغه توجیه ده چي د دېوان علیخان شارح او مقدمه لیکونکي سیدتقویم الحق کاکاخېل د دغه دېوان د (۵۳مخ) په اوله حاشیه کي کښلې ده.

د دغي غیر منقوطي غزلي مطلع داسي ده:

دا مِ دم که مِ هــمدم که دلارام لاړ
هم مِ روح وه لاړ له ماهم مِ آرام لاړ

د چاپي دېوانو د ثبت له مخې له (لا) څخه د (یو) مفهوم اخیستلو له پاره هیڅ راز منطقي قرینه نسته. (لا) که عربي وګڼو، د نفي معنا لري او که ئې پښتو وبولو د (هنوز) معنا لري.

خوشحال خان وایي:

لا تر اوسه ئې مـــاغزه پر قرار نه دي
چا چې ماسره وهلی سر پر سنګ دئ

د (لا) توري څخه په عربي او پښتو دواړو معناوو کې د (۱) مفهوم اخیستلو ګنجایش نسته. په نتیجه کې ویلای سو چې د (لا) پر ځای په اصل شعر کې کومه بله کلمه وه او د کاتب د ناپوهۍ و بې پروایۍ له اسیته ئې پر ځای (لا) راوړل سوې او پسې عامه سوې ده. د دغه ګومان د سموالي له پاره به زه اول د اورنګزېب ارشاد د (بدیع او د پښتو شعر) کتاب له (۳۰مخ) څخه دغه معما رانقل کړم. هورې ئې د (لا) پر ځای (بیا) راوړی دئ:

معـــــما مې ده اووه ســـوه د اسم
بیا هم کم دی که دوه ځله ورله "لام" لاړ

ښاغلي اورنګزېب ارشاد خپل مأخذ نه دئ ښوولی خو په دوهم نیم بیتي کې (دی) فعل ته توجه په کار ده. علیخان دا فعل د (معما) له پاره راوړی دئ. (معما) کلمه د جنس له مخې مؤنثه کلمه ده او اړوند فعل ئې باید هم مؤنث وي او (بیا هم کمه ده) باید لیکل سوې وای. دغه اعتراض د (لا) په کارولو کې هم وارد دئ. د دغې ماشوړې د حل له پاره زه پخپل کتابتون کې د علیخان د دېوان د خطي نسخې کاپي په مثال کې راوړلای سم. هورې د دغې غزلي مقطع داسې ده:

معـــما م ده اووســـوه د اســـم
دا هم کم وو دوه واړه وله لام لاړ

د (لا هم)، (بيا هم)، (دا هم) بېلابېل ثبتونه دا ګومان پیاوړی کوي چې د معماپه ثبت کې لاسونه وهل سوي او اصل ثبت بل راز دئ.

زما يقين دئ چې په دغه معما کې دوهمه مصرع ("آ" هم کم دی که دوه واره ورله لام لاړ) ده. د (آ) ابجدي ارزښت (يو = ۱) دئ او مطلوبه سنه هم د (۱) په زياتولو سره په لاس راځي. زما د دغې يقيني توجيه له مخې به نو د معمااصلي بڼه داسې وي:

معــما مې ده "اووه ســــوه" د اسم
"آ" هم کم دی که دوه واره ورله لام لاړ

له "آ" سره (دی) فعل هم کومه ستونزه نه لري او په ګرامري لحاظ ورسره وايي.

✶✶✶

عليخان په يوه بل بيت کې وايي:

سن د هجر غـــر وه سر د کاڼي ترې کمـــتر وه
ورځه ديارلسم د ذوالحجې وه په تحرير کښې
(۵۵مخ)

د دې مادې سمدستي حل د چا ذهن ته داسې ورځي چې تاريخي ماده "غر" ده چې ابجدي ارزښت ئې (۱۲۰۰) کېږي. له دې عدد څخه چې د (کاڼي) سر يعني (ک = ۲۰) کم سي، (۱۱۸۰) پاتېږي. د ده مطلوبه واقعه د ۱۱۸۰هـ ق کال د ذوالحجې په ديارلسمه پېښه سوې وه. ډاکټر سيد تقويم الحق کاکاخېل د (دېوان عليخان،چاپ ۱۹۵۱ع د سريزې په "ک" مخ او د متن ۵۵مخ) کې هم همداسې حل کړې ده. د پښتو ژبې نقاد څېړونکي اروانښاد قلندر مومند (۱۹۳۰ – ۲۰۰۳ع) د محمدي صاحبزاده د دېوان د سريزې په "و" مخ کې دا تاريخي ماده بل راز حلوي او هغه دا چې مطلوبه سنه تر (غر = ۱۲۰۰) د کاڼي د سر (ک = ۲۰) په اندازه کمه وه او په دې ډول بايد(۲۰) له (۱۲۰۰) سره جمع سي چې (۱۲۲۰) لاس ته راسي. دا کال

د محمدي صاحبزاده د وفات کال دئ چي عليخان ئې ګويا ورځ هم راښوولې ده چي د ذوالحجې ديارلسمه ده. محمدي صاحبزاده ته د عليخان ارادت (مريدي يا مخلصي) اروانښاد قلندر د عليخان په دې بيت سره ثابتول غواړي:

زه پيرو د محمدي يم هم تابع د صاف جامي يم
په دا دواړو پسې ما ده ځـــــکه کړې اقـتدا دا

د عليخان دا بيت د ده د ديوان په (۱۳۵۸هـ ق = ۱۹۳۹ع) چاپ کي داسي دئ:

زه پس رو محمدی يم، هم تابع د صاف جامی يم
په دا دواړ پسې مــــا ده، ځکه کــــړې اقـــتدا دا
(۶مخ)

او د (۱۹۵۱ع) په چاپ کي:

زه پيرو محمدی يم، هم تابع د صاف جامی يم
په دا دواړو پسې ما ده، ځــکه کــړې اقتدا دا
(۸ مخ)

دا بيت په همدې شکل د ديوان په (۲۰۰۵ع - چاپ دانش) کي هم ثبت دئ.

زما د کتابخانې په خطي نسخو کي د عليخان ديوان د يوې خطي نسخې کاپي سته چي اصلي نسخه د ښاغلي صحاف په کلکسيون کي خوندي ده. په دغه خطي نسخه کي پورتنی بيت داسي راغلی دئ:

زه پس رو د محمد يم، هم تابع د لـوی احـديم
په دوی دواړو پسې ځکه، ما ده کړې اقتدا دا

د اروانښاد قلندر مومند له خوا د دغه بيت په ثبت کي تر "محمدي" دمخه (د) ور زيات سوی او د بيت وزن ئې يوه هجازيات کړی دئ. که بيت پخپل پخواني ثبت کي ولوستل سي د هجا د زياتوالي عيب ئې له

منځه ځي او په هغه صورت کي له "زه پیرو محمدي یم" څخه مراد د آنحضرت ﷺ پیروي ډېره غالبه ایسي نظر د "محمدي صاحبزاده" تر پیروۍ. زما د کتابتون د خطي نسخې ثبت خو بېخي په څرګنده توګه "د محمد" پیروي یادوي، نه د محمدي صاحبزاده. دا هغه خبري دي چي یو نقاد څېړونکی هرومرو ورسره مخامخ کېږي، خو د دې معنا به دا نه وي چي د قلندر مومند مرحوم استنباط دي هرومرو غلط وي.

د قلندر مرحوم له دغه استخراج سره ارواښاد پوهاند رشتین موافقه نه لرله او د "غر" له ابجدي ارزښت څخه ئې د "ک = ۲۰" تفریق کول صحیح ګڼل (د علیخان دېوان چاپ ۲۰۰۵ع د سریزي د "پینځه" مخ په حواله).

د پښتو ژبي معاصر نقاد لیکوال پروفېسر راج ولي شاه خټک هم په دې برخه کي د ارواښاد قلندر مومند له دې استنباط سره موافق نه ښکاري او لیکي چي: د "سن د هجر ..." بیت اړونده "... ټول غزل ډېر شوخ او رنګین دئ د مرثیې هیڅ رنګ نه لري او نه په کې څه غم و اندوه ښکاره کړه شوی دی؛ نو په داسې حال کې، چې علي خان د محمدي صاحبزاده پیرو یا مرید ګڼلی کېږي؛ نو په دا قسم رنګین غزل کې د هغوی د وفات تاریخ څومره امکان لري؛ ځکه، چې د غزل په وړاندې او وروسته شعرونو (مراد بیتونه دي. هوتک) کې د واقعي نوعیت په هکله هیڅ اشاره نشته". (وګ: د علیخان دېوان، چاپ ۲۰۰۵ع، د سریزي پنځه – شپږ مخونه).

* * *

د علیخان په کلام کي پر یوه بل بیت باندي هم د احتیاط په قید سره د تعمیې خیال کېدلای سي. بیت داسي دئ:

مرسته مې واجب شوه د جهان په نرو ښځو
هسې شـــان ځـپلی د یوه کاف استیلا یم
(۹۱مخ)

شارح ورته کښلي دي چې له (کاف) څخه مراد (کفر) دئ او که د کوم ځای پر مسلمانانو د کفر استیلا غلبه وکړي د ټول جهان پر نروښځو باندي له دغه مظلوم قوم سره مرسته کول واجب ده.

* * *

د یونس په کلام کي

یونس په پښتو ژبو شاعرانو کي هغه څوک دئ چي تر بل هر چا ئې په شعر کي د تعمیې صنعت ته ډېره پاملرنه کړې ده. د ده دېوان په کابل کي د څېړندوی خدمتګار په سریزه او تصحیح چاپ سوی دئ. وایي هغه خطي نسخه چي دغه دېوان ورڅخه ترتیب سوی دئ، د څمکنو د میا عمر رحمة الله علیه د زوی محمدي صاحبزاده تر نظر تېره سوې ده او ښه ډېري معماوي ئې د هغه له خوا حل سوي دي. څه چي پاته دي، زیاتره ئې د چاپي دېوان مصحح څېړندوی خدمتګار حل کړي دي. په ناحلو کي ئې یو دوې د ارواښاد علامه رشاد رحمة الله علیه په قلم حل سوي دي او پر پاته باندي به زه خپل فکر وازمویم، وګورو، چي څه تر وزي.

د معماوو په رانقلولو کي مي د چاپي دېوان لیکدود کټ مټ پاللی دئ.

یونس وایي:

ثلث لام چه لیرې که په قول کښې یونسه
ســـــتا نامــــه به وکاږي هـــله له مُعَمّا

(دېوان: ۱۰مخ)

دا معماد یونس په نامه ده. شاعر د غزلي په مقطع کي د خپل نامه پر ځای دغه معما راوړې ده. حل ئې داسي دئ:

د "قول" ابجدي ارزښت (ق = ۱۰۰ + و = ۶ + ل = ۳۰ = ۱۳۶) دئ. د لام ابجدي ارزښت (۳۰) دئ، ثلث (دریمه برخه) ئې (۱۰) کېږي. لس چي

د (قول) له ابجدي ارزښت (۱۳۶) څخه د "ليرې" کلمې په قرينه منفي سي، (۱۲۶) پاتېږي. د (يونس) ابجدي ارزښت هم (۱۲۶) دئ.

ی = ۱۰
و = ۶
ن = ۵۰
س = ۶۰
ټول = ۱۲۶

دا معما په چاپي دېوان کي خدمتګار صاحب په همدې شکل حل کړې ده.

***

د يونس په نامه بله معما چي د غزلي په مقطع کي راغلې ده:

چي سل شپږ پنځوس و دوه اويا دوه نام که
هغه پوه ګــڼه يونسه په ابجـــد ســـــتا
(۱۲مخ)

دا معما په چاپي دېوان کي نه سمه ليکل سوې ده او نه سمه حل سوې. هورې ئې کښلي دي: "که (۱۵۶) د (۷۲) سره يو ځای کړو نو (۲۲۸) ترې راووځي، که د (ابجد) د کلمې توری (ا، ب، ج، د) د ابجد په حساب وګڼو نو (۱۰) ترې جوړېږي او چه دا (۱۰) په پورتني عدد واچوو (۲۳۸) کيږي. د يونس د کلمې توري (ی، و، ن، س) د ابجد په حساب (۱۲۶) کيږي، چه دوه ځله يې وګڼو نو هماغه (۲۳۸) ترې جوړيږي. يعني:

۱۵۶ + ۷۲ + ۱۰ = ۲۳۸ تقسيم پر ۲ = يونس"

د دې معما د حل اوله خښته کږه ايښوول سوې ده او هغه داچي دا معما ئې د (يونس) په نامه تصور کړې ده. که د يونس او نورو شاعرانو دېوانونه په دقت سره وکتل سي، ترې څرګندېږي چي شاعر په مقطع کي هغه وخت خپل نوم د معما په شکل راوړي چي يا د ادبي صنعت (غيرمنقوط صنعت) مجبوري وي، يا ئې نه وي غوښتي چي خپل نوم په

صراحت سره راوړي. په پورتنۍ معما کي یونس خپل نوم د مقطع په دوهم نیم بیتي کي راوړی دئ، نو د دوهم وار راوړو له پاره ئې د معما جوړولو ضرورت نه وو. طبیعي ده چي پر دغسي یوه ناسم تصور (کړې خښتي) باندي چي د استدلال او محاسبو دېوال تر ثریا پوري لوړ سي، لا به هم کوږ وي.

دوهمه حسابي غلطي دا ده چي وایي (۲۳۸) که پر(۲) تقسیم سي، (یونس = ۱۲۶) په لاس راځي؟! (۲۳۸) چي پر دوو ووېشل سي (۱۱۹) پاتېږي، یا (۱۲۶) که دوه چنده سي (۲۳۸) په لاس نه راځي، بلکي (۲۵۲) په لاس راځي.

د استدلال او محاسبو دغو غلطیو زموږ یوه ارواښاد محقق ته مېله جوړه کړې ده او په (پټه خزانه فی المیزان) کي ئې د خپل مدعا (د پټې خزانې د جعلیت) د اثبات له پاره د پورتنۍ معما پر دغه ناسم حل باندي ښه پوره شخوند وهلی دئ او د دې پر ځای چي د دغي حسابي تېروتني له پاره یو سم حل پیدا کړي، د تصور نیلی ئې په هوا کي ځغلولی دئ او د تصوراتو په دې هوایي اټکلو کي پخپله هم څو ځایه تېروتلی دئ.

ارواښاد ناقد تر دې ځایه پوري سم روان دئ چي وایي دغه معما "د یونس سره څه علاقه نه لری بلکې لکه چې ښتګه عرض وکړی شه دَهغه دَ اَب (پلار) او جد (نیکه) سره تعلق لری ..." [1]. ناقد مرحوم د یونس په دېوان کي د اعدادو ضرب و تقسیم هماغسي کړی دئ، لکه ما چي پورته کښلی دئ. تر دغه ځایه پوري د ناقد نقد سهي دئ.

تر دې وروسته وایي چي (۱۵۶) د یونس (اَب = پلار) او (۷۲) ئې

---

[1] وګ: پټه خزانه فی المیزان – ۳۰ مخ. نقل قول د کتاب پخپل مخصوص لیکدود کټ مټ رانقل سوی دئ. د دغه لیکدود اردو وشمه پرته "ی" زه د خپل کمپیوټر په پروګرام کی نه لرم او هغه مي د بې ټکو (ی) په شکل راوړې ده. هیله ده ښاغلي لوستونکي مي عذر ومني (هوتک).

(جد= نیکه) دئ. دا خبره هم د بیت له الفاظو څخه یو څه سمه ایسي. یونس غواړي چي د خپل پلار نوم موږ ته راوښیي، نه د (جد= نیکه) نوم. دا چي په مقطع کي ئې له (اَب) سره (جد) یو ځای کړی دئ، سبب ئې دا دئ چي له یوې خوا ئې د غزلي قافیوي تسلسل ساتلی دئ ځکه نوري قافیې ئې (حسد، ابد، بد، نمد، قد، عدد، مرقد، حد، ید) دي او د مقطع قافیه هم باید پر دغه وزن او ریتم باندي برابره وای. دوهم دا چي د (ابجد) په کلمه ئې په یوه غشي دوې نخښي ویشتلي دي، هم ئې لوستونکي ته د خپل پلار د نامه قرینه په لاس ورکړې ده او هم ئې د ابجد له حساب څخه د استفادې لارښوونه ورته کړې ده.

د (اّب) او (جد) له پاره ناقد مرحوم بیا د هوا نیلی ځکه ځین کړی او د تصوراتو لار ئې ځکه په خوله ورکړې ده، چي دی خو پټه خزانه جعلي ګڼي او هورې چي د یونس د پلار نوم (نورمحمدخان) لیکل سوی دئ، هغه هم له ځانه جوړه سوې خبره بولي. ده لیکلي دي:

"دا (۱۵۶) او (۷۲) د چا نومونه دی؟ هسی خو د َدې عددونو ځنې ډېرې نامې جوړېدې شی خو هر کله چې دَ دیوان دّ معمو حل دَ "محمدی" په دسخط شوی دی نو پکار دی چې دَ دې عدد اولنی تعلق "محمدی" سره فرض کړی شی ...". تر دې خبرو وروسته یو وار ئې د یونس د پلار نوم (محمدی جان = ۱۵۶) او د نیکه نوم ئې (احمدجیو= ۷۲) ګڼلی دئ، بیا ئې پر "دوه اویا" د دوه ځله (۷۰) یعني (۱۴۰) خیال کړی دئ او د یونس د پلار نوم ئې (یوسف = ۱۵۶) او د نیکه نوم ئې (یسع = ۱۴۰) تصور کړی دئ. البته په قرآن عظیم کي د نبي په توګه د (یسع) نوم دوه واره راغلی دئ (سورة الانعام: ۸۶ آیت او سورة "ص" ۴۸آیت) خو په پښتنو کي د دغه نوم څرک زه نه لرم او خدای سته، که مي تر ننه پوري اورېدلی دئ.

د ناقد په خبرو کي دا خبره حقیقت لري چي د یونس د دېوان ځیني

معماوي د (محمدي) په ليک او دسخط حل سوي دي او دا نوم د مصحح په قول (محمدي صاحبزاده) ګڼل سوی دئ. خو دغه پورتنۍ معما د (محمدي) دسخط نه لري او ښاغلي بختاني خدمتګار حل کړې ده. ناقد دغه ځای ته دقت نه دئ کړی. له بلي خوا د (محمدي صاحبزاده) په قلم د يونس د ديوان د معماوو حل کول، د دې له پاره دليل کېدلای نه سي، چې د يونس د پلار نوم دي نو هم (محمدي) يا، دې ته ورته نوم وي!

دا معما ما (هوتک)اول سمه ليکلې ده، بيا مي حل کړې چي خپله څېړنه غواړم له ښاغلو لوستونکو سره شريکه کړم. يونس د معماوو په جوړولو کي خورا زيات ماهر دئ. د معما د جوړولو اول کمال بايد دا وي چي لوستونکی ژور فکر ته راوبولي. داسي کلمې پکښې کار کړي چي لوستونکی ئې په اول نظر مفهوم ته و نه لوېږي. په دغه معما کي يوه کلمه (نم) ده . خطاط دغي کلمې ته دقت نه دئ کړی او (نام) ئې ليکلې ده. ملامت هم نه دئ ځکه (دوه نام) تر (دوه نم) ژر ذهن منلای سي. خو په دې معما کي د شاعر مراد (نم) دئ، (نام) نه دئ.

چي سل شپږ پنځوس و دوه اويا دوه نم که
هغه پوه ګڼه يونسه په ابجد ستا

حل ئې داسي دئ: ۱۵۶ + ۷۲ = ۲۲۸

په حساب کبير (جُمَل) کي له ښی خوا څخه د يوه عدد اول رقم (اُحاد)، دوهم رقم (عشرات)، دريم رقم (مِآت) نومېږي. خواجه ابو نصر فراهي ويلي دي:

يگان يگان شمر ابجد حروف تا حطی
چنانکه از کلمن عشر عشر تا سعفص
پس آنگه از قرشت تا ضظغ شمر صد صد
دل از حساب جُمل شد تمام مستخلص

د یونس د دېوان په دغه معما کي (۲۸) د عشرات په کور کي شامل دي. (عشر) په پښتو (لس) ته وايي. د (لس) ابجدي ارزښت (ل = ۳۰ + س = ۶۰ = ۹۰) کېږي. د (نم) ابجدي ارزښت هم (۹۰) دئ يعني (ن = ۵۰ + م = ۴۰ = ۹۰). شاعر موږ ته وايي چي د "سل شپږ پنځوس او دوه اویا" یعني (۲۲۸) د عشرات = لس = نم = ۹۰) کور دوه چنده کړئ. په (۲۲۸) کي د عشراتو کور(۲۸) دئ او دا چي دوه چنده سي (۵۶) کېږي او نتيجه به (۲۵۶) راووځي. دا عدد د (نور) کلمې ابجدي ارزښت هم دئ يعني (ن = ۵۰ + و = ۶ + ر = ۲۰۰ = ۲۵۶).

(نور) د یونس د پلار نوم دئ او د پټې خزانې دا روايت چي وايي: "... محمدیونس ،... په قوم موسی خېل و چه پلار ئې نورمحمدخان له موسی خېلوڅخه د کسې د بابړو سره راغلی او په خيبر کي اوسېدئ،..."[1]. د یونس پخپل کلام کي هم ملاتړ لري. یونس پخپلو اشعارو کي (محمدیونس) نه لیکي او د پلار له نامه سره ئې هم (محمد) نه دئ کښلی.

په زړه پوري دا ده چي په هغه بيت چي ناقد غوښتي دي د پټې خزانې جعليت ثابت کړي، د هغه بيت په سم لوستلو سره د پټې خزانې اصليت ثابت سو.

* * *

دا بل بيت هم د معما رنګ لري:

په یوه خال یو په لس شي عجب نه دی
که په دوه خاله شمېره شي ده په صد
(۷۰مخ)

په لمنلیک کې ورته کښلي دي:

"په دې دوو بیتو کښې د الف قدې معشوقې داسې توصیف وشو چه

---

[1] پټه خزانه، اول چاپ ۱۱۵مخ.

که يې يو خال په مخ کښېږدو نو ښايست يې يو په لس او په دوو خالونو يو په سل کېږي.

لکه څرنګه چه الف هم د ليک له مخه (ا) او هم د ابجد د حساب له مخه يو (۱) دی که د هغه په مخ کښې يو ټکی (۰) کښېږدو، لس (۱۰) او په دوو ټکو(۰۰) سل (۱۰۰) جوړيږي". فهوالمراد.

✶✶✶

بل بيت:

چه عيسی موسی په لاس د يونس شته دی
سر وږيره ځنې وساته غمازه
(۱۰۲مخ)

د ديوان مصحح ورته کښلي دي: "دغه بيت ما ته معماښکاري، د ګرانو لوستونکو توجه غواړم".

د دې معماحل ما (هوتک) داسې مونډلی دئ:

د دوهم نيم بيتي "سر و ږيره" له يوې خوا هغې تاريخي کيسې ته تلميحي اشاره لري چي د يونس د ديوان مصحح په لمنليک کي داسي راوړې ده: "د مذهبي آثارو د رواياتو له مخه حضرت موسی عليه السلام په وړکتوب کښې د فرعون په کور کښې لوی شوی دی. وايي کله چي فرعون، ماشوم موسی په غېږ کښې نيوه، نو موسی د فرعون د ږيرې سره لوبي کولې او په پای کښې موسی د فرعون د سر خطر شو". له بلي خوا لوستونکی د معما د حل پر لور رهبري کوي او د قرينې په توګه ورته وايي چي خبره د عيسی و موسی په "سروږيره" کي ده. د عيسی او موسی سر وږيره په ترتيب سره د (عي) او (مو) توري دي چي ابجدي ارزښت ئې (۸۰) او (۴۶) دئ. په دې ډول: (ع = ۷۰ + ی = ۱۰ = ۸۰) او (م = ۴۰ + و = ۶ = ۴۶). د دې عددو مجموعه (۱۲۶) کېږي چي د (يونس) له ابجدي ارزښت سره برابره ده او ګويا عيسی و موسی د يونس په لاس کي ستة، نو

شاعر غماز ته وايي چي ته دي پر ځان پام کوه. فهوالمراد.

* * *

بل ځای د عبدالرحمان بابا د وفات په ويرنه کي وايي:

له رحمانه فيض ياب عـبد الرحـمان شه

چه له دې سرايه په نوي سرای مهمان شه

(۱۱۴مخ)

دغه مهمه تاريخي ماده زما فاضل استاد علامه رشاد رحمة الله عليه حل کړې ده چي زه به ئې د "رحمن بابا په کوم کال کړ دئ؟" مقالې دغه اړونده برخه د هغوی له ټولو تشريحاتوسره ځکه رانقل کړم چي (د محمدهوتک ياد) نومې مجموعې په ۳۵ - ۴۸مخونو کي دغه مقاله د چاپ يو څه تخنيکي ګډوډۍ لري، حاشيې پر ځای سمي نه دي ايښوول سوي او د علامه مرحوم له ليکدود څخه ځای ځای سرغړونه سوې ده.

علامه مرحوم د دغي مقالې په يوه برخه کي ليکلي دي:

"دا بيت په پښتانه شعراء کي د اقتباس سوي ټوټې دوهم او د يونس په دېوان کي د غزلي اووم بيت دئ. خو سره له دې چي نه مطلع دی او نه حسن مقطع، بيا هم تصريح لري يعني دواړه نيم بيتي ئې سره هم آهنګه دي. زماپه خيال دا اعنات[1] شاعر ځکه کړی دئ چي د لوستونکو توجه دغه بيت ته ورواړوي او دا وروپوهوي چي په دغه بيت کي څه خاص مطلبونه سته.

له دغه بيته د تاريخي مادې استخراج په پنځه ډوله کېږي:

۱ - (پنوي سرای مهمان = ۴۷۵) + (عبدالرحمن = ۴۰۵) + (رحم =

[1] اعنات هغه صنعت ته وايي چي شاعر بې له کوم لزومه پر ځان باندي التزام کښېږدي. په دغه بيت کي شاعر مجبور نه وو، چي دواړو نيم بيتيو ته قافيوي هم آهنګي ورکړي مګر پرځان ئې دا التزام د يوه خاص مقصد له پاره ايښی دئ (هوتک).

۲۴۸) = ۱۱۲۸

"رحمان" د ډېر رحم کوونکي په معنا د "راحم" د مبالغې صيغه ده لکه: سکران (ډېر نشه)، هيبان (ډېر بېروونکی) چي د لومړي په زوَر ويل کېږي.

په دغه بيت کي د رحمان. له "فيض" څخه مراد د رحمان "رحم" دئ او د معماپه اصطلاحاتو کي دغه عمل "تبديل" نومېږي، "فيض" ئې فاسد او "رحم" ئې کائن دئ[1]. چي د "ياب" کلمې په قرينه سره په نوره تاريخي ماده پوري نښلول سوی دئ.

حسن توارد دئ چي د دغي تاريخي مادې د لومړي عبارت بشپړه جمله "پنوي سرای مهمان شه" که په عربي ژبه واړوله سي، هم دغه تاريخ ځني راوزي، په دې ډول:

(ضييف[2] = ۹۰۰) + (بدار = ۲۰۷) + (جديد = ۲۱) = ۱۱۲۸.

له دې امله چي معمايان مشدده ياء پر (۲۰) نه شمېري، کېدای سي دغه عربي جمله داسي وويله سي: ضَيِفي بِدَارِجَدِيد.

د دې عربي جملې معنا به نو دا وي چي "الرحمان" دی په نوي سرای کي خپل مېلمه بللی دئ.

۲ – (د[3] دې سرای = ۲۸۹) + (عبدالرحمن = ۴۰۵) + (رحمن[1] =

---

[1] د معما پوهان مبدل منه "فاسد" بولي او مبدل ته "کائن" وايي – فاسد غيرمطلوب او کائن په معما کي مطلوب جزء وي. (وګ: کشف الرموز د تبديل بحث).

[2] د تضييف له مصدره څخه د واحد مذکر غائب له پاره د ماضي زمانې مجهوله صيغه "ضييف" راځي چي د ضاد په پېښ ويل کېږي. "مهمان شه" هم د مهمان کېدل (مېلمه کېدل) له مصدره څخه کټ مټ دغه صيغه ده، البته زياتره پښتانه د "شه" پرځای "شو" وايي.

[3] "له" او "د" په پښتو کي د ابتداء معنوي توري دي. "د" د اضافت معنوي حرف هم دئ – معمايان کله يوه کلمه راوړي مګر مراد ئې د هغې کلمې بل مرادف وي لکه په

۲۹۸) + (مهمان = ۱۳۶) = ۱۱۲۸.

دلته "رحمن" د "فیض یاب" په قرینه سره په تاریخي ماده کي راغلی دئ.

۳ که د ذکر سوي بیت په لومړي نیم بیتي کي راغلی "رحمان" مضاف الیه او "عبدالرحمان" (شاعر) مضاف وبولو، او د " فیض یاب" په حکم د اضافت معنوي توری" د "د ترکیب په سر کي ورزیات کړو، نو داسي عبارت به لاس ته راسي:

د رحمان عبد الرحمان

د حساب الکبیر[۲] د قاعدې له مخي له دغه عبارت څخه (۱۴۱۹) لاس ته راځي چي د (زر سل اته ویشت) له ابجدي ارزښتو سره برابرېږي. معادله ئې داسي ده:

د (دال)	=	۳۵	ز	=	۷
ر (راء)	=	۲۰۱	ر	=	۲۰۰
ح (حاء)	=	۹	س	=	۶۰
م (میم)	=	۹۰	ل	=	۳۰
ا(الف)	=	۱۱۱	ا	=	۱

عربي کي چي "من" راوړي او "عن" ځني مراد وي. دلته د "له" او "د" یو له بله سره اړول (تبدیل) هم له دغي مقولې څخه دئ.

(۱) دا د دغي کلمې قرآني رسم الخط (لیکدود) دئ.

(۲) د محمد هوتک یاد په ۴۴مخ کي یوه حاشیه په دې ډول راغلې ده: "په حساب الکبیر کی د تورو د شعرونو کی نه راځی او که کوم دی". زه (هوتک) له دغي جملې څخه پوره مطلب نه سم اخیستلای؟ بنایي د علامه استاد مرحوم مراد دا دئ چي دلته د تورو د تلفظ عدد شمېرل کېږي. د مثال په توګه په جُمل کي (د = ۴) دئ خو د یوې بلي قاعدې له مخي (د = دال = ۳۵) کېږي. په دې لاندي معادله کي هم د تورو د تلفظونو ابجدي ارزښتونه راوړل سوي دي او ما په لېندو کي اړوند تلفظ ورسره کښلی دئ.

ن (نون)	=	۱۰۶
ع (عین)	=	۱۳۰
ب (باء)	=	۳
د (دال)	=	۳۵
ا (الف)	=	۱۱۱
ل (لام)	=	۷۱
ر (راء)	=	۲۰۱
ح (حاء)	=	۹
م (میم)	=	۹۰
ا (الف)	=	۱۱۱
ن (نون)	=	۱۰۶
ټول	=	۱۴۱۹

ت	=	۴۰۰
هـ	=	۵
و	=	۶
ی	=	۱۰
ش	=	۳۰۰
ت	=	۴۰۰
ټول	=	۱۴۱۹

۴ – که د ذکر سوي بیت په دوهم نیم بیتي کي راغلی "نوی سرای" مضاف الیه او "مهمان" مضاف وبولو او د اضافت معنوي توری"د" د ترکیب په سر کي ور زیات کړو، نو داسي عبارت به لاس ته راسي:

د نوي سرای مهمان

د حساب الصغیر د قاعدې له مخي له دغه عبارت څخه (۵۷) لاس ته راځي او د "زرسل اته ویشت" له هغه ابجدي ارزښته سره برابرېږي چي د حساب الصغیر د قاعدې له مخي حاصلېږي. معادله ئې دا راز ده:

د	=	۴
ن	=	۲
و	=	۶
ی	=	۱۰
س	=	صفر

ز	=	۷
ر	=	۸
س	=	صفر
ل	=	۶
ا	=	۱

ر	=	۸	ت	=	۴
ا	=	۱	هـ	=	۵
ی	=	۱۰	و	=	۶
م	=	۴	ی	=	۱۰
هـ	=	۵	ش	=	صفر
م	=	۴	ت	=	۴
ا	=	۱	ټول	=	۵۷
ن	=	۲			
ټول	=	۵۷			

۵ – د پښتو ژبې په ځينو لهجو کې "نوی" کلمه په غیر مستقیم حالت کې " نویې – Nawyi" وايي. که د ذکرسوي بیت په دوهم نیم بیتي کې راغلی "نوی" کلمه چې په غیرمستقیم حالت کې ده، نویې (Nawyi) ولوستله سي، نو هغه نیم بیتی به داسې کښل کېږي:

"چه له دې سرایه په نویې سرای مهمان شه"

له دې تاریخي مادې څخه هم د جُمل په حساب ۱۱۲۸ راوزي. په دې ډول:

چه	=	۸
له	=	۳۵
دې	=	۱۴
سرایه	=	۲۷۶
په	=	۷
نویې	=	۷۶
سرای	=	۲۷۱
مهمان	=	۱۳۶

شه = ۳۰۵

ټول = ۱۱۲۸

د مرثيې په يوه بل بيت کي "نوبهار" کلمه راغلې ده. زه چي د معما په فن کي د يونس مهارت ته ګورم[1]، ګومان مي دا دئ چي دلته به د نوبهار کلمه د ربيع الاول (لومړۍ خور) معنا لري او حسن توارد دا دئ چي د دغه کال د نوروز ورځ د ربيع الاول له پنځه ويشتمي ورځي سره برابره هم ده. که زما دا ګومان سهي وي نو د رحمان بابا مرګ به د ۱۱۲۸ هـ ق کال د ربيع الاول په وروستۍ هفته کي پېښ وي. هغه بيت چي "نوبهار" پکښې راغلی دئ، دا دئ:

انجمن د ښـو يارانو، نوبهار دئ
جدايي وربانديي پير وکه خزان شه

د پټي خزانې د خطي نسخې په ۴۵ مخ کي د رحمان بابا د مرګ کال د ۱۱۲۸ پر ځای په عدد سره ۱۱۱۸ ښوول سوی دئ، سهوالفکر نه دئ. دا يوه عددي تېروتنه ده چي د مطلوبي سنې د عشراتو په کور کي پېښه سوې ده. کېدای سي د دې سهوالقلم سبب د پټي خزانې د نقل کوونکي هغه تلوار وي چي ده د کتاب په پای کي د "باستعجال تمام قلمی شد" په جمله سره د هغه عذر غوښتی دئ او زما په خيال د دغه استعجال نتيجه به وي چي د خطي پټي خزانې په شپاړسم مخ کي د "ژمي" کلمه په "دوبي" ځني اوښتې ده او په ۹۶ مخ کې عبدالقادر خان خټک د حليمې د ورور پر ځای د حليمې پلار کښلی دئ. د نقل کوونکی دې ته نه دئ پام سوی چي د ده پخپل قلم درې ليکي (کرښي) دمخه حليمه د نوموړي عبدالقادر خان

[1] دلته علامه مرحوم په لمنليک کي د يونس د ديوان د معماوو شمېر او د هغو د حل په باب لنډه څرګندونه کړې ده او په دغو معماوو کي ئې يوه ناحله معما حل کړې ده چي زه به ئې د دې کتاب په بل ځای کي رانقل کړم.

خټک سکه خور بلل سوې ده.

✶✶✶

د یونس د چاپي دېوان په (۱۸۴ مخ) کي یوه شپاړس بیتیزه غزله راغلې ده چي هر بیت ئې یوه معما ده. له دغو شپاړسو معماوو څخه پنځلس دانې د (محمدي) په قلم پر حاشیو باندي په پارسي ژبه حل سوي دي. دغه (محمدي) د دېوان د مصحح په نظر د څمکنو د میاعمر صاحب رحمة الله علیه مشر زوی (محمدي صاحبزاده) دئ.

دا نظر زموږ نورو محققینو تائیدکړی هم دئ. زه به د دغومعماوو د حل ژبه له پارسي څخه پښتو ته له یو څه اضافاتو سره یو ځای ځکه راواړوم چي یوازي به مي د ټکي په ټکي ناقل رول لوبولي نه وي او خپله ونډه به مي هم یو څه پکښې شامله کړې وي.

د غزلي اول بیت د "بیگ" په نامه معماده:

چه محرم یې د کعبې وایي په راه
مې باید نهفته ذِکــر کا د مـــاه

حل:

مُحرِم (احرام تړونکی، حاجي) د کعبې پر لار " لبیک" وایي. "ماه = میاشت" دېرش ورځي ده او لام د ابجد په حساب هم (۳۰) دئ چي له "لبیک" څخه (نهفته) سي یعني پټ سي، "بیک" یا "بیگ" پاتېږي. دلته د "تبدیل" عملیه راغلې ده. شاعر "ماه" وایي مگر مراد ئې د (لبیک) کلمې لام دئ. دلته "ماه" ته د معما په اصطلاح فاسد (غیر مطلوب)، لام ته کائن (مطلوب) ویل کیږي.

✶✶✶

د غزلي دوهم بیت د " محمد" په نامه معما ده:

په ویل آخــر د مـــدح مقـــدم کـــړه
سر د مُلک ئې کړه په سر باندي کلاه

حل:

د (مدح) آخر (ح) ده چي سر ته ورولوېږي، (حمد) ځني جوړېږي او د (حمد) پر سر چي د (مُلک) سر يعني (م) خولی (کلاه) سي، (محمد) لاس ته راځي.

∗∗∗

د غزلي دريم بيت هم د "محمد" په نامه معما ده:

له نسکوره خُمه يو څڅوبکی پرېووت
له مدهوشه نه هوش لاړ په هغه ساه

حل:

(خُم) چي نسکور يعني سرچپه سي، (مخ) لاس ته راځي او "څڅوبکی" يعني څکی چي ځني پرېوزي (ولوېږي)، (مح) ترې جوړېږي. له "مدهوش" څخه چي "هوش" ولاړ سي، (مد) پاتېږي او (مد) چي له (مح) سره يو ځای سي (محمد) لاس ته راځي.

∗∗∗

د غزلي څلرم بيت د "صمد" په نامه معما ده:

چه يکی په ميان د صد کښې نهاده شي
د يار اسم ځني خېژي خواه ناخواه

حل:

"يکی" د ابجد په حساب (۴۰) کېږي: (ی = ۱۰ + ک = ۲۰ + ی = ۱۰ = ۴۰).

د (م) ابجدي ارزښت هم (۴۰) دئ. شاعر وايي چي (م) د (صد) په "ميان" کي کښېږده او له هغه څخه به (صمد) جوړ سي. دا چي د (م) پر ځای ئې (يکی) کلمه راوړې ده، دليل ئې له (صد) سره حُسن تلازم دئ او شعر ته ئې يو څه رنگيني ورکړې ده.

∗∗∗

د غزلي په پنځم بيت کي د (لطيف) په نامه معما سته:

ستا د مخ طومار مې درست لوستلی نه و
طې په زلف سـراندازو کښې شـه، آه

حل:

"زلف سرانداز" معنا د (زلف) ويي څخه سر ايسته کړه چي (لف) پاته سي. د (لف) په منځ کي (طې = ط + ی) ورواچوه چي (لطيف) ځني جوړ سي.

✶ ✶ ✶

په شپږم بيت کي د (رفيق) په نامه معما ځای سوې ده:

يو نقطه[1] کړه له اوله د نرم ليرې
له دغه نه به پيدا شي ستا همراه

حل:

په دې معما کي د تبديل عمليه بايد تر سره سي. شاعر يوه کلمه ليکي، خو مراد ئې د هغې معادل کلمه ده. دلته په ليکنه کي (نرم) راغلی دئ چي غير مطلوب (فاسد) دئ. مطلوب ئې د نرم معادل لغت (رقيق) دئ چي (کائن) ورته ويل کېږي. د (رقيق) له اول قاف څخه چي يوه نقطه ليري سي، (ف) پاته کېږي او له ټولي کلمې څخه (رفيق) جوړيږي.

✶ ✶ ✶

په اووم بيت کي د (جعفر) په نامه معما سته:

د ستا عفو مې په جرم کښې ده ياره
منـتها د دواړو نشـــته کارآگاه

حل:

---

[1] په چاپي دېوان کي (يوه نقطه) ليکل سوې ده چي په گرامري لحاظ خو صحيح ده، مگر د بيت وزن ئې يو سپوږ (څپه) زيات کړی دئ. (نرم) هم بايد يوه څپه ولوستل سي.

د (عفو) او (جرم) څخه چي منتها (و) او (م) ليري سي، (عف) او (جر) پاتېږي. (عف) چي په (جر) کي داخل سي، (جعفر) ځني جوړېږي. د (عفو) او (جرم) ادبي تلازم بيت ته رنګيني وربخښلې ده.

* * *

په اتم بيت کي د (نجم) په نامه معما ځای سوې ده:

نی ناقص له جام اجوفه سره وایه
اشنا وباسه له دې مشــــکله چاه

حل:

ناقص (نی) يعني (ن) او اجوف (جام) يعني (جم). د دواړو له يو ځای کېدلو څخه (نجم) جوړېږي. فهوالمراد.

اجوف هغي کلمې ته ويل کېږي چي منځ ئې تش سوی وي. د دې له پاره چي د (جام) کلمې منځ تش سي (الف) ئې بايد وغورځول سي.

* * *

په نهم بيت کي د (قطبی) په نامه معما سته:

قد د يار او طوبی مــــه وای چه دوه وای
يو له دوو وای تر دوه تېر شه نيک خواه

حل:

(قد) او (طوبی) سره يو کړه (يو ځای ئې کړه) چي (قدطوبی) سي. په دې کلمه کي تر دوو تورو تېر سه، يعني تر (دال) او (واو) تېر سه چي (قطبی) پاته سي. او همدا ئې مطلوب حل دئ.

* * *

نهم بيت د (شبلی) په نامه يوه معما:

د فلک طاس دي نګون شي چه خونخوار دی
همېــــــــشه په وينـو ډک د بې ګـــــــــناه

د دې معما حل په چاپي دېوان کي نسته او په لمنليک کي ئې ورته

کښلي دي: "دا معما د قلمي نسخې په حاشیه کښې چا حل کړې نه ده او زمونږ له خوا هم ګرانولوستونکو ته پاته شوه".

ما (هوتک) ئې حل داسي وموند:

حل: د "خونخوار" کلمه که د قرینې په توګه ومنو، نو دلته د شاعر مراد له خونخوار څخه (شِبَل) دئ. شبل په قاموسو کي د "بچه شیر درنده" په معنا ثبت دئ (غیاث). "درنده" صفت له خونخوار سره هم وایي. ګویا د شاعر مراد (شبل) دئ. له (شبل) څخه (شبلي) په دوه ډوله جوړېدلای سي.

اول ډول ئې دا دئ چي شاعر (طاس = جام) کلمه راوړې ده خو مراد ئې (می = شراب) دي. (می) چي نګون سي یوازي (ی) پاتېږي او له (شبل) سره تر یو ځای کېدلو وروسته (شبلی) کېږي.

دوهم دا چي د "نګون" کلمه د (زېر) په معنا واخلو. (زېر) لاندي ته هم وایي او د کلماتو حرکت (کسره) هم (زېر) بلل کېږي. که د (شبل) لام ته د (نګون) په قرینه (زېر) ورکړو، (شبلِ) یا(شبلی) لاس ته راځي.

* * *

په لسم بیت کي د (عماد) په نامه معمار اغلې ده:

مګر بیا مي و بسمل ته تیا رېږي
چه لمن عمدا په میان کړه هغه شاه

حل:

د (عمدا) کلمې لمن (الف) دئ. دغه الف چي د کلمې میان ته یووړل سي، (عماد) ځني جوړېږي.

* * *

د یوولسم او دوولسم بیت معما د (قاسم) په نامه ده:

غنچې خار لکه خنجر په لاس کښې واخست
یو قابل یې د بسمل و غو ښت همراه

پــه بلبــل بانــدې اختــر شــه لــه دې شــوقه
لــــه دغــــه ميانــــه وروالــــوت بــــې پــــرواه

حل:

د محمدي له خولې ويل سوي دي چې له "قا" سره چې "بسم" يو ځای سي، (قابسم) ځني جوړېږي او (ب) چې ئې له ميانه والوزي، (قاسم) پاتېږي.

✶ ✶ ✶

د دېرلسم بيت معما د (بهار) په نوم ده:

چه يې سر په ځای د پښو، پښې يې سر شوای
دا ســـــزا (ئې) د راهب غــوندي هــمراه

حل:

د (راهب) سر چې پښې او پښې ئې سر ته ولاړې شي، يعني معکوس (سرچپه) سي "سزا ورکړه سي"، بهار ځني جوړېږي.

✶ ✶ ✶

څورلسم بيت د (وحيد) په نامه معماده:

قدح ونيسه په لاس کښې فارغ کښېنه
پای ســـرولـــــره ورکړه د قـــد جـــاه

حل:

له (لاس) څخه مراد عربي (يد) دئ. (قدح) چې ئې سر ته ورولوېږي،(قدحيد) ورڅخه جوړېږي. د (قد) پر ځای چې د (سرو) کلمې پای (و) واچول سي، (وحيد) ځني جوړېږي.

✶ ✶ ✶

پنځلسم بيت مقطع ده او د شاعر پخپل نامه (يونس) معما سوې ده:

چه د قول لام د ريمه حصه کم شي
باقي قــول د يونس په نام گــواه

حل:

د (قول) ابجدي ارزښت (۱۳۶) دئ. د (ل) ابجدي ارزښت (۳۰) دئ. دريمه حصه ئې (۱۰) کېږي. دغه دريمه حصه (۱۰) چي له (۱۳۶) څخه کمه سي، (۱۲۶) پاتېږي. د (يونس) ابجدي ارزښت هم (۱۲۶) دئ.

* * *

د يونس د چاپي دېوان په (۱۹۳مخ) کي يوه اته بيتيزه غزله سته چي اووه معماوي پکښې ځای سوي دي. په دې معماوو کي دوې د چاپي دېوان مصحح، ښېړندوی خدمتګار حل کړي دي. نوري پنځه پاته دي. په دغو پنځوکي يوه علامه رشاد مرحوم حل کړې ده او درې ئې ما (هوتک) کړي دي. يوه دانه ئې چي د (خدابِردی) په نامه ده، ناحله پاته ده.

د غزلي د لومړي بيت (مطلع) معما د (توری) په نامه ده:

چه موقوف د ستا په اسم زما کام شه
نيم ابرو هــلال دې تام لره تمام شــه

په دېوان کي ناحله پاته ده. حل ئې ما (هوتک) داسي موندلی دئ:

له (دستا= دتا) څخه مراد (تو) دئ. هلال، نری مياشت د (قوس = ليندۍ) په شکل وي. د ليندۍ "نيم ابرو" د (ر) شکل لري له (تو) سره چي يو ځای سي، (تور) ځني جوړېږي، د هلال چي تام (بشپړ) سي، ليندی ئې پوره کېږي يعني پخوا چي کنډو وه، (ی) ئې نه درلوده. چي پوره سي (ی) بايد پر زياته سي. پر (تور) چي (ی) زياته سي، (توری) ځني جوړېږي.

* * *

په دوهم بيت کي د (محمد) په نامه معماده:

و اخــله دوه ميمه فقط له يوه ميمه
امر بې نُقَطه لوله، د دوست نام شه

دا معماهم په ديوان کي ناحله پاته سوې ده. ما (هوتک) داسي حل

کړه:

(واخله) د امر صیغه ده چي په عربي کي (خُذ) ورته وايي. له (خذ) څخه چي نقطه ایسته سي، (حد) پاتېږي. له (حد) سره چي دوه میمه یو ځای سي، (محمد) ځني جوړېږي. فهوالمراد.

✶✶✶

په دریم او څلرم بیت کي د (یوسف) په نامه معمار اغلې ده:

له یعقوبه پونده لیرې شوه ښه نه وه
په هغه عوض بهي ورته انعام شه
بیا هغه بهي چه پښه ورلره نه وه
د یوسف اسم ترې هله سرانجام شه

دا معماپه دیوان کي ناحله پاته ده. علامه رشاد رحمة الله علیه حل کړې ده. په دې ډول:

په عربي پونده "عقب" بولي. د عقب کلمې توري چي له یعقوب څخه وباسئ، "یو" پاتېږي. د بهي مېوه په عربي "سفرجل" بولي او پښې ته "رجل" وايي. رجل چي له سفرجل څخه وباسئ، "سف" پاتېږي. "یو" چي له "سف" سره وتړئ، یوسف سو. (د محمدهوتک یاد: ۴۷ مخ).

✶✶✶

په پنځم بیت کي د (قوام) په نامه معما سته:

د زُهادُ زړه له ډېرې ریا ډک دی
جمع قوم یې بې سره کړ قوام شه

دا معماپه دیوان کي داسي حل سوې ده:

د (قوم) جمع (اقوام) دی، چه بې سره شي، یعني د سر توری چه الف دی ایسته شي نو (قوام) پاته کیږي.

✶✶✶

د شپږم بیت معما د (کلیم) په نامه ده:

که یار صاف کرم که درد ستم دی
په میان د این وآن ثابت اقدام شه

دا معماهم په دېوان کي ناحله پاته ده. ما (هوتک) داسي حل کړې ده:

(کرم) چي صاف شي (ک) پاتېږي. د ستم او درد معادل لغت (اَلَم) دئ چي له (ک) سره یو ځای سي (کالم) کېږي. د (این) میان (ی) ده. دغه (ی) چي د (کالم) دالف پرځای ثبت یا ثابته سي، کلیم ځني جوړېږي.

✶ ✶ ✶

د اووم بیت معماد(خدابِردی) په نامه ده :

څه ښه شپه وه چه مې یار په لاس ساغر که
مــــنور یې په جـــمال د مــیو جـــام شه

دا معماپه دیوان کي ناحله ده. زما هم اوس نوک نه په جگېږي. بل وخت ته دي پاته وي.

✶ ✶ ✶

د غزلي مقطع د (یونس) په نامه ده:

څو چه نیم لب یې نمک اخیستی نه دی
د یونس نمکي اســم پرې حـــــرام شه

دا معماد دېوان مصحح حل کړې ده. په دې ډول:

لب د ابجد په حساب (۳۲) کیږي، چه نیم یې کړو (۱۶) شي.

نمک (۱۱۰) راځي چه (۱۶) ورسره یو ځای شي نو (۱۲۶) ترې جوړیږي.

د یونس نوم هم په دغه حساب (۱۲۶) کېږي.

✶ ✶ ✶

د پیر محمد کاکړ په کلام کې

پیرمحمد کاکړ د دېوان په الف ردیف کې یوه غزله په غیرمنقوط صنعت کی ویلې ده. د دې غزلي په مقطع کې ئې خپل نوم ځکه نه سوای راوړلای چې هغه خو منقوط دئ. ده په دغه مقطع کې خپل نوم د معما په شکل راوړی دئ:

محمد رسول امام د کل عالَم وو
دا مسلم له دله مدح د امـــام کا
(۵۷ مخ، د صحاف چاپ)

(امام) کلمه د همزې په زېر (کسره) سره د (پېشوا) معنا لري. (پیر) هم د خپلومریدانو له پاره د لاربنود او پېشوا مقام لري او په دغه مقطع (امام) له (محمد) سره د شاعر د نامه (پیر محمد) له پاره راوړل سوی دئ.

* * *

د دېوان په پای کې ئې د هغه د بشپړېدو کال (۱۱۹۶هـ ق) هم په یوه صریحه تاریخي ماده کې راوړی دئ:

زر ســـل شــپږ نـــوي کلونـــه
د هجـــرت تېـــر شـــوي وونـــه
مـــا انـشـاء د عـــشق دېـــوان کـــړ
پـــه پـــښتو مـــي ښـــه بيـــان کـــړ
(۲۰۳مخ)

* * *

د شمس الدین کاکړ په کلام کې

شمس الدین کاکړ هم په غیرمنقوط صنعت کې یوه غزله ویلې ده

چي مقطع ئې داسي ده:

هر کلام که د مسلم کړي ملال عطر
معطره کړه اسلام د ساده لوح

(۲۸ مخ، د کابل چاپ)

حل: دا معماحل غواړي. زما سد کار نه پکښې کوي.

* * *

د "ر" ردیف د یوې غزلي مطلع داسي ده:

چي به اشنای خوله ورکوله "شمس الدین" به نه کړه
اوس په خواست غواړي (ب) و (و) و (س) و (ه) د دلبر
(۳۹مخ)

حل:

ب + و+ س+ ه = بوسه

* * *

ده هم د خپل دېوان د بشپړېدلو تاریخي ماده ویلې ده:

له تاریخه د هجرت
کړم و تا ته روایت
د هجرت کلونه څه وو
دوولس سله دېرش اته وو
ما تمام دوهم دفتر کړ
تر اول مي مختصر کړ
(۱۶۹مخ)

* * *

د صدیق په کلام کي

صدیق د (ې) ردیف په یوه غزله کي وایي:

تا خـــو زه یار ته خس کـــړی وم غــــمازه!
خدای تر ما نه ته پخوا شپږ سو شپیته کړې
(۲۳۹ مخ)

له (۶۶۰) څخه مراد (خس) دئ. (خ = ۶۰۰ + س = ۶۰ = ۶۶۰)

***

د سعید په کلام کي

سعید د (سرفراز، عبدالقادر او محی الدین) په نومو د خپلو زامنو یا لمسیو په یاد سوي غلبلې لري. د ده د کورنۍ دا درې ګلان یو په بل پسې تاندلباند سوي دي. د محی الدین په مرثیه کي وایي:

دِمـازړه! (دا) څـه (عجبـه) غمکـده یـې
لکـــه زلفـــي د بتـــانو شکــــسته یـــې
غــم پـــه غــم بانــدي پتـــا متـــواتر دی
پـه دا هو مره غم لـه ژواک سره بسته یې

....

پـــه انـــدوه د ســـرفراز لا نـــه ... نـــه وې
د عبـد القادر پـــه غــم بیـــا مـــا لیـــده وې
پسې غم د محی الدین جانکاه ګرفت کړې
پـــه دا درې غمـــو عجبـــو خمیـــده یـــې

......

پـــه اتـــه میاشتې دوه ورځې وې دپاســـه
ځویـــه! تـــه چـــه لـــه دنیـــا نـــه رمیـــده یـــې
پـه دوه داغـه دِ دریم کښیښې پـه زړه مې
د هجـرت پـــه زر سـل تللی پـــه هـژده یـــې

دِ ذوالقعده په لسم دي تولد وه
دوولسم صبح رجب کورد ایزده؟ یې

(دیوان: ۱۲۰مخ د همېش خلیل چاپ)

په دې شعر کې دا څو نېټې ستـه:

محی الدین د مرګ پر وخت د اتو میاشتو او دوو ورځو عمر درلود.

په ۱۱۱۸ هـ ق کال د رجب په دوولسمه مړ سوی دئ.

زېږېدنه ئې د ذوالقعده میاشتې پر لسمه پېښه وه.

***

د عبدالقادر په ویرنه کې وايي:

برېښنا شان عبدالقادر راتـه عیان شه
د اجل پـه ابـر بیـا هـسې پنهـان شـه

....

سرفراز مي عین د زړه په سر تـصویر دی
اوس تـازه تـرې احاطـه د ده ارمـان شـه

....

د جمعې پـه شپه ئې راغلـه پـه جهـان وه
هم په شپه بیا د جمعې د ګـور مهمـان شه

....

د رجب پـه پنځویـشتم دا نـور سعید لیـد
د شـوال پـه نولـسم ګـور تـه روان شـه

(۱۳۳مخ)

په دې ویرنه کې راتـه وایي چې:

عبدالقادر د رجب پر (۲۵مه) د جمعې په شپه زېږېدلی وو.

د شوال پر (۱۹مه) د جمعې په شپه مړ سوی وو.

کال ئې هماغه دئ چي د ده نور بچيان يا لمسيان پکښې مړه سوي دي او ده په تېره مرثيه کي (۱۱۱۸هـ ق) بللی دئ.

***

په يوه بله غزله کې (د محی الدين ويرنه) ويلې ده:

د ښادۍ دَر ئې همېش په ما مسدود کړ
په مين ئې له ما تا غوندي مفقود کړ

....

د وروستۍ خوراتويشتم شپه د جمعې وه
چه د ِتا سره خلاف حيات عهود کړ
دا دِ کال دی د وفات "دميدی غمی"
چه َسعيد زړه له ښاديو ناخوشنود کړ

(۸۰ مخ)

په چاپي دېوان کي تاريخي ماده (دميدبې غمې) ليکل سوې ده چي ناسمه ده. سم شکل ئې (دميدی غمی) فارسي جمله ده، چي ابجدي ارزښت ئې (۱۱۱۸هـ ق) کېږي. په دې ډول:

د	=	۴
م	=	۴۰
ی	=	۱۰
د	=	۴
ی	=	۱۰
غ	=	۱۰۰۰
م	=	۴۰
ی	=	۱۰
ټول	=	۱۱۱۸

په اوله مرثيه کي شاعر ويلي دي چي دا درې واړه بچيان يو په بل

پسې (متواتر) مړه په یوه کال کې سوي دي.

محی الدین نومی بچی ئې د ۱۱۱۸ هـ ق کال د وروستۍ خور (جمادی الثانی) پر (۲۸مه) د جمعې په شپه مړ سوی دئ.

* * *

د ابوالقاسم په کلام کې

د ابوالقاسم د چاپي دېوان (ترتیب او مقدمه د قلندر مومند) په (۲۰۸ مخ) کې د غیر منقوط ادبي صنعت دوې غزلي لري او ښرګنده خبره ده چې د دواړو په مقطع کې ئې خپل نوم (ابوالقاسم) نه دئ راوړی.

اوله مقطع داسي ده:

درد ِ دل لره دارو دَ دلدار وصل
ولې کله دارو کا له ما کا عار

حل:

د دې معماحل ما (هوتک) داسي موندلی دئ:

د "درد دل" له پاره دارو (لِقاء = دیدن) دئ. له (لِقاء) سره تړلی جزء شاعر د "دلدار وصل" بللی دئ. د "وصل" مستلزم (بوس = مچېدل) دي. د (دل) په قرینه باید (لقاء) د (بوس) زړه ته ورواچول سي چې (بولقاس) ځني جوړ سي. شاعر وایي چې د (دارو) په وخت کې دلدار له (ما) ښخه عار کوي (شرمېږي). د شرمېدلو مستلزم عمل (پټېدل) دي، یعني دلدار په (ما) کې ځان پټوي. شاعر دلته یوه بله قرینه هم راکړې ده او هغه د (دل = قلب) قرینه ده. قلب سرچپه کولو، معکوس کولو ته وایي. (ما) چې معکوس سي (ام) کیږي. (بولقاس) چې په (ام) کې پټ سي، معنا یو توری ئې سر ته او بل ئې پای ته ولوېږي. په دې ډول الف د (بولقاس) سر او (م) ئې بایدپای ته ولوېږي. چې په دې ډول (ابولقاسم)

ځني جوړېږي.

زه منم چي دا د نوموړي معماد حل ډېره سخته لار ده. هیله ده ښاغلي لوستونکي ئې اسانه حل هم وومي.

✶✶✶

دوهمه مقطع داسي ده:

سر د هر مرام وصال سـره له مـــهره
هسې طمع کړم که سر دې دا مرام کړ

حل: حل ئې لوستونکو ته پرېږدم.

✶✶✶

د میافقیرالله صاحب په کلام کي

میا فقیرالله صاحب د (فوایدفقیرالله) په پای کي کښلي دي:

چــې نــادر راغــی کابــل تــه
هندوســتان و تخــت نیــول تــه
"جن خراب شد" یې تاریخ شه
پـه دوزخ کـې بیـا پـه سیخ شـه
پــه کابــل کـــي دی مقـــام ؤ
د ډیلـــی پـــه ســـرانجام ؤ
زر سـل او سـل یـو پنځـوس یـاره
وه ســـنه اې برخـــــورداره
د ربیـــع الثـــانی خوبـــه
تـــاریخ نـــولس ؤ محبوبـــه
چـــی تمـــام دغـــه کتـــاب ؤ
نمـــازیگر پـــه ځـــای آفتـــاب ؤ

دا کتــاب چــې مــې تمــام کــه
مــسمی مــې پــه خپــل نــام کــه
چــې زه ولاړ شــم و عقبــی تــه
پــسته نــوم مــي وي حياتــه
(فوايدفقير الله: ۱۰۳مخ)

په دې نظم کي دوې تاريخي مادې راغلي دي. يوه د نادر افشار د وژل کېدلو نېټه چي په (جن خراب شد) کي شوول سوې ده او ابجدي ارزښت ئې ۱۱۶۰هـ ق راوزي او بله د کتاب د بشپړېدو نېټه چي د۱۱۵۱هـ ق کال د ربيع الثانی ۱۹مه ورځ ده. شاعر وايي چي په دغه کال نادر کابل ته هم راغلی وو.

د ادبي ستوري ښاغلي مؤلف ته د ميا فقيرالله صاحب د همدغه اثر کومه خطي نسخه په لاس ورغلې ده او پر هغې ئې د (کيميای سعادت) خيال کړی دئ او د شاعر نوم ئې (فقير) بللی دئ؟ او دا ټولي خبري ئې په ادبي ستوري لومړي ټوک کي کښلي او خپل حدسيات ئې هم پر زيات کړي دي. د ادبي ستوري د دغي برخي (۱/۹۳، ۹۷مخونو) مطالب سهي نه دي او استناد بايد په و نه سي.

* * *

د حاجي جمعه بارکزي په کلام کي

د حاجي جمعه بارکزي په دېوان کي راغلي معماوي علامه رشاد رحمة الله عليه حل کړي دي او زه به ئې د دغه دېوان له سريزي (۷ مخ) څخه رانقل کړم.

علامه مرحوم کښلي دي چي: "د حاجي جمعه بارکزي په دېوان کي دا غزله د ابجدي معماوو څخه ډکه ده":

مــا نـــن د ورا دوه ســـويو ولس پـــه ښـــه شـــان وليـــده
دوه سـو اويـا[1] رنگـه مـې سـپين تنـدی تابـان وليـده
شـپږ سـو ځلوېښت ئـې پـه مثـال لکـه مـشال بلېـده
پـو نـسوپنځوس رنگـه مـي ځـان بانـدي بريـان وليـده
شـپږ سـو نـوي ئـې لکـه سـل اووه ښـکاريږي خلکـه
يـو سـل پـنځلس مـي پـه وصـف کـي گويـان وليـده
شپېته ئې دي لکه ځلوېښت چي د ځلوېښت وکاږې[2]
سـل نـه مـي تـول تـر دوه سـو يـو دېرشـو تابـان وليـده
د درې اتيـا وو آبـداري ئـې ترسـل دېرشـو زياتـه
اوه ســو يــو مــي د ځلــور دېرشــو پــه شــان وليـــده
"جمعه" يو زر اووه سو دېرش جوړه پر شپږپنځوس کړه
پـــه خلاصـــول کـــي مـــي درمانـــده عـــاقلان وليـــده
(ديوان: ۱۰۸مخ)

حل:

د مطلع د اول نيم بيتي له (۲۱۱) څخه مطلب (يار) دئ.

د مطلع د دوهم نيم بيتي له (۲۷۰) څخه مراد (لمر) دئ.

د دوهم بيت له (۶۴۰) څخه مراد (مخ) دئ.

له (۵۵۰) څخه مراد (فتنگ = پتنگ) دئ.

د دريم بيت له (۶۹۰) څخه مراد (سترگي) دي.

له (۱۰۷) څخه مطلب (گولان = گلان) او له (۱۱۵) څخه مراد (بلبلان) دي.

د څلرم بيت له (۶۰) څخه مراد (دهن = خوله) ده.

---

[1] په چاپي متن کي "دوه سو اوه اويا" دي.

[2] دا بيت له متن څخه پاته سوی دئ.

له (۴۰) څخه مراد (اطل = خالیگاه) د میم د الغې (حلقې) تش ځای دئ.

له دوهم (۴۰) څخه مراد (م "میم") دئ.

له (۱۰۹) څخه مطلب (دندان) دي او له (۲۳۱) څخه مراد (گوهر) دي.

د پنځم بیت له (۸۳) څخه مطلب (لبان) او له (۱۳۰) څخه مراد (لعل) دئ.

له (۷۰۱) څخه مراد (پاریشاني زلفي = پرېشاني زلفي) دي او له (۳۴) څخه مطلب (جال) دئ.

د مقطع له (۱۷۳۰) څخه (غذل) راوزي چې د (غزل) ناسمه لیکنه ده. خو علامه رشاد کښلي دي چې "کېدای سي دا نیم بیتی داسي وي: جمعه یو زر او اووه دېرش جوړه پر شپږپنځوس کړه. له (۱۰۳۷) څخه مراد (غزل) ده.

له (۵۶) څخه مراد (مهبوبا = محبوبا) ده.

***

په (۹۱مخ) کې یوه معما داسي ده:

له جفا څخه دي مرمه یو وار زما پر لور صنمه
که ربښتیا کړې تېر سو یو زر اتیا واچوه پر سین

دا معماعلامه رشاد مرحوم داسي حل کړې ده:

(د تکملې عمل) ۱۳۸۰ + (سین = س = ۶۰) = ۱۴۴۰

(د عددي تبدی عمل) ۱۴۴۰ = (دَ کرم نظر و کَ)

***

د رنگین په نامه معما:

"واو" و "تې" له "توره" وکاږه چي سپین سي
"قاف" و "سین" ورسره واچوه چي شین سي

په تصحيف سرې مخ پرې مينځه چي سين سي
معـون ئـې دوه سـو لـس کـه چـي رنگـين سـي
(۱۹۰مخ)

حل:

(د تخرجې عمل) تور ت، و = (ر = ۲۰۰).

(د تکملې عمل) (ر = ۲۰۰) + (ق = ۱۰۰) + (س = ۶۰) = (۳۶۰ = شين).

(د تصحيف عمل) د شين درې ټکي لوېږي، (سين) پاتېږي.

(د تکملې عمل) (سين = ۱۲۰) + (۲۱۰) = (۳۳۰ = رنگين).

***

د محمدامين په نامه معما:

نور دي ټوله په يوه نيم جانشين سي
جوړ لـه دغـه يـوه نيمـه بـه امـين سي
بې لـه نهـو بـه ذکـي و تـه تعـين سي
(۱۹۰مخ)

حل:

(د تبديل عمل) – (يو = الف) + د قلب په عمل (نيم = مين) = امين.

(د تخرجې عمل) – (امين = ۱۰۱) – ۹ = (۹۲ = محمد).

ځکه چي دا دواړي معماوي د مسبع په يوه بند کي راغلي دي، کېداى سي چي "رنگين محمدامين" ځني مراد وي.

***

بله معما:

په بار بار به دي حاجي جمعه منت وړي
که دي دو اتيا مخلوط کړه په پنځو کي
(۱۵۴مخ)

په چاپي متن کي اول نیم بیتی داسي دئ:

"په بار بار به د حاجي جمعه منت وړې"

حل:

(د عددي تبدیل عمل) - دواتیا = ۴۲۲.

(د تکملې عمل) - ۴۲۲ + ۵ = ۴۲۷.

(د عددي تبدیل عمل) - ۴۲۷ = په مسا[1] دي لبان وا کړه

✶ ✶ ✶

بله معما:

د جمعه مطلب به هلته د ربنکاره سي
که ته لام ضــم له "برکوهَ" کـړې دانا

(۴۱مخ)

په چاپي متن کي "مر کوه" دئ.

حل:

(د عددي تبدیل عمل) - لام = ۷۱.

(د تکملې عمل) - ۷۱ + (بر کوه = ۲۳۳) = ۳۰۴

(د عددي تبدیل عمل) - ۳۰۴ = د پیر دیدن کَ

✶ ✶ ✶

د حاجي جمعه په دېوان کي ساده معماوي:

که وصـال د الف قدو دي په کار وي
نور په مینه کي ئې خم لکه څلور سه
(۱۱۹مخ)

له څلور څخه د شاعر مراد (د) دئ.

✶ ✶ ✶

---

[1] مسا = وړه خندا چي عربان ئې "تبسم" او پاړسیوانان ئې "لبخند" بولي.

"جمعه" پرېږده غيري چاري همېشه کړه
د الف او مـــــيم ثنا په هـــــر نفـــس
(۶۹مخ)

د شاعر مراد له الف څخه (الله) او له ميم څخه (محمد) دئ.

✶✶✶

د الف او دال تر منځ چي خوبرويان دي
د الله په نزد مرغـــوب و امـــين ته يې
(۱۶۲مخ)

دوهم نيم بيتی په متن کي "د اشنا په نزد مرغوب وامين ته يې" ثبت دئ.
د شاعر مراد به له الف څخه (ازل) او له داله څخه (ابد) وي.

✶✶✶

له ذرې څون سوپنځوس ساتلای نسم
يو څه سخـــته معـــما سي راته پېښه
(۱۱۹مخ)

که دا بيت سهي رانقل سوی وي نو داسي ښکاري چي د ذرې معهود في الذهن مقدر "شر" دئ او له څونسوپنځوس (۴۵۰) څخه به د شاعر مراد "تن" وي؟

دا وې هغه معماوي چي د حاجي جمعه بارکزي د دېوان په سريزه کي علامه رشاد مرحوم رااخيستي او حل کړي دي.

✶✶✶

بل ځای وايي:

زر يـو کـم اتيـا لـه غيـرو څخـه واخلـه
سـرومال نـور پـه بـاقي بانـدي نثـار کـه
د "جمعـــه" پـــه معمابـــه وپـــوهېږي
که ئې څوک د ابجدو په حساب شمار که
(۱۲۶مخ)

له دې معما څخه علامه رشاد مرحوم د حاجي جمعه بارکزي د قوم ذيلي ښاخ (ګرجي زی) استخراج کړی دئ او ليکلي ئې دي: "زما په خيال کېدای سي چي دغه مطلب د شاعر په دې معماکي هم راغلی وي" (وګ: د ديوان د سريزي اول مخ) د معماحل ئې داسي کړی دئ:

(د تخرجې عمل): (غيره = ۱۲۱۵) - ۱۰۷۹ = ۱۳۶

(د تبديل عمل): (سرو= الف = ۱)

(د تکملې عمل): ۱ + (مال يعني۱۳۶) + (باقي = ۱۱۳) = (۲۵۰ = ګرجی زی)

علامه مرحوم د "زماپه خيال کېدای سي ..." عبارت په ليکلو سره د دې معما په باب د نوري څېړني لار خلاصه پرې ايښې ده.

ما (هوتک) د دغي معما په اړونده غزله کي د ځينو قرينو، لکه "سرومال باندي نثار که"، "اصلي حُسن ته لار که" او نورو له مخي په دغه معما کي د شاعر ما فی الضمير يو مقدس څوک وګاڼه او د دغه حدس په حکم مي د معما حل پخپل فکر داسي وموند:

" غيرو" کلمه د " غير" کلمې مغيره جمع ده. د " غير" جمع " اغيار" هم کېدلای سي. دلته له (غيرو) څخه مراد (اغيار) دئ چي ابجدي ارزښت ئې (۱۲۱۲) کېږي.

(د تخرجې عمل): (اغيار = ۱۲۱۲) - (۱۰۷۹) = ۱۳۳

(د عددي تبديل عمل): ۱۳۳ = امامنَا (زموږ امام)

* * *

د ديوان په (۱۲۷مخ) کي حاجي جمعه بارکزی وايي:

يو آزار مــــــه کـــړه د زړونو بې حسابه عـــذابونه

په دا کار کي "فی" ولاړه "تا" له "سينه" سره ضم که

دا معما د علامه رشاد مرحوم په حل سوو معماوو کي نسته.

حل:

(د تکملې عمل): (ولاړه فې = فیا= ۹۱) + (تا = ۴۰۱) + (سینه = ۱۲۵) = ۶۱۷

(د عددي تکمیل عمل): ۶۱۷ = دوزخ

شاعر وایي چي په زړه آزارولو کي د (دوزخ) ډېر عذابونه سته.

✶✶✶

دا لاندي څو ساده معماوي هم د علامه رشاد رحمة الله علیه په حل سوو معماوو کي نه دي راغلي او زه (هوتک) به ئې وڅېړم.

د میـــم مدحـــه ده لازم تـــرا ابـــدا
چي حیات ئې کل لـه رویـه سو پیدا
میم ماضي په آینده وو کي ئې نسته
دال دویـــم پـــر اوو زمکـــو پـــر ســـما
(۴۳مخ)

حل:

له اول او دوهم میم څخه مراد (محمد) دئ. د (حیات) او (مدح) حاء هم د (محمد) له نامه سره تړلي دي. (د) هم د (محمد) د نامه توری دئ او هم د (دال) معنا (دلالت کول) دي.

✶✶✶

بله:

ضد د وصل له "جمعه" سره وو هلته
پر خاکي آدم چي نوم د عدم پرېووت
(۴۹مخ)

حل:

د (وصل) ضد (هجران) دئ. شاعر وایي چي (هجران) له انسان سره له وخته ملګری دئ چي (خاکي آدم) لا پیدا سوی نه وو.

✶✶✶

بله:

که ښایسته په صورت ډېر، مطلب مي "ت" و "ه" ده
بې تا دلـــبره مینه نه کـــــوم په (پر) بې و پر لام
(۸۲مخ)

حل:

له (ت) او (ه) څخه مراد (ته) د مخاطب مفرد ضمیر دئ. او (ب) و (ل) څخه مطلب (بل) دئ چي په پارسي (دیگر) ورته وایي.

✶✶✶

بله:

"جمعه" ځان تر هر سړي په کښته گوره
چي و نه تړې له مــــیمه ســره نون
(۸۸مخ)

حل:

(م) او (ن) چي سره وتړل سي (من) کېږي. (من) د "خودی، تکبر، هوا" معنا لري چي شاعر ئې د نه کولو توصیه کوي.

✶✶✶

بله:

مقصود نزدې کړه، له مــخي هې کړه
و او ئې په میان کي دُرُست د سین که
(۱۲۹مخ)

حل:

د (هـ) او (س) تر میان چي (و) راسي، (هوس) ځني جوړېږي. هوس او خوشحالي هغه وخت له چا څخه ځر گندېږي چي (مقصود) ته نزدې سي.

✶✶✶

د اخوند کبیر په کلام کي

د حافظ کبیر مشهور په اخوند کبیر مشهور کتاب "معجزات" نومېږي چي د لوی احمدشاه بابا (۱۱۶۰ - ۱۱۸۶هـ ق) د پاچهۍ پر اووم کال ئې په لیکلو پیل کړی دئ:

دی وایي:

پــه شـروع د دې کتـــاب شـــوم
پـــه وکـــښو دُر نایـــاب شـــوم
سن د هجـر چی مي شمار کـړه
"سـوغق" مـي تـرې اظهـار کـړه
چــي زر ســل او شـپږ شــپېته وو
دا وو تللــي نــور پـــه تلـــه وو
احمد شـــاه بابـــا پـــښتون و
اووم کـــال ئـــې پـــه رفتـــون و

(د افغانستان نومیالي: ۴۴۲/۴مخ)

د "سوغق" ابجدي ارزښت (۱۱۶۶) دئ.

دغه بیان د پښتانه شعراء په ۸۲۵/۳مخ کي هم سته.

زما (هوتک) په کتابخانه کي د "معجزات" یوه خوشخطه نسخه سته چي له بده مرغه د سر او پای له خوا کنډو ده او دغه تاریخي ماده نه لري.

* * *

د طالب رشید په کلام کي

طالب رشید د (ګل صنوبر) کیسه په پښتو ترجمه کړې او د پېښور

پښتو اکېډيمۍ له خوا نشر سوې ده. دغه چاپ سوې ترجمه اوس زما سره نسته خو د هغې د نظمولو تاريخي ماده به د ارواښاد پوهاند رشتين د (ادبي او تاريخي سمونې) نومي کتاب له ۱۳۹مخ څخه رانقل کړم. پوهاند صاحب مرحوم د کيسې نوم "ګل سنوبر" بللی دئ.

د هجـرت وو زر سـل کالـه
څلـور نـوي وربانـدې لالـه
چې پـښتو ګـل سنوبر شـوه
پــه ســينه کـې مقــرر شــوه

۱۱۹۴هـ ق

ارواښاد پوهاندصاحب زياته کړې ده چي د دې کيسې په سريزه کي ميرشرف خان وزير د دغي کيسې د نظمولو کال ۱۱۰۴ه بللی دئ او "د (نوې) کلمه ئې د (نور) په شکل لوستې ده.

ارواښاد دا هم ليکلي دي چي د سريزي ليکوال د طالب رشيد د نيکه نوم په سهوه سره "اخون عطفي" کښلی دئ چي سم ئې "اخون مصطفی" دئ.

* * *

د صدر خان خټک په کلام کي

صدرخان د ادم خان درخانۍ مثنوي د نظمولو نېټه داسي ويلې ده:

سن، ييغا بلبل د لا ؤ
جيم د عمر نن د ما ؤ
(فراقنامه، تعليقات: ۳۸ مخ)

د دغي مادې ابجدي ارزښت هيوادمل صاحب ۱۱۱۸ هـ ق راايستلی دئ چي ګويا تاريخي ماده "ييغا بلبل د لا ؤ" ده او جيم ئې (۵۳) بللی دئ.

دواړه عدده سهي دي. يعني په ۱۱۱۸ هـ ق کال د شاعر عمر دروپنځوس کاله وو.

صدرخان خټک د ادم درخانۍ کيسې په پای کي (د چاپي متن ۱۸۲مخ) دا بيت داسي راوړی دئ:

سن "يبغا بلبل دلا و"
حم د عمر نن ځما و
دا کتاب د عاشقانو
چه ما نظم کړو يارانو

حل:

ی	=	۱۰
ب	=	۲
غ	=	۱۰۰۰
ا	=	۱
ب	=	۲
ل	=	۳۰
ب	=	۲
ل	=	۳۰
د	=	۴
ل	=	۳۰
ا	=	۱
و	=	۶
ټول	=	۱۱۱۸هـ ق

په دغه کال خپل عمر "حم" بولي چي ابجدي ارزښت ئې (۴۸) کېږي.

د دغي تاريخي مادې ثبت ډول ډول سته. د چاپي (آدم درخانۍ) د ديباچې په (٢٨مخ، چاپ ١٩٥٩ع پېښور پښتواکيډيمي) کې ثبت داسي دئ:

سن "قيبغاد" بلبل لا وو

"حم" د عـــمر نن زما وو

"حم" ته ئې په لمنليک کي کښلي دي چي "په کابل کالنۍ کښې دا مصرع داسې ليک ده: "جيم" عمر نن زما وو.

له "قيبغاد" څخه (١١١٧هـ ق) راوزي او د ديباچې ليکوال محمدنوازخان طائر کښلي دي چي: "... خو د سن هجري د دې کال او د هغه کال چه د هغه د پلار د مرگ نه اتلس کاله وروستو ښودلی شوی دی، تر منځه د يو کال فرق معلومېږي. او اصل تاريخ مشکوک کوي. ممکنه ده چه دا لاندی باندی د يو کال د وروستۍ او د بل کال د وړومبۍ مياشتې د برکته پېښ شوی وي. په کابل کالنۍ کښې د "جيم" په حساب په دغه وخت کښې د صدرخان خپل عمر درې پنځوس کاله او د دې کتاب د لفظ مطابق د هغه عمر اته څلويښتو کالوته قابو شوی وو".

د همدې چاپ په متن (١٨٢مخ) کي بيا "سل يبغابلبل د لا وو + حم د عمر نن ځماوو" ليکل سوی دئ. "سل" چاپي غلطي ده او مراد "سن = سنه" ده.

د تاريخي مادې د ثبت دې گډوډيو ته ښاغلي حبيبالله رفيع په ادبي ستوري (٣١۴/٢ – ٣١۵ مخونه) کي تفصيلي اشاره لري چي همدا مطلب بيا (د صدرخوشحال ژوند او آثار) نومي کتاب په ٣١مخ کي هم اخيستل سوی دئ[1].

---

[1] د دغه کتاب په (٨٠مخ) کي دغه تاريخي ماده د ټايپيسټ د بې پروايۍ له امله داسي ثبت سوې ده:

سن ينبعا؟ د بلبل ولا وه – جيم د عمر نن دما وه

له دغه تفصيلي بيان څخه ئې نتيجه داسي رااېستلې ده چي د (ادم درخانۍ) منظومه کيسه صدرخان په (۱۱۱۸هـ ق) کال ليکلې ده او دا کال له "يبغابلبل د لا و" څخه راوزي. دغه راز ئې د برېټيش موزيم د ادم خان درخانۍ د نسخې په حواله دوهمه مصرع، ("جيم" عمر نن زما وه) بللې ده او په دې حساب د صدرخان عمر په دغه وخت کي (۵۳) کاله وو. ما (هوتک) چي د برېټيش موزيم د خطي نسخو کټلاک (۱۰۱مخ – د ۱۹٦۵ ع چاپ) وکوت، هورې د دغي تاريخي مادې ثبت داسي دئ:

زاغ حاسد زغن جاهل دي
بلبل څوک دردمند عاقل دي
سن قيبغاد بلبلو لا وه
جيم عمر نن ځما وه
دا کتاب د عاشقان
چه ما نظم کړ ياران

د ادبي ستوري ښاغلي مؤلف د دغي تاريخي مادې د همدې ثبت اوله مصرع "سن قيبغاد بلبلو لا وه" نه ده منلې خو دوهمه مصرع "جيم عمر نن ځما وه" ئې منلې ده. د دوهمي مصرع د منلو له پاره به ئې د کابل کالنۍ ثبت ښايي مِلاک ګرزولی وي.

د ادم درخانۍ مثنوي صدرخان خټک په تقريباً څلوېښتو ورځو کي ويلې ده. دی وايي:

کم وزياته يو چله شوه
چه تمامه دا قصه شوه
(۱۸۱مخ)

* * *

صدرخان خټک د (دلی او شهۍ) داستان هم په نظم ليکلی دئ او د هغه د ويلو تاريخ ئې داسي راوړی دئ:

ښه رنګ تم شوه سن ئې دا دی بې اشکاله
"د شـــهۍ دلي قـــصه تمامـــه لاله"

دا نېټه ما (د صدر خوشحال ژونداو آثار) نومي کتاب (۷۴مخ) څخه را نقل کړې ده.

حل:

د	=	۴
ش	=	۳۰۰
هـ	=	۵
ۍ	=	۱۰
د	=	۴
ل	=	۳۰
ي	=	۱۰
ق	=	۱۰۰
ص	=	۹۰
هـ	=	۵
ت	=	۴۰۰
م	=	۴۰
ا	=	۱
م	=	۴۰
هـ	=	۵
ل	=	۳۰
ا	=	۱
ل	=	۳۰
هـ	=	۵
ټول	=	۱۱۱۰هـ ق

که د نورو خطي نسخو په شان د دغي تاريخي مادې د "تمامه لاله"

لیکدود (تمامَ لالَ) وي، نو بیا لس له تاریخي مادې څخه کمېږي.

***

د صدرخان بل منظوم اثر (معجزات) نومېږي چي د بشپړېدو ماده ئې داسي ويلې ده:

دا کتـــاب چـــې آخــــر تــــم و
مـــــاه رجــب وه دوه ويـــشتم و [۱]
څـه خـو یـاد پـه زړه کـښې غـم کـړه
او اظهـــار لـــه ســترګو نـــم کـــړه
ســـن هجـــري و پـــه ابجـــد کـــښې
تېربېـــر نـــه شـي پـــه عـــدد کــښې
دا تـــصنیف صدر خو شـــحال کـــه
توفیـق د رب چـې دی یـې قـال کـه
(د صدر خوشحال ژوند.... : ۸۶مخ)

ما چي له پورتني کتاب څخه دغه بیتونه رانقل کړي دي، هورې ئې د معجزات د لیکلو کال نه دئ ښوولی. له دغو بیتو څخه زما په خیال د "سن هجري" او "تېربېر" کلمې تاریخي مادې دي چي له هغوڅخه (۱۱۵۰) لاس ته راځي. زموږ محققینو د صدرخان ژوند تر ۱۱۲۴هـ ق پوري یقیني بللی دئ[۲]، که په پورتنیو تاریخي مادو کي زما اټکل سهي وې نو د صدرخان ژوند نور هم اوږدېدلای سي.

---

[۱] وايي چي د پښتو اکیډیمۍ په خطي نسخه کښې ئې څه دا رنګ راوړي دي:
زه هـــر ګوره ګناه ګاریم
ســـتا کرم ته امیدواریم
دا کتاب چې آخـــریم و
ماه روزه وه دوه ویشتم و

[۲] هیوادمل – سرمحقق – د پښتو ادبیاتو تاریخ ۱/ ۱۵۸مخ.

✶ ✶ ✶

صدر خان خټک د خپل پلار یوه درنه ویرنه ویلې ده او په هغې کې ئې د پلار د مر گ تاریخ داسې ښوولی دئ:

ته مړ په حوت کښې سنه زر سل دو یمه خور وه
ورځ جمعه د څـــابښت په وخت دې بیله ســا ده

(د صدر خوشحال ژوند ...: ۱۹۴مخ)

د دغه بیت اول نیم بیتی ناسم دئ. سم شکل ئې ما ته داسې ایسي:

ته مړ حوت کښې سن زرسل دو یمه خور وه

په دغه شکل کی د بیت د هجاوو شمېر د قصیدې د نورو بیتو په شان (۱۲) کېږي.

✶ ✶ ✶

د سکندر خان خټک په کلام کي

سکندر خان خټک د خوشحال خان خټک زوی دئ. پر مردف دېوان سربېره د (لیلی مجنون) او (مهر و مشتری) مثنوي ګاني هم لري.

پـه شـلمه د رمـضان پـه جانـه ګـړ کـښې
افـضل خـان سـره یکرنـګ پـه اهتمـام
کـه تـاریخ د سـن د سـال غـو اړې لـه مانـه
د ابجد پـــه حـــروف عـــین و غـــین و لام

(دیوان مرتبه دوست محمدخان کامل – مقدمه: ۱۳ مخ ، ۱۹۶۲ع چاپ)

ع	=	۷۰
غین	=	۱۰۰۰
ل	=	۳۰
ټول	=	۱۱۰۰

کامل مرحوم لیکلي دي: "جانه کړ چراټ چاونړۍ نه سهیل لویدیز لوری ته د حسن خیلو اپریدو (چه په آدم خیلو ورګډیږی) په علاقه کښی دی". زلمي هیوادمل د سکندخان خټک د شمایل نامې او پندنامې په سریزه (١٢مخ) کي د دغو بیتو په ارتباط کښلي دي چي د خوشحال خان تر وفات وروسته چي د سرداری پر سر د افضل خان خټک او بهرام خان تر منځ کوم جنګونه سوي دي، په هغو کي سکندرخان د افضل خان پر سیله ولاړ وو. په دغو بیتو کي همدې واقعاتو ته اشاره ده.

***

د قنبر علیخان په کلام کي

قنبرعلیخان د تیراه اوسېدونکی وو. د ١٢٠٧ هـ ق کال په رجب میاشت کي په پېښور کي مړ او هورې ښخ دئ. مردف پښتو دېوان لري[1].

د دېوان یوه نسخه ئې ما (هوتک) په ٢٠١٢ع کال په کندهار کي (د علامه رشاد په کتابتون) وکتله او دغه یاداښتونه مي ځني واخیستل.

زه قنبرعلي غــلام یم د حسین
چه شریف عمر کالو نه ئې مجید
(دیوان: ٥٨ مخ)

مجید = (م = ٤٠) + (ج = ٣) + (ی = ١٠) + (د = ٤) = ٥٧.

حضرت حسین علیه السلام د شهادت پر وخت د ٥٧ کالو وو.

***

مــصطفی د علــم شــهر علــی بــاب دی
دغــه بــاب دی چــه مفــتح الابــواب دی

---

[1] وګ: فرهنګ زبان و ادبیات پښتو: ١/٣٨٩مخ.

په ابجد کښې پنځه باب دوولس ابواب دي
که دي علم حاصل شوی په حساب دی
د سالک قرب حاصل شي له حجابه
د معبود په ذات قریب د نور حجاب دی
په ابجد دوولس جواب څوارلس حجاب دی
اشارت له دې کلامه د احباب دی
(۱۲۵مخ)

حل: علامه رشاد د خپل کتابتون د قنبرعلیخان د دیوان پر همدغه مخ یو یادابښت ورته کښلی دئ:

آل عبا = ۵

امامان = ۱۲

ابواب = ۱۲

حجاب = ۱۴ (چارده معصوم)

جواب = ۱۲

* * *

حجج شمار که په ابجد چارده معصوم دی
دا وینا ده په کتاب کښې مروجَ
(۴۴مخ)

حل:

ح	=	**۸**
ج	=	**۳**
ج	=	**۳**
ټول	=	**۱۴**

* * *

د احـد د يگـانگۍ ئـې حـساب نـشته
د ابجـد پـه ديـارلس دی "احـد"
دغـه ديـارلس يـو نبي دوولـس امـام دي
دوازده امـام آلِ محمـد
(۵۵مخ)

حل:

ا = ۱
ح = ۸
د = ۴

ټول = ۱۳

۱۲ (امام) + ۱ (محمد) = ۱۳

***

د فهيم په کلام کي

فهيم په پښتو ژبه نورنامه کښلې ده چي د هغې د نظمولو تاريخ ئې ښاغلي رفيع په ادبي ستوري (۱/۸۹ مخ) کي داسي ثبت کړی دئ:

چـې خاتمـه د نورنـامې وه
هغـه ورځ د عاشـورې وه
سـنه د هجـر پـه داتـم وه
پـه څلـور حرفـه کـې ضـم وه
"غين" او "قاف" کړه په شماره
"مـيم" او "ط" کـړه ننـداره

له دغي تاريخي مادې څخه ئې د نورنامې د ليکلو کال داسي رااېستلی دئ:

غ = ۱۰۰۰
ق = ۱۰۰
م = ۴۰
ط = ۸

ټول = ۱۱۴۸هـ ق

ګویا فهیم دغه نورنامه د ۱۱۴۸هـ ق کال عاشورې په ورځ (د محرم الحرام پرلسمه) نظم کړې ده.

ارواښاد پوهاند رشتین پخپل اثر (ادبي او تاریخي سموني: ۹۴مخ) کي د دغي تاریخي مادې بیتونه "مات و ګوډ" بللي دي او سم شکل ئې داسي لیکلی دئ:

خاتمـــــه د نورنـــــامې وه
اول ورځ د عاشــــــورې وه
ســـن د هجـــر پـــه داتـــم ؤ
پـــه ځلـــور حرفـــه یـــې ضـم ؤ
غ او ق تـــــه پـــــه شـــماره
مـــیم او طـــې هـــم کـــړه ورســـره

(۱۱۴۹هـ)

زما (هوتک) په خیال د آخري نیم بیتي "ورسره" باید د لهجوي تلفظ په اغېزه (ورساره) ولوستل سي.

په دې دواړو ثبتونو کي د کال پر سر اختلاف نسته، یوازي د ورځي پر سر باندي موافقه نه لیدل کېږي. د ارواښاد پوهاند رشتین له ثبت سره سم باید د محرم الحرام اوله ورځ وي.

د محمدفهیم د نورنامې یوه چاپي نسخه (نورنامه کلان) زما (هوتک) په کتابخانه کي سته. په دغه نسخه (۳۱مخ) کي د خاتمة الکتاب تر

سر خط لاندي داسي راغلي دي چي زه به ئې کتې متې رانقل کړم:

نورنامــه مِ پــه پــښتو کــړه
دَ پــــښتون مِ د لو ســـتو کـــړه
کــه خطــا پــکښ لــه مــا وی
روره عفـــوه دِ لـــه تـــا وی
چـــه خاتمـــه د نورنـــامې وه
هغــــه ورځ د عاشـــــورې وه
ســـن د هجرپـــه ا ؟ (پـــدا) تـــم وه
پـــه څلـــور حرفـــه کښ ضـــم وه
غـــين او قـــاف کـــړه پـــشماره
مـــــيم او ط کـــــړه ننـــــداره
شـــکر شـــکر کتـــاب تـــم شـــه
بـــار د زړه نـــه څمـــا کـــم شـــه

....

محمـــــــد فهيم و تـــــا تـــــه
زاری کـــړی لـــه حـــده زياتـــه

***

د افضل خان خټک په کلام کي

افضل خان خټک د علم خانه دانش پښتو ترجمې د بشپړېدلو کال داسي ويلی دئ:

نصيحت په غوږو کله ځای نيولی د کښو دی
شنوا به پند ترې اخلي، دا کتاب د زمانو دی

کـه تـاريخ ئـې لـه مـا غـواړئ راشـئ واورئ:
"کــه يــې وګــورئ يــو ګــنج د پــښتنو" دئ
(په ګلشن روه کي ...: ۳۸مخ)

حل:

۱۱۲۸هـ ق

علامه رشاد رحمة الله عليه کښلي دي: "د دغه نيم بيتي (دى) کلمه په تاريخي ماده کي داخله نه ده، او له دغه امله مشوشه معما بلله کېږي"[1].

✶ ✶ ✶

د ميرزا حنان بارکزي په کلام کي

د حنان د دېوان په ميم رديف کي د غير منقوط صنعت يوه غزله سته چي مقطع ئې د معما په شکل د حنان نوم لري:

معما مي ده د اسم دوه سِمَکه
حا د دوو سِمَکو سر کړه واَعلَم
(دېوان: ۸۹مخ، د۱۳۸۸ش کال چاپ)

حل:

سِمک په عربي (ماهي، کب) ته وايي. نون ئې هم بولي. د (حا) توري (ح، الف) چي د دوو (نونو) سر سي يعني د يوه نون سر ته (ح) او د بل نون سر ته (الف) ولوېږي، (حنان) کېږي.

ح + ن + ا + ن = حنان

✶ ✶ ✶

بله معما:

---

[1] د افضل خان په تاريخ مرصع کي زياتره تاريخي مادې په فارسي ژبه دي او زما د دې کتاب په چوکاټ کي نه سي راتللای.

یــو ایلچـــي راغـــئ لـــه هنـــد ه دلاوره
ورســـره عجـــب حیـــوان وو بـــرادره
دا حیـــوان قـــادر جـــوړکړئ پـــه قـــدرت وو
لس ئې خولې او دېرش ئې پښې اتیا ئې سره
(۲۰۹مخ)

حل:

دا معما د (فیل) په نامه ده.

(۸۰) = ف + (۱۰) = ي + (۳۰) = ل = فیل

✶✶✶

بله معما:

افلاکونـــه ئـــې پـــه نـــور د جبـــین ونیـــو
درســـت جهـــان ئـــې نبـــوت پـــه نگـــین ونیـــو
پـــــر نامـــــه د مـــــدینې معجـــــزه گـــــوره
چي "مه" ثیري سوه په میان کي ئې "دین" ونیو
(۲۰۹مخ)

حل: دا معما د "مدینه" په نامه ده.

د "مه" توري چي سره ثیري (جلا) سي او په میان کي ئې "دین" ور ولوېږي، (مدینه) ځني جوړېږي.

✶✶✶

حنان د خپل پلار د مړیني درې تاریخي مادې ویلي دي:

زمـــا پـــلار محمد حـــسن د دیـــن پنجـــه
خدای دي ورکړي پـه جنت کښي سرچه
لـه هوښـیاره مـې د مـرگ پوښتنه وکـړه
راتـه وې ویـل تـاریخ سـو "مرغـی چـه"
(۲۰۸مخ)

حل:

م	=	۴۰
ر	=	۲۰۰
غ	=	۱۰۰۰
ی	=	۱۰
چ	=	۳
ه	=	۵
ټول	=	۱۲۵۸هـق

***

بله ماده:

قبلـه گـاه مـي پـه عمـل لکـه بيـضه
دريـا لـه غـشي ئـي خلاصـه فِـضه
هـاتفي ئـي پـه وفـات کـښي دغـه ووې
چـي تـاريخ ئـي دا "مقـام سـو روضـه"
(۱۵مخ)

حل:

م	=	۴۰
ق	=	۱۰۰
ا	=	۱
م	=	۴۰
س	=	۶۰
و	=	۶
ر	=	۲۰۰
و	=	۶
ض	=	۸۰۰

ه	=	۵
ټول	=	۱۲۵۸هـق

٭٭٭

بله ماده:

قبلـه گـاه مـي و جـوار تـه د کـريم
ســو روان الحکـــم لله الحکـــيم
لـه هوښيارهمې د مـرگ پوښتنه وکـړه
ول تـاريخ ئـې دئ "لـهُ اجـرٌ عظـيم"
(۲۰۹مخ)

د دې مادې د "اجر" کلمې د سر الف (همزه) په محاسبه کي نه راځي.

حل:

ل	=	۳۰
ه	=	۵
ج	=	۳
ر	=	۲۰۰
ع	=	۷۰
ظ	=	۹۰۰
ی	=	۱۰
م	=	۴۰
ټول	=	۱۲۵۸هـق

٭٭٭

د حنان د ورور (اخوی) "برهان" د مړيني تاريخي ماده:

د برهـان مـرگ مـې پـر زړه اور بـلاوه
پـه پوښـتنه مـې همـه ځـای لټـاوه

د وفـــات تـــاريخ ئـــې دا هـــاتفي ووې
"لَدا نـــيم برهـــانَ مـــخ وگـــرزوه"
(۲۰۸مخ)

حل:

ل	=	۳۰
د	=	۴
ا	=	۱
ن	=	۵۰
ی	=	۱۰
م	=	۴۰
ب	=	۲
ر	=	۲۰۰
ه	=	۵
ا	=	۱
ن	=	۵۰
م	=	۴۰
خ	=	۶۰۰
و	=	۶
گ	=	۲۰
ر	=	۲۰۰
ز	=	۷
و	=	۶
ه	=	۵
ټول	=	۱۲۷۷هق

٭٭٭

د "دوران" نومي د مړيني تاريخي ماده:

د دوران د مرگ خبر مات کړم پر ملا
چي مشفق او مهربان وو پر هر چا
له هوښياره مې د مرگ پوښتنه وکړه
وې ويل تاريخ زر دوه سوه اويا
(۲۰۹مخ)

د برهان د مړيني کال (۱۲۷۰هـ ق) دئ.

* * *

د کندهار د ذاکر شريف د مياجان محمداخند رحمة الله عليه د وفات ماده:

چي ولي وو د خپل وخت فاني فی الله
نا اميده ئې څوک نه تله له درگاه
يو هوښيار ئې په وفات کښي دغه ووې
دا تاريخ "مياجان محمد رضی الله"
(۲۰۸مخ)

حل:

م	=	۴۰
ی	=	۱۰
ا	=	۱
ج	=	۳
ا	=	۱
ن	=	۵۰
م	=	۴۰
ح	=	۸
م	=	۴۰
د	=	۴

ر = ۲۰۰

ض = ۸۰۰

ی = ۱۰

ا = ۱

ل = ۳۰

ل = ۳۰

هـ = ۵

ټول = ۱۲۷۳هـ ق

***

د سردار مهردل خان مشرقي (۱۲۷۱-۱۲۱۲هـ ق) په نامه ئې یوه معما د نوموړي سردار په مرثیه کې داسي ویلې ده:

چي ئې ملا په عبادت لکه دال خم وه
د سکوت مهر ئې پر خوله مزری د دین ولاړ

حل:

د (دال) ملا چي (الف) دئ د (خم) په قرینه ایسته کېږي او (دل) پاتېږي. پر خوله یعني په سر کي ئې (مهر) ورزیاتېږي او (مهردل) ځني جوړېږي.

د خپل دېوان د بشپړېدلو تاریخ ئې داسي راښوولی دئ:

په اتمام کښي چي مي وکړ استفسار
عقل وویل تاریخ ئې "اختصار"

(۲۱۰مخ)

حل:

ا = ۱

خ = ٦۰۰

ت = ۴۰۰

ص = ۹۰
ا = ۱
ر = ۲۰۰
ټول = ۱۲۹۰هـ ق

***

د علامه حبیب الله کندهاري (حبواخندزاده) په کلام کې

علامه مرحوم د پښتو منهاج العابدين په خاتمه کې ويلي دي:

کتاب شکر دئ تمام شه
نا آرام خاطر آرام شه

.....

تمام پُر له ښو نکتو دئ
له نفيسو مسئلو دئ
د گوهرو خزانه ده
پُر له دُرو يکدانه ده

.....

نوم ئې ښايي چې تعين
شي معراج السالکين
يا "اخلاق التايبين" شي
چې تاريخ ځني مبين شي
مکتوبي حرفونه ياره
له دويمه اسمه شماره
په حساب د ابجد
کړه معلوم د دوی عدد

۱۷۸
تېـــر کلونـــه لـــه هجرتـــه
پـه‌دا شـمار و نېـک سـيرته

(۲۷۷مخ، د ۱۳۴۰ هـ ق چاپ، لاهور)

د اخلاق التايبين ابجدي ارزښت داسي دئ:

ا	=	۱
خ	=	۶۰۰
ل	=	۳۰
ا	=	۱
ق	=	۱۰۰
ا	=	۱
ل	=	۳۰
ت	=	۴۰۰
ا	=	۱
ی	=	۱۰
ب	=	۲
ی	=	۱۰
ن	=	۵۰
ټول	=	۱۲۳۶هـ ق

✶✶✶

ثلرم څپرکی

تعميې داوسنۍ دورې په ادب کي

د انجيل د پښتو ترجمې کال:

د اتمام تاريخ ئې روح په دا شان ووې
"چې انجيل راغی له ربه پر مســيح"
(په گلشن روه کي دبابو جان ...: ۳۴مخ)

له دوهم نيم بيتي څخه (۱۸۶۰ع) په دې شرط راوزي چي نيم بيتی داسي وليکل سي (چِ انجيل راغی لَ ربَ پرمسيح). دغه ترجمه د ميجر جورج راورټي تر نګرانۍ لاندي سوې ده.

✶✶✶

د مولوي صالح محمدهوتک په کلام کي

د خپل نيکه مولوي عبدالرؤف کاکړ (خاکي) د وفات تاريخي ماده:

شپاړســمه د شــوال شــپه د شــنبې وه
چي زمـا جـد مغفـور لـه دې جهـان ولاړ
هـم سـنه ئـې د وفـات"جـد مغفـور" سـوه
رب دي دی لري مغفـور چي نـاتوان ولاړ
(پاشلي ويناوي: ۴۹مخ)

حل:

ج = ۳

د = ۴

م = ۴۰

غ = ۱۰۰۰

ف = ۸۰

و = ۶

ر = ۲۰۰

ټول = ۱۳۳۳هـ ق

مولوي عبدالرؤف کاکړ د ۱۳۳۳هـ ق کال د شوال پر شپاړسمه د شنبې په شپه وفات سو.

***

بله تاریخي ماده:

د مولانا صاحبزاده صاحب محمدعمرجان اغا غفرله د وفات تاریخي ماده:

کراچـــي کـــي دا ژړا راڅخـــه وســـوه
د صـــاحب مرگـــی زمـــا پـــر زړه خنجـــر دئ
د وفـات کـال ئـې (حـاجي مغفـور) وشمېره
یو ویـشتم د ذی الحجې چې لـوی اختـر دئ

(پاشلي ویناوي: ۶۲مخ)

حل:

ح = ۸

ا = ۱

ج = ۳

ی = ۱۰

م = ۴۰
غ = ۱۰۰۰
ف = ۸۰
و = ۶
ر = ۲۰۰

ټول = ۱۳۴۸هـ ق

محمدعمرجان صاحبزاده د ۱۳۴۸هـ ق کال د ذی الحجې پر یوویشتمه د حج ادا کولو پر وخت د موټر په ټکر کي وفات سو.

***

د ابوالفیض مولوي عبدالغفار بریالي په کلام کي

مولوی عبدالغفار بریالی (۱۳۵۷ش شهید) د کندهار په معاصرو شاعرانو کي د هندي سبک پیرو معلومېږي. د ده په اشعارو کي یو لړ معماوي او تاریخي مادې سته خو له بده مرغه ځیني مشوشي معماوي دي او ځیني به بیا غالباً ناسمي ثبت سوی وي. زه به دلته د ده له چاپي دیوان (اهاړ) څخه ټولي رانقل کړم او هغه چي د حل وړ دي، هڅه به وکړم چي حل ئې کړم او نوري به د لوستونکو پر غاړه ورواچوم.

اوله معما د (بدر) په نامه:

عربـــي فقـــر تـــه لـــږ ورکـــه تخفیـــف
مفتـوح لـس کـه پـه فارسـي سـره سـخیف
که دوه نور باندي زائد کې سي به دوولس
رانـه ورک بـه دوولـس کالـه سـي تکلیـف

(اهاړ: ۱۷۲مخ)

حل:

"فقر" ته چي تخفيف ورکړه سي (ر) پاتېږي.

له (ر) سره چي فارسي لس (ده) مفتوح يعني(دَ) يو ځای سي (دَر) ځني جوړېږي.

پر دغو تورو چي دوه يعني د ابجدپه حساب (ب) زيات (زائد) سي (بدر) ځني جوړېږي.

د دغه مطلوب نوم له پاره قرينه "دوولس کاله تکليف ورکېدل" دي او د هغې تاريخي سابقه داسي ده. د اسلام د بعثت د سر دوولس کاله پر مسلمانانو باندي د مکې د کفارو له خوا د تکليف خورا سخت کلونه ول. په دغه زمانه کي لا د جهاد امر پر حضور ﷺ باندي نه وو سوی او يوازي ئې د تبليغ له لاري خلک د حق لور ته رابلل. په دغو دوو لسو کلونو کي پر مسلمانانو باندي تکليف دونده (دومره) زيات سو چي د بعثت پر دوولسم کال له مکي څخه مدينې ته هجرت پيل سو. د مکې کفارو په مدينه کي هم مسلمانان پر آرامه پرېښوول او لښکر ئې پر ورووست. د بعثت پر پنځلسم د (بدر) غزا وسوه، کفارو ماته وخوړه او پر مسلمانانو باندي تکليف کم سو.

مولوي بريالي صاحب له دغي تاريخي واقعې سره په ارتباط کي خپله قرينه موږ ته په لاس راکړې ده.

په چاپي مجموعه کي چي دغي معما ته په حاشيه کي کښلې دي: "عربی فقريعنی (لؤس)" د معما له حل سره هيڅ مرسته نه سي کولای بلکي د لاسه لا لوستونکي پر نورو توجيهاتو باندي رهنمايي کوي.

* * *

دوهمه معما د (غفار) په نامه:

د مغزو ماغزه راواخله وچه غوا ده

د صفت په لړمانه کي مدعا ده

لـه ادراکـه سـترګي وکـاږه اشـنایه
"بریـالي" درتـه لیکلـې معمـا ده
(۱۷۲مخ)

حل:

د "مغز" ماغزه یعني د منځ توری (غ) دئ. غوا ته په عربي ژبه (بقر) وایي. چي وچه سي یوازي (ر) پاتېږي. د (صفت) لړمون یعني منځ (ف) ده او د (ادراک) سترګه (ا) دئ. دا څلور توري چي سره یو ځای سي (غفار) ځني جوړېږي.

دغي معما ته ئې په چاپي مجموعه کي کښلي دي: "معما کښی مطلب په عربی ژبه قبله راکه په تفصیلی توګه یی تاسی تطبیق کړی شکریه". خو په دې معما کي د قبله له پاره هیڅ راز قرینه او اشاره نسته.

٭٭٭

دریمه معما د (علی اسدالله) په نامه:

یـوه حـرف تـه لبـاس ورکـړه د اسـد
څلـرم سـتوری مـشهور د محمـد
نـازولی نـوکر مـخ ځـي لـه پاچـا نـه
شهنـشاه دئ محمـد نـوکر اسـعد
معمـا ده ډېره سخته کـه حل غـواړئ
پـه صـلوة وربانـدي وغـواړه مـدد
(۱۷۳مخ)

حل:

له یوه حرف څخه مراد (علي) دئ او قرینه ئې دوهم نیم بیتی دئ چي وایي د محمد ﷺ مشهور څلرم ستوری وو. له (څلرم ستوري) څخه مطلب (څلرم خلیفه) دئ. دغه حرف ته چي د (اسد) جامه درواغوستل سي (علی اسد) ځني جوړېږي. (اسدالله) د حضرت علی کرم الله وجهه

لقب وو. ورپسې دوه بیتونه ټول د حضرت علي کرم الله وجه له پاره د قرینې کار ورکوي. دا چې نازولی نوکر تر پاچا دمخه روان وي او شهنشاه خو (محمد) دئ نوکر ئې اسعد یا (اسد) دئ، مراد ورڅخه دا دئ چې حضرت علي کرم الله وجهه پر حضور مبارک ﷺ ډېر ګران وو. د دغه ناز نتیجه ده چې روافض هغه ته تر حضور ﷺ لا لوړه درجه ورکوي. دغو توجیهاتو معما یو څه مشکله کړې ده ځکه نو بریالی صاحب وایي چې "معماسخته" ده.

٭٭٭

څلرمه معما د (علی، محمد) په نامه:

د علیم حمید ویل حب شفا ده
تغافل ئې په فتحه د شین شفا ده
تر تفریق او جمع وروسته "بریالیه"
مرداني یار ته حاضر سه لار صفا ده
(۱۷۳مخ)

حل:

شاعر وایي چې د "علیم" او"حمید" ویل (لوستل) او له هغه محبت درلودل (شِفا) ده. (شِفا) د شین په کسره، صحت، روغوالي او تندرستۍ ته وایي. خو که دي له دغو نومونو سره "تغافل" وکړ یعنې بې خبري دي ورڅخه وښووله یا دي انکار ځني وکړ، نو (شَفا) د شین په فتحه (زوَر) درته راغله. (شَفا) د شین په زوَر د (مرګي، د عمر د پای) معنا لري (غیاث اللغات). د اهل سنت و جماعت عقیده هم دا ده چې د حضرت علي کرم الله وجهه په باب تغافل روا نه دئ. د ده نوم د جمعو او اخترو د لمانځه په خطبو کې ویل کېږي.

د (علیم) او (حمید) پر کلماتو باندې چې د تکملې یعنې (جمع) عملیه تطبیق سي، (علیمحمید) ځني جوړېږي.

بیا چي د تخرجې یعني (تفریق) عملیه پر اجرا سي، وروستی (یا) به ځني کمه سي یعني (على، محمد) به پاته سي.

لوستونکي به ووایي چي ولي نو لومړی (یا) نه کمېږي. د دې دپاره قرینه (مرداني یار) ده. (یار) دلته د خلیفه په معنا دئ. پښتانه راشدینو خلفاووته (څلوریاران) وایي او (شاه مردان) د حضرت علي کرم الله وجهه لقب دئ چي په یوه پاړسي بیت کي داسي راغلی دئ:

شاه مردان شیر یزدان قوت پروردگار
لافتی الا عـــلی لاسیف الا ذوالفقار

له (مرداني یار) څخه مراد حضرت علي (ک) دئ.

په چاپي مجموعه کي یوازي یوه حاشیه "حرف یعنی (علی) اسدالله" له معماسره ارتباط لري، نوري حاشیې ئې ټولي زوائددي.

* * *

پنځمه معما د (احمد) په نامه:

یـو د خـدای علـیم حمیـد وایـه سـپاس
بـل د لاسـه نـه لـس لیـري کـه پـه لاس
د هغـه صـدر سـرمد نـوم بـه بیـا مـومې
چي په لیک باندي ئې فخر کړي قرطاس
(۱۷۳مخ)

حل:

سپاس ته په عربي (حمد) وایي. د (لاس) کلمې څخه چي (لس) یعني لام او سین لیري سي، (ا= الف) پاتېږي. الف چي له حمد سره یو ځای سي (احمد) ځني جوړېږي او دا هغه "صدرسرمد" یعني حضرت محمد ﷺ نوم دئ چي په لیکلو ئې کاغذ فخر کوي. د (سرمد) معنا(دایم، همېشه) ده او (قرطاس) کاغذ ته وایي او (قرطاسیه) هم له دغه لغت څخه راوتلې کلمه ده.

بایدووایم چې په چاپي مجموعه کې د (صدرسرمد) پر ځای (صدرسرحد) راغلی دئ چې تېروتنه ده.

***

شپږمه معما:

لس له کاله پوره وړی لمرکندو سو
دېرش ټيکه د اضافت وهي کندو سو
(۱۷۳مخ)

حل:

په دغه معما هيڅ نوک نه جګېږي. د ثبت پر سموالي ئې هم شکمن يم. دوهم نيم بيتی ښايي "دېرش ټيکه د اضافت وهي هندو سو" وي.

***

اوومه معما د (مهدي آخر زمان) د راتګ کال:

که له نو حه څـــخه کې زړه د آدم لـــيري
په هغه کال به مهدي کي حجاب څيري
(۱۷۴مخ)

حل:

د (نوح) ابجدي ارزښت (۶۴) دئ.

د (که = ک) ابجدي ارزښت (۲۰) دئ.

د دواړومجموعه (۸۴) کېږي. له دغه مجموعي عدد څخه چې د (آدم) زړه يعني (د = ۴) ليري سي، (۸۰) پاتېږي.

د مهدي آخرزمان په باره کي پخوانيو خلکو د شاه نعمت الله ولي رحمة الله علیه د پېشګويۍ له مخي چې د مهدی آخرزمان په باب ئې ويلي ول: "در هزار وسه صدوهشتادآن پيدا شود"، د څورلسمي هجري قمري پېړۍ اتيايمه لسيزه (۸۰) کال باله. دغه رازپېشګوياني د هغه وخت په فارسي کتابو کي راغلي وې. شاه نعمت الله ولي (۷۳۱ – ۸۳۲هـ ق) د کرمان وو او

په هرات کي ئې هم عمر تېر کړی وو. ځيني کسان ئې د حافظ شيرازي "پيرطريقت"بولي؟ ده په تصوف کي يوه خاصه طريقه چي (نعمت اللهي) نومېږي را ايستلې وه.

شاعر دلته د (مهدي) په باب دغه عنعنوي خبره په معما کي ځای کړې ده.

* * *

اتمه معما د (عبدالواحد) په نامه:

د اختـر لـه دوو څـه يـو صـفر معـدوم کـړه
يـو د زړه پـه زړه پيونـد روح ورمـضموم کـړه
محققــه مطلــب تـــام د "بريـــالي" ســـو
نـــوم د عبدالواحــد جان ځنــي معلــوم کـــړه
(۱۷۴مخ)

حل:

اختر ته (عيد) وايي . د عيد له دوو ټکو څخه چي يو (صفر) معدوم (نېستي) سي، (عبد) پاتېږي.

زړه ته (قلب) وايي او د (قلب) کلمې زړه بيا (ل) دئ. له دغه (ل) چي (يو = واحد) پيوند سي (ل واحد، الواحد) ځني جوړېږي.

که (عبد) او (ل واحد = لواحد = الواحد) سره يو ځای سي، (عبدالواحد) ځني جوړېږي.

په چاپي مجموعه کي د (صفر) پر ځای (صرف) ليکل سوی دئ او معما ئې ړنده کړې ده.

* * *

تاريخي مادې:

د کدني د بابک صاحب (سيد عبدالغنی جان اغا) د وفات مادې:

په شمسي حساب:

چهارشنبه دیارلس د حمل وخت سهار
له هیبته رنګ د ورځي اصفرار
پاو بالا شپې بجې وخت د مصیبت
اسمان توی کړ پر عالم باندي حیرت
دوڅلوېښت و دیارلس سوه وه سنه
"یاغفران" ئې په ابجد سوه نمونه
(۲۰۳مخ)

حل:

د (یا غفران) ابجدي ارزښت (۱۳۴۲ه ش) کېږي او دغه د سید عبدالغني جان اغا د وفات کال دئ.

په قمري حساب:

قمري وه دیارلس سوه دو اتیا
بابک رحمة الله علیه ولاړی د اجل په میلمستیا
په تذکار بې د تاریخ کوي تعلیم
یا واحد یا غنی و یا کریم
یا د نوح له نامه زړه د نوح کړه لیري
د نوحې په سیلاب وړه د سترګو خیري
یادګار هم د تاریخ قمري
مستنبط کړه په حساب شجري
جیم د حا ځه، جیم د واوه که موضوع
جیم له ها بې له الفه که موضوع
که راتلونکي کال ته غواړې نښاني
ننګوه سیدالناس عبدالغني
(۲۰۴مخ)

حل:

یا واحد	=	۳۰
یا غنی	=	۱۰۷۱
یاکریم	=	۲۸۱
ټول	=	۱۳۸۲هـ ق

بله قمري ماده:

له (نوح) لغوي معنا ئې (ژړا کوونکی) ده چي له دې څخه د شاعر مراد خپل ځان (عبدالغفار) دئ.

د (عبدالغفار) ابجدي ارزښت (۱۳۵۸) کېږي. له دغه عدد څخه چي د (نوح) زړه یعني (و = ۶) وایستل سي (۱۳۵۲) پاتېږي.

د (سیلاب) کلمې یوه سترګه (س، ي) ده او بله سترګه ئې (ا، ب) ده. د شاعر په ژبه چي د دواړو سترګو دغه خیري د (نوحې = ماتم = اوښکو) له امله یووړل سي (ل) پاتېږي. د (ل) ابجدي ارزښت (۳۰) دئ. دغه ارزښت چي پر (۱۳۵۲) واچول سي (۱۳۸۲هـ ق) راوزي او دا د بابک رحمة الله علیه د وفات قمري سنه ده.

دغه راز د (سیدالناس عبدالغني) څخه د ابجد په حساب (۱۳۸۳هـ ق) راوزي چي دا ئې د وفات راتلونکی کال دئ.

د پورتني شعري ټوټې پنځم بیت ما حل نه کړ. که ئې ثبت همداسي صحیح وي، نو دي ښاغلي لوستونکي ځان پر وګوري او حل دې پیدا کړي.

* * *

د شهید مولوي بریالي صاحب د شهادت تاریخي پېښه چي له حج څخه د بیر ته راتلو په وخت کي پېښه سوې ده، د ده یوه خواخوږي دوست ابوالمغفور مولوي عبدالحکیم په یوه اوږده مثنوي کي ویلې ده، چي زه ئې یو څه برخه دلته رانقلوم:

را رهي افغانستان ته نازنين سو
ورته پټ خلقي ظالم کمين نشين سو
پر ميدان د کندهار چي سو معلوم
آماده و انتظار وه د مظلوم
چي را کوز له طياري سو حق شناس
ظالمانو فوراً ونيوی تر لاس
اجازت ورلره نه سو بالا نور
نه ئي وليدی قريب، عيال و کور
رباني شيخ الحديث چي سو مسجون
کندهار له ډېره غمه سو محزون
يو زر دري سوه اووه پنځوس تاريخ
شل د قوس وو پر جانان سو اوقات تريخ
رفقاء ئي راستانه سول يک تنها
سو راتګ ئي و قريو ته په ژړا
(ابوالفيض) ئي برابر بوتی محبس ته
د هوا آزاد مرغه ولاړی قفس ته

......

اغلباً مي پر زړه دا راځي شهيد دئ
ربه اِغفِر شهادت ئي پر توحيد دئ

(۲۱ – ۲۲مخونه)

✶✶✶

د علامه رشاد په کلام کي

د حافظ رحمت خان د شهادت تاريخي ماده:

"شهادت يې نصيب سو" = ۱۱۸۸هـ ق

(حافظ الملک ...: ۷۶مخ)

بل:

چــي شــجاع د پرنگيــانو ســره مــل ســو

مـرور لـه (دې دنيـا) "دخداى رحمت" ولاړ

حل:

د	=	۴
خ	=	۶۰۰
د	=	۴
ا	=	۱
ى	=	۱۰
ر	=	۲۰۰
ح	=	۸
م	=	۴۰
ت	=	۴۰۰
ټوله	=	۱۲۶۷

له دې مجموعې څخه چې د (دې دنيا = ۷۹) قيمت د مرور په قرينه تفريق سي (۱۱۸۸هـ ق) پاتېږي.

✶ ✶ ✶

علامه مرحوم د نواب محبت خان يو عربي زبر په پښتو نظم اړولی دئ چې دلته به اصل نظم او ترجمه يو په بل پسې راوړم:

اذالــم يبــق فــى الاســلام آثــار

جــرى مــن مقلتــى دمــع كانهــار

فقالــت الهــاتف: مــن يظهرالــدين

فجاء الصوت: "سلطان الجهاندار"

پښتو ترجمه ئې:

چې د اسلام په ملک کې سوې د اسلام چارې ګرانې
ويالې د اوښکو مې ترسترګو کړې غمو روانې
هاتف مې وپوښتېد چې څوک به زموږ د دين غاورسي؟
ول: په "سلطان الجهاندار" به سي سختۍ اسانې
(حافظ الملک: ۱۳۶مخ)

***

د علامه حبيبي د وفات تاريخي ماده ئې داسې ويلې دي:

دريغه، نن د شلم قرن بيروني ولاړ
د افغان ولس له ټوله حبيبي ولاړ

حل:

"د افغان ولس له ټوله" تاريخي ماده ده، ابجدي ارزښت ئې (۱۶۷۳) دئ، د بيروني او حبيبي کلمو ابجدي ارزښت (۳۱۰) چې څني وباسو (۱۳۶۳) پاتېږي. په دې استخراج کې د تخرجې له عمله کار اخيستل سوی دئ. (ولاړ) ئې په دواړو مصرعو کې د اسقاط (نفی) قرينه ده. (د استاد ياد: ۱۴مخ).

***

علامه رشاد مرحوم د غالب جنګ بخشي الممالک غازي نواب احمدخان بنګښ د مړيني تاريخي ماده د يوه پښتانه شاعر له خولې رانقل کړې ده خو ما د دوی (د علامه) د کلام په برخه کې راوړه. تاريخي ماده داسې ده:

د دنيا تر "يوويشت" کالو نوابۍ وروسته
"احمد ولاړی جنتوته" کامراني کړي

حل:

"احمد ولاړی جنتوته" جمله د ابجد په حساب ۱۱۶۴ کېږي د نوابۍ

د کلونو شمېر (یوویشت) چي پر زیات سي ۱۱۸۵ ځني جوړېږي. نواب احمدخان بنګښ د دغه کال د لومړۍ خور (ربیع الاول) یا د برات په میاشت کي مړ سوی دئ. (وګ: غالب جنګ غازي نواب احمدخان بنګښ او د هغه کورنۍ: ۱۴۴مخ).

***

د احمدشاهي کندهار د تاداو ایښوولو تاریخي ماده:

"دا ښار احمدشاهي کندهار دئ" = ۱۱۶۹هـق

(د کندهار یادښتونه: ۱/۱۲۶مخ)

***

علامه رشاد د سردارمحمد داؤد او د هغه د کورنۍ د ډله ییز شهادت جریان په یوه اوږده مرثیه کي ویلی دئ چي "د محمدزیو کربلا" نومېږي او (د افغانستان بدي ورځي) نومي شعري مجموعې په (۳مخ) کي چاپ سوې ده. د دغي مرثیې د پای درې بیته، چي تاریخي ماده پکښې ده، دلته راوړم:

دا د هغـــو نـــــازولو وژلتـــــون دئ
ورکـــه کـــړې چـــي ئـــې ظلـــم هـــدیره ده
دوی چـي ولمبـل پـه ډنـډ کـي د سـرو وینـو
د غـــوایي اوومـــه، ورځ ئـــې جمعـــه ده
"شـهادت" چـي پـر زیـاتی سي معنـوي سي
یـــو زر درې ســـوه اووه پنځـــوس ســـنه ده

حل:

(یو زر درې سوه اووه پنځوس) صوري تاریخي ماده ده چي د تورو ابجدي ارزښت ئې (۶۴۷) کېږي. د "شهادت" ابجدي ارزښت (۷۱۰) چي پر زیات سي، (۱۳۵۷ه ش) سنه ځني جوړېږي.

***

د خپل وراره مولانا محمد د شهادت تاريخي ماده:

تـــاريخي مـــاده د مـــرگ دي" مولانـــا " ده
چي"د خداى په رحمت" ستا قدرداني سوه
بـل تـاريخ دي هـاتف ووې: بـې لـه "شـکه"
"علـى خـداى تـه يـې قبولـه قربـاني سـوه"

د اولي تاريخي مادې حل:

(مولانا = ۱۲۸) + (د خداى رحمت = ۱۲۷۴) = ۱۴۰۲هـ ق.

د دوهمي مادې حل:

(على خداى ته يې قبوله قرباني سوه = ۱۷۲۷) - (شکه = ۳۲۵) = ۱۴۰۲هـ ق.

په شمسي حساب ئې تاريخي ماده داسي ده:

"ســـتر شـــهيد دئ مولانـــا " ملَکـــو ووې:
چـي قبـول تـه ئـې د "رحـم" غېـږ خـالي سـوه

حل:

د تکملې عمل: (ستر شهيد دئ مولانا = ۱۱۲۱) + (رحم = ۲۲۸) = ۱۳۶۹.

د تخرجې عمل: (۱۳۶۹) - (د رحم غېږ = ح = ۸) = ۱۳۶۱هـ ش.

* * *

د خپل کشر ورور حبيب الله د شهادت تاريخي ماده ئې داسي ويلې ده:

"د شنبې ورځ د حوت شـــلمه" ســـتا د مرگ نېټه ده
د زړگي سر چي دي ترې پرې سي نو د کال شمېره ده

حل:

(د شنبې ورځ د حوت شلمه = ۱۳۶۸) - (د زړگي سر = ز= ۷) = ۱۳۶۱ش.

* * *

د خالق رشید په کلام کې

د ډاکټر زیورمرثیه:

پوهاند دوکتور زیورالدین زیور په ۱۳۹۰ش کال مړ سو. استاد دوکتور خالق رشید ئې د مړیني تاریخي ماده ویلې ده:

د اغیار مخ کې راتـه اوښکه په سلګو واوښته
د پـښتو نـاوې بـې زیـوره پـه مرګـو واوښـته
لـه "غـرش" "علي" کم شـو د خدای پـه امـر[1]
اروا یـې واولتـه پـه سـپینو فرښـتو واوښـته

که زما (هوتک) اختیار وای، ما به د څلوریځې دریم نیم بیتی داسي اړولی وای:

"علي" راولوېد، له "غرش" څخه د خدای په امر

په دې ډول به له یوې خوا د شعر سکته ورکه سوې وای او بل به تاریخي څلوریځې یو څه معمائیت موندلی وای او هغه دا چې (راولوېد) به د تخرجې علمیې له پاره د قرینې کار ورکړی وای.

***

زما (هوتک) په کلام کې

ما اوله معما د (قیوم) په نامه جوړه کړې ده. په باختر آژانس، پښتو څانګه کي مو له متین خوږیاڼي سره د شعري صنایعو په باب بحث کاوه، دغه معما مي فی البدیهه وویله. قیوم اتمانخېل زموږ د دفتر پښتونستانی

---

[1] په حل کې ورته کښلي دي: "غرش" او "علي" تاریخي مادې دي چې له لومړۍ دویمې کمه کړئ د ډاکتر زیور د مړیني کال (۱۳۹۰) ښیي.

غړی وو.

لـه قـوي څخـه زړه پـرې کـړه
او پـه پښو ئې کـړه ورپـورې
مې بې پايه باندې تـوی کـړه
د اشـــنامخ بـــه وګـــورې

حل:

د (قوي) زړه (واو) دئ، چي ځني پرې سي، (قي) پاتېږي. د دغي کلمې له پښو سره چي (واو) پوري سي، (قيو) لاس ته راځي. له بې پايه (مې) څخه مراد (م) دئ، چي له (قيو) سره يو ځای سي، قيوم کېږي.

***

د علامه حبيبي د وفات نېټه:

ښايي دا چي ويې بولم د "غـم قرن"
"دا حبيب "چي ځني ولاړی حقيقي

حل:

په وروستي بيت کي د (غم قرن) تاريخي ماده ده، چي ابجدي ارزښت ئې ۱۳۹۰ دئ. (دا حبيب) چي ځني ولاړ (کم) سي، ۱۳٦۳ پاتېږي. لوی استاد د ۱۳٦۳ ش کال د ثور مياشتي پر شلمه د چارشنبې په ورځ (۹ شعبان ۱۳۰۴ ق) چي د ۹ مې ۱۹۸۴ ع سره برابره ده، وفات سو او په دا سبا کې په شهدای صالحين کي په درناوۍ سره خاورو ته وسپارل سو. پر جنازه ئې زه حاضر وم.

ټوله مرثيه د۱۳٦۳ ش کال د کابل مجلې په دوهمه ګڼه کي، د استاد ياد په مجموعه کي او دغه راز تر ويلو شپاړس کاله وروسته په افغاني شمله نومې مجموعه کي چاپ سوې ده.

***

زما د پلار مرحوم د وفات نېټه:

دیارلس سوه شپږپنځوس وه له هجرت څخه او ښتي
په شمسي حساب یې ټول کړ د خپل عمر پاک دفتر
څه بې مهره دنیاګۍ ده څه ظالم خونخور فلک دئ
چې نیازمن وه ټوله ولاړ ل د مرګي په لوی سفر
سرښته د دنیادا ده چې مرګی به خامخاوي
مړه یې مه بولئ ژوندي دي که په ښه نوم وو نامور
د (معصوم) دا یو څو اوښکي د بابا روح ته هدیه سوې
مغفرت دې وي په برخه په جنت کي یې مقر

زما پلار ارواښاد حاجي محمود هوتک د ۱۳۵٦ ش کال د اسد پر ۲۲ په کندهار کي وفات سو او پخپله پلرنۍ هدیره کي ښخ دئ.

***

د مهاجرت په نامه معما:

په قُرعه چي مي ختلې پردېسي ده
له ژوندونه مزه تللې ده، خواري ده
په پاخه کاڼي مي تول مهاجرت کړ
"لو بې پایه و اوږده سرګرداني ده"

(سرامني اوښکي: ۱۰۵مخ)

د "مهاجرت" او " لو بې پایه و اوږده سر ګرداني ده" ابجدي ارزښتونه سره یو شی دي او (۶۴۹) کېږي.

***

د ارواښاد پوهاند رښتین د وفات نېټه:

یو لوی ویر مو و کور ته له ناورینه سره ولاړ
محفل د پښتو ژبې له رشتینه سره ولاړ

....

خاطر مي لټاوه تاريخ (آهونه و درونـد غـم) سـو
چــي قـــصر د ادب لـــه شـــاه نـــشينه ســره ولاړ

حل:

په مقطع کي (آهونه و دروند غم) تاريخي ماده ده چي ابجدي ارزښت ئې ۱۳۷۷ کېږي. پوهاند صديق الله رشتين په ۱۳۷۷ش کال (جمعه ۲۸ نومبر ۱۹۹۸ع) وفات سو. خدای دې وبخښي.

ټوله ويرنه په هغه مجموعه کي چاپ سوې ده چي په ټورنټو کي د روښان خادم له خوا د ارواښاد رښتين د مړيني په مناسبت خپره سوې وه.

***

د عبدالاحدخان کرزي د شهادت نېټه:

لټـاوه مــې وخــت د مړينــي دا جملــه مــي پــر زړه راغلــه
"د شهيدو " له "کاروان "سره سو مـل " عبدالاحدخان "

حل: وروستۍ مصرع تاريخي ماده ده. په قوسينوکي د داخلو کلماتو ابجدي ارزښت ۱۳۷۸ کېږي، چي په شمسي حساب د ارواښاد شهيد عبدالاحدخان کرزي د شهادت کال دئ. په دې ډول:

د شهيدو	**= ۳۲۹**
کاروان	**= ۲۷۸**
عبدالاحدخان	**= ۷۷۱**
ټول	**= ۱۳۷۸ش**

***

زما د ماما ارواښاد محمدمحسن د وفات قطعه:

غيــرت دوه واري ســر ټيــټ کــړ
د محـــسن د مـــرګ پـــر کـــال
همـــت ووې، چـــي يـــو کـــم دئ
دا د ده پـــــر حـــــسب حـــــال

حل:

د (غيرت) سر (غ) دئ ، چي ابجدي ارزښت ئې ۱۰۰۰ کېږي. دوه واره چي سي، نو ۲۰۰۰ ځني جوړېږي او چي يو ځني کم سي نو ۱۹۹۹ پاتېږي او دا د اروابناد محمد محسن د مړيني کال دئ.

په شعر کي د اروابناد متوفی د غيرت ستاينه سوې ده او شاعر د (همت) په ژبه وايي، چي دوه واره سر ټيټېده لږ دي، يو وار بل هم بايد ټيټ سي. خو په دې افاده کي ئې د معما په حساب د متوفی د مړيني تاريخي ماده هم جوړه کړې ده.

* * *

د اروابناد مدير صاحب غلام جيلاني الکوزي د وفات قطعه:

غم، اندوه، وير او ندبه سره يو ځای سول
د مدير جيلاني خان د مرګ په کال
عقل ووې د کال زړه هم دوه وار ډوب سو
نو د شک راپاته نسو هيڅ مجال

حل:

غم (۱۰۴۰) + اندوه (٦٦) +وير (۲۱٦) + ندبه (٦١) = ۱۳۸۳

د کال زړه (الف) دوه واره = ۱ + ۱ = ۲.

د تخرجې عمليه بايد د (ډوب) کلمې په قرينه اجراء سي. په دې ډول: ۱۳۸۳ – ۲ = ۱۳۸۱

د اروابناد جيلاني خان د مړيني نېټه:

۱۹ جون ۲۰۰۲ ع = ۲۹ جوزا ۱۳۸۱ ش

* * *

زما د استاد او محترم اکا حاجي عبدالمجيد هوتک د وفات نېټه:

لتهاوه مې د مرګ کال ورپسې ورک وم
عقل و زړه فکر و سوچ مي کړل توظيف

ویـل پـر (بـام) د جنت شخول د هر کلي سـو
چــي (حــافظِ قــرآن) وروړلـــی تــشریف

حل:

بام = ۴۳
حافظ قرآن = ۱۳۴۰
۱۳۸۳ ش

حاجي عبدالمجیدهوتک د ۱۳۸۳ ش کال د حمل پر ۱۹ مه = د اپریل اوومه ۲۰۰۴ع د کراچي په ښار کي وفات او په دا سبا ئې په کندهار کي پخپله پلرنۍ هدیره کي ښخ سو.

***

د علامه رشاد رحمة الله علیه د وفات تاریخي قطعه:

نـــن پـــر تهـــول قلمـــستان دئ د اســـتاد غـــم
پـــر قیتـــول و پـــر خیبـــر و پـــر شمـــشاد غـــم
مجـال نـه راکـاوه اوښـکو، چـي یـې وکـښم
ورځ و کـال، میاشت و سـاعت د دې نـامراد غـم
غمـشریک راسـره عقـل سـو، وې لیکــه!
پــه تــاریخ کــي د دې غـم، چــي دئ هفتــاد غــم
قــوم، ولــس، یــاران بــې سره افغـان شـوټ سـو
چــي نــازل سـو پـرې ناڅاپــه (د رشــاد غــم)

حل:

تاریخي ماده = (د رشاد غم) = ۱۵۴۹

د قوم، ولس، یاران (سر) او د افغان (پښې) = ق + و + ی + ن = ۱۰۰ + ٦ +۱۰ + ۵۰ = ۱٦٦

د (بې سره) او (شوټ) کلمات د تخرجې عملیې له پاره قرینې دي او

د دې قرينو پر بنسټ بايد له تاريخي مادې څخه (١٦٦) منفي سي. په دې ډول: ۱۵۶۴–١٦٦ = ۱۳۸۳.

علامه رشاد رحمة الله عليه د ۱۳۸۳ ش کال د لېندۍ د مياشتي پر يوولسمه د ۸۳ کالو په عمر وفات سو. خدای دي د ده جنتونه په برخه کړي او د ده د لاري پيروان دي خدای ډېر لري (آمين).

٭٭٭

د ميرزا عبدالودود هوتک د مړيني قطعه

چي مرګی سو د عبدالودود مقدور
کور و کلی راته سو د غم تنور
د وفات تاريخ مي وپوښتی له ذهنه
راته وې ويله لفظ د ئ د (مغفور)

حل:

د "مغفور" ابجدي ارزښت ١٣٢٦ کېږي او دا په شمسي حساب د ميرزا عبدالودود هوتک د مړيني کال دئ. د وفات تاريخي ماده د ارواښاد حاجي عبدالمجيدهوتک استخراج دئ، چي ما د نظم په قالب کي راووست.

٭٭٭

د پوهندوی نوراحمد شاکر د وفات نېټه:

يا خو زما قلم پيدا دئ ژړېدو ته
يا اسمان دئ خښنمېدلی پښتنو ته
....
کندهار راته نهار کړلی غمونو
"پوهندوی شاکر" شامل سو "مرثيو" ته

حل:

د ابجد په حساب د وروستي بيت حل داسي دئ: له (کندهار) څخه

چي (نهار) جوړ سي، ک + د = ۲۰ + ۴ = ۲۴ پاتېږي. دا قيمت چي د (پوهندوی شاکر = ۶۰۴) او (مرثيو = ۷۵۶) له قيمتو سره جمع سي، يو زر و درې سوه څلور اتيا کېږي. اروابناد پوهندوی نوراحمد شاکر د ۱۳۸۴ ه ش کال د مرغومي په ۲۲ مه د پنجشنبې په ورځ = ۱۲ جنوري ۲۰۰۶ ع نېټه د کاناډا په ټورنټو کي مړ سو او په ۱۴ جنوري ۲۰۰۶ ع نېټه د افغانانو په هديره کي ښخ سو. خدای دې وبخښي.

***

زما د محترم اکا اروابناد عبدالهادي ريشا د وفات نېټه:

پيدا په شپه و د اختر فنا په شپه د اختر
ول، رالېږئ يې! دا ناره له جنتو وخته
د مرګ و کال ته مې کچکول د هنر وګرزاوه
په صد قاتو يې پَکَه درَنه د ښو وخته
"قلم" خپل سر وروباخښه "محبت" تاج کړ هديه
د مرګ نېټه يې "غم"، "ژړا" په ابجدو وخته

حل:

غم = ۱۰۴۰ + ژړا=۲۰۸ + ق=۱۰۰ + م = ۴۰ = ۱۳۸۸ ش.

***

زما د مشر ماما نوراحمد صالحي د وفات قطعه:

دا چي پروت په دغه ګور کي دا ګړی دئ
د هر چا له خولې اورم چي نېک سړی دئ
"قطع" يې مه شمېرئ په مړو کي حساب نه دئ
"نوراحمد نوراغا" تل تر تل ژوندی دئ

حل:

نوراحمد نوراغا = ۱۵۶۷

قطع = ۱۷۹

د "قطع" کلمه د تخرجې له پاره د قرینې کار هم ورکوي.

۱۵۶۷ – ۱۷۹ = ۱۳۸۸

نوراغا په ۱۳۸۸ ش = ۲۰۱۰ع کال وفات سو.

* * *

د ویښ زلمیانو د خوځښت د غړي ارواښاد الحاج غلام محی الدین خان زرملوال د وفات نېټه:

په دې څو اوښکو یې حق نه ادا کېږي
بویه دا چې (زرملوال) یاد سي بې شماره
د وطن میني ورکش کړ خپلي غېږ ته
ویښ زلمی وو، سو بیده پر خپله خاوره
د یارلس سوه نه اتیا یې د مرگ کال وو
په لمریز حساب سوه دا سانده تیاره

۱۳۸۹ش

* * *

زما د محترمي مور د وفات نېټه:

یوه دوه کې کم وه د وفات پر وخت ئې هر څه لرل
"افتخارونه ازلي" زمور د ادا برخه سوه

تاریخي ماده "افتخارونه ازلي" ده = ۱۳۹۱

دوه چې ځني کم سي، ۱۳۸۹ پاتېږي. زما مرحومه و مغفوره مور حجانۍ بي بي حلیمه، چې مور په کور کي (ادا) بلله، د ۱۳۸۹ ش کال د قوس پر ۲۸مه = ۱۹ دسمبر ۲۰۱۰ع کال د یکشنبې په ورځ د سهار پر څلورو بجو و لسو دقیقو په کندهارکي وفات او پخپله پلرنۍ هدیره کي ښخه سوه.

تولدئې د ۱۳۴۴هـ ق کال د روژې پر یوولسمه د یکشنبې په ورځ په کندهارکي پېښن سوی دئ. دغه نېټه د مولوي صالح محمدهوتک پخپل قلم لیکل سوې ده.

✶✶✶

د دې کتاب د بشپړېدلو تاریخ:

پــه شـل ورځـو کـي ســو دغــه کتـاب تـم
شـــــپه و ورځ وم و لیکلــــــو تــــــې اړم
په "اتمام" کي مي ئې "دوه قلمه" صرف کړل
پــر آخــر مــي "سـرپوښ" کښېـښاوه ســمدم
مات و گوډ، زیات و کمبوت به پکښې ډېر وي
پردېـسي ده، لاس مـي تـش دئ، نـه یـم گـرم
کــه د ژونـد پـر مېنــه ومــه، رنځــور نــه وم
کمبـوتي ـ بـې بـل وخـت کـړم ورسـره ضـم
مــا "سـپېڅلي" پــر کتــاب دئ زړه بــایللی
پــر دنیــا بانــدي بــل نــه لــرم صــنم

حل: (اتمام = ۴۸۲) + (قلم = ۱۷۰) + (قلم = ۱۷۰) + (سرپوښ = ۵۶۸) = ۱۳۹۰هـ ش.

(سپېڅلی) زما د نامه ترجمه ده.

✶✶✶

د بیلومبي بخوله (۱۱مارچ ۲۰۱۲)

مظلوم زنگاوات

د قــرآن د ســونگ لمبــې لا ســړې نــه دي
چــي اورشــو د پنجــوایي مــو کــربلا ســوه
پــه خــوا ږه خــوب ول بیــده شــپاړس ســرونه
د وحــشي امریکــایي پــه لاس فنــا ســوه

۲۰۵

د "مظلوم زنګاوات" توري ئې تاريخ دئ
درې بږغونه د قيامت که ترې جلا سوه

حل:

(مظلوم زنګاوات = ۱۵۰۱) – (قيا = ۱۱۱) = ۱۳۹۰ ش.

(بږغ) د توري په معنا دئ. د قيامت له درې بږغه څخه مراد (ق، ى، ا= قيا) دئ.

د ۱۳۹۰ش کال د حوت پر ۲۱مه = ۲۰۱۲ع کال د مارچ پر ۱۱ مه د يکشنبې په ورځ د سهار پر درو بجو يوه وحشي امريکايي افسر د کندهار د پنجوايي اولسوالۍ د زنګاوات په سيمه کي درو څنګ پر څنګ کوچنيو کليو ته ورغلی او شپاړس تنه په خوب بيده کوچنيان، ښځي او نارينه ئې ووژل او پر مړو ئې اورونه بل کړل. امريکايي افسر بير ته خپلي قرارګاه ته ولاړ او هورې ئې ځان خپلو نورو افسرانو ته تسليم کړ. دا غمجنه بخوله د نړۍ د زياترو هيوادو مشرانو د وحشت او جنايت په نامه وبلله او ما ئې د واقعې ثبت په پورتنۍ قطعه کي وکړ. دا واقعه د زنګاوات د بيلومبي کلي ته نزدې پېښه سوه. (م. هوتک اوشاوا، انټاريو، کاناډا د مارچ ۱۲مه ۲۰۱۲ع کال).

د ليکوال چاپ او ناچاپ آثار

چاپ سوي اثار :

۱. سرمني او ښکي – شعري مجموعه – ۱۳٦۹ل = ۱۹۹۰ع، کراچي.
۲. پاشلي ويناوي – د مولوي صالح محمد هوتک – سريزه او حاشيې – ۱۳٦۹ ل = ۱۹۹۰ع، کراچي.
۳. د ميرزا حنان بارکزي ديوان – سريزه، سمون او لغتنامه او خطاطي – ۱۳۷۰ل = ۱۹۹۱ع، کراچي.
۴. پوخ کاڼی – پټه خزانه يو واقعيت دئ – ۱۳۷۵ل = ۱۹۹٦ع، ټورنټو.
۵. احمدشاهي کندهار – لومړی ټوک، ۱۳۷۵ل = ۱۹۹٦ع، ټورنټو.
٦. ميرزا عبدالودود هوتک – ۱۳۷۷ل = ۱۹۹۸ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۷. پښتني قبيلې او روايتي شجرې – ۱۳۷۹ ش = ۲۰۰۰ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۸. ښکار او کندهار – ۱۳۸۲ل = ۲۰۰۳ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۹. درنه کورنۍ (د علامه حبيب الله کندهاري کورنۍ) ۱۳۸۳ل = ۲۰۰۳ ع، د علامه حبيبي د څېړنو مرکز.
۱۰. د پولادي امير تر سيوري لاندي، د فرانک مارتين ليکنه، پښتو ژباړه، ۱۳۸۳ل – د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۱۱. بحرالعلوم د دوست محمد خټک – لومړی ټوک، (سريزه، سمون او حواشي) ۱۳۸۳ل = ۲۰۰۴ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۱۲. روڼي شپې – شعري مجموعه – ۱۳۸۴ش = ۲۰۰۵ع، صحاف نشراتي مؤسسه.
۱۳. سل بګړۍ يو پوړنی – د هوتکو ملي، روحاني، علمي ادبي او ټولنيزي څېړې – ۱۳۸۴ د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.
۱۴. شين سترګي مستخدمين په افغانستان کي. څو قسطه په ګوربت مجله کي. په کتابي بڼه ۱۳۸۵ل، صحاف نشراتي مؤسسه.

۱۵. احمدشاهي کندهار – دوهم ټوک، ۱۳۸۴ ل = ۲۰۰۵ ع، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/کندهار.

۱٦. د علامه رشاد د کندهار یاداښتونه، (ترتیب، سمون او لمنلیکونه) ۱۳۸٦ ل = ۲۰۰۷ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.

۱۷. د عبدالروف بېنوا میرویس نیکه، (سریزه او لمنلیکونه) چاپ: ۱۳۸۴ ل = ۲۰۰۵ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.

۱۸. پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه، ۱۳۸۵ ل = ۲۰۰٦ ع، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/کندهار.

۱۹. د سید جمال الدین افغان تتمة البیان فی تاریخ افغان، د پښتو ژباړې (د محمد رفیق حبیبي په قلم) ترتیب، سمون او لمنلیکونه – ۱۳۸۵ ل = ۲۰۰٦ ع، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني.

۲۰. کندهاري ورونه (کندهاري سرداران)، ۱۳۸۷ش = ۲۰۰۹ع، علامه رشادخپرندویه ټولنه/کندهار.

۲۱. پښتو! ستا میني بوداپیست ته بوتلم، ۱۳۸۷ش = ۲۰۰۸ع، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/کندهار.

۲۲. احمدشاهي شهنامه، د متن سمونه، سریزه او لمنلیکونه – پېژندنه او تعلیقات د علامه رشاد، ۱۳۸۷ش = ۲۰۰۸ع، علامه رشاد اکاډیمي، کندهار.

۲۳. د شمس الدین کاکړ دېوان، سریزه او لغتنامه، ۱۳۸۸ش = ۲۰۰۹ع، صحاف نشراتي مؤسسه.

۲۴. د میرزاحنان بارکزي دېوان (بشپړکلام)، سریزه، سمون او لغتنامه، ۱۳۸۸ش = ۲۰۰۹ع، صحاف نشراتي مؤسسه.

۲۵. د لوی احمدشاه بابا دېوان (مشهور په دېوان هرا)، ترتیب او مقابله، ۱۳۸۸ش = ۲۰۰۹ع، صحاف نشراتي مؤسسه.

۲٦. له (Erinn Banting) کاناډايي مېرمنې سره د (Afghanistan) نومي کتاب په لیکلو کې مرسته او همکاري، (Crabtree Publishing Co)، کاناډا، ۲۰۰۳ع. دا کتاب په دریو برخو (Culture, Land, People) کې خپور سو، خو پر مطالبو باندې یې په ملګروملتو کې د افغانستان د هماغه وخت استازي مشورو تر دې اندازې پوري سیوری واچاوه، چې د لوی احمدشاه

بابا عکس لا هم پکښې چاپ نه سو او کتاب زما (هوتک) د مشورو اولارښوونو پر خلاف چاپ سو.

۲۷. ادیب شیخ، ۱۳۸۸ل، د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست
۲۸. کچکول (د مقالو لومړۍ برخه)، ۱۳۸۹ل، د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست
۲۹. کچکول (د مقالو دوهمه برخه)، ۱۳۸۹ل، د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست
۳۰. له کندهاره تر اټکه، ۱۳۸۹ل، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/کندهار
۳۱. د مخلص کندهاري د کلام لغوي زېرمه
۳۲. د علامه رشاد جغرافیایي یادښتونه – سریزه، ترتیب او کمپوز.
۳۳. پښتو متون سمېدل غواړي (لومړی ټوک)، ۱۳۹۰ل، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/کندهار
۳۴. د ناوې دانشور، د کندهار منور، د زنګاوات مخور، ۱۳۹۱ل، علامه رشاد خپرندویه ټولنه/کندهار
۳۵. تعمیې او تاریخي مادې په پښتو ادب کې (همدغه اثر)

ناچاپ اثار :

۱. د هوتکو نومیالي (دوهم ټوک).
۲. د بې ادبه ادب څېړنه.
۳. پرتلیز کلیز (پرتلیزه کالینداره)، د هجري قمري او عیسوي سنو اړونه او رااړونه.
۴. د غره او د وره (ژوند پېښې).
۵. کچکول، د مقالو مجموعه – ۶ ټوکه.
۶. د افغانستان انتالوجي (۱۰۰۰ مخه) ټایپ سوې نسخه یې د بیهقي کتاب چاپولو په مؤسسه کې خوندي وه. اوس یې حال نه لرم.